بسم الله الرحمن الرحيم



د پیغمبر په پلونو

Ketabton.com

لیکوال

دوکتور ادهم شرقاوي

ژباړن

اجمل هېوادمل

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پیغمبر په پلونو

لیکوال
دوکتور ادهم شرقاوي

ژباړن
اجمل هېوادمل

ketabton.com - The Digital Library

فهرست

۱ طلحه (رض) واجب کړ! (جنت يې واجب کړ):.....7
۲ زمور د ګناهونو پاکوونکي ته ښه راغلاست!.....8
۳ که حيا دې نه درلوده، نو بيا چې څه دې زړه غواړي هغه کوه!.....9
۴ پاڅېره او خبر يې کړه!.....11
۵ ورته دې ډېر ورکړل!.....12
۶ که څه هم د خرما يوه ټوټه وي!.....13
۷ له ما وروسته ستاسو غوره کس هغه دی، چې زما له کورنۍ سره نېکي کوي:.....14
۸ د غار درې ملګري:.....16
۹ ما د خپل زوی مړينه غوښتله!.....17
۱۰ خو دا چې نفل وکړې:.....19
۱۱ له بدګمانۍ څخه ځان وساتئ!.....21
۱۲ د ابراهيم بن ادهم او د هغه د ملګرې کيسه:.....21
۱۳ نرمي چې په هر څه کې وي، ښکلا وربښي:.....22
۱۴ هغه د دوزخ له اوسېدونکو څخه دی:.....24
۱۵ مصيبت د الله د قهر نښه نده:.....25
۱۶ الله به وګورې چې زه څه کوم!.....27
۱۷ همدا درته بس ده:.....28
۱۸ د شهيدانو سردار حمزه (رض):.....30
۱۹ د فُضيل توبه:.....31
۲۰ د حنظله کيسه:.....33
۲۱ پرته له هغو چې په ښکاره ګناه کوي (مجاهرين):.....34
۲۲ هغه په جنت فردوس کې ده:.....35
۲۳ دی د جنت له اوسېدونکو څخه دی:.....36
۲۴ زما او ستا رب الله دی:.....37
۲۵ تاسو څه خبر ياست:.....39
۲۶ زما غداري او بدکاري هم؟!.....40
۲۷ خلکو ته د هغوی د مقام مطابق ځای ورکړئ:.....41
۲۸ مګر د خپلو ضعيفانو په برکت:.....42
۲۹ ای الله! ام سلمة ته مېړه ور نصيب کړه:.....43
۳۰ ايا واده دې کړی؟.....44

ketabton.com - The Digital Library

۳۱ د هغه پر خلاف د شیطان مرسته مه کوئ..... 46
۳۲ وبرېدم چې په زړونو کې مو بدګماني پیدا نه شي..... 47
۳۳ نو زېری دې وي پر "غرباوو" (مسکینانو)!..... 50
۳۴ ترڅو خلک خبرې ونه کړي!..... 51
۳۵ هغه د دورخ له خاوندانو څخه دی!..... 52
۳۶ بې شکه چې په بیان کې جادو وي!..... 53
۳۷ هغه څوک چې پر الله قسم خوري (چې نېکي به نه کوي) چیرته دی؟!..... 55
۳۸ او ته اې عمره! د نوح په څېر یې..... 56
۳۹ الهام شوي کسان (مُحدثون):..... 57
۴۰ اې الله! ما د هغه په څېر مه ګرځوې:..... 59
۴۱ اې ربه! د قیامت په ورځ زما ګناهونه وبښې:..... 60
۴۲ الله یوازې پر هغو بندګانو رحم کوي چې رحم کوونکي وي:..... 62
۴۳ ترڅو چې عدل یې خلاص کړي!..... 63
۴۴ او هغه سړی چې داسې صدقه ورکړي چې پټه یې وساتي!..... 64
۴۵ په رښتیا چې په تاسو کې ځینې نفرت خپروونکي دي!..... 66
۴۶ پر الله باندې د بندګانو حق!..... 67
۴۷ کوم انسان غوره دی؟..... 68
۴۸ پخوانۍ اړیکې او دوستۍ پالل له ایمان څخه دي!..... 69
۴۹ د سعد ښیرا راباندې ولګېده!..... 70
۵۰ په خدای قسم چې یوازې دې نه پرېږدم!..... 71
۵۱ هر هغه څوک چې (بنده) ازاد کړي!..... 73
۵۲ زما له بنده څخه تېر شئ!..... 74
۵۳ صالح مال څومره ښه دی!..... 75
۵۴ ټول بدن ورسره درد کوي!..... 76
۵۵ د مکې کوم اوسېدونکی ډېر خبر لوڅی دي؟..... 77
۵۶ ایا زیری ور نه کړم؟!..... 79
۵۷ ابو خیثمه!..... 80
۵۸ د قوم مشر د هغوی خدمتګار وي:..... 81
۵۹ ایا کوم پیغام لرې؟!..... 82
۶۰ څوک چې پر یوه لاره روان شي!..... 84
۶۱ آدم پر موسی غالب شو!..... 85
۶۲ د هغو سترګو بخت ته سلام!..... 86

ketabton.com - The Digital Library

۶۳ ما له خپلو ترونو سره په یو تړون کې ګډون کړی و..... 87
۶۴ الله ستا دا خبره نه ده هېره کړې!..... 89
۶۵ ډیر وخت راسره وه!..... 90
۶۶ ادب د الله له لورې دی!..... 92
۶۷ هغه روژه ومونډله!..... 93
۶۸ ملګریه، روژه راغله!..... 94
۶۹ هغه چا ته یې ورکړه چې تر ما غریب وې!..... 96
۷۰ ترڅو چې شیطان ذلیل او مات شي!..... 97
۷۱ د مظلوم له ښېرا ځان وساته!..... 98
۷۲ جابر ته وخت ورکړه!..... 100
۷۳ د سړي لپاره همدغه ګناه بس ده!..... 101
۷۴ نه، ای عایشې!..... 102
۷۵ یوازې هغه څه چې د هغه (الله) لپاره خالص وې!..... 103
۷۶ زمور لپاره اخرت دی!..... 105
۷۷ زه اودس سم نه شم کولی!..... 106
۷۸ آیا تاسو خپل ماشومان ښکلوئ؟!..... 108
۷۹ الله خپله وعده نه ماتوي!..... 109
۸۰ د مرغانو د زړونو په څېر!..... 110
۸۱ مور د هغوی عهد پوره کوو!..... 112
۸۲ زه مجبور یم چې (داسې څه) ووایم!..... 113
۸۳ نو غمونه به دې ختم شي!..... 114
۸۴ او د هغوی له غوره مالونو ځان وساته!..... 116
۸۵ هغه (کمبله) دا ده لپاره اور شوله!..... 117
۸۶ هیله لرم چې ته به له هغو څخه یې!..... 118
۸۷ د غشو له څوکو سره پام کوه!..... 119
۸۸ هغه سختي لا هم په مور کې پاتې ده!..... 120
۸۹ نو الله ترې مننه وکړه (عمل یې قبول کړ)!..... 122
۹۰ اې سواده، برابر شه!..... 123
۹۱ ترڅو چې د بدلمنو ښځو مخونو ته ونه ګورې!..... 124
۹۲ نو د هغه د مونډلو لپاره تم شو!..... 126
۹۳ پر الله قسم، زه به درته ښېنه وغواړم!..... 127
۹۴ که چېرې دا ستا په کور کې وای!..... 128

ketabton.com - The Digital Library

۹۵ ستاسو لوړې ته به اُویس بن عامر راشي!.....129
۹۶ لکه څنګه چې ونه خپلې پاڼې رژوي!.....131
۹۷ ما خو پر تا ځمکه او هغه څه چې په کې دي، ټول مې دربانديِ پلورلي دي!.....132
۹۸ نو خلکو ته دې له ضرر رسولو لاس واخلي!.....134
۹۹ ښکه الله تعالی لوړ او غوره کارونه خوښوي!.....135
۱۰۰ هغه څوک چې پرون يې ابرأ کړې وه، چېرته دی؟!.....136
۱۰۱ چا چې د يوې لوښتې په اندازه ځمکه په ظلم ونيوله!.....138
۱۰۲ زه تر تاسو په موسی (ع) زيات حقدار يم!.....139
۱۰۳ نېکي يې خوښ، بدي يې خفه کړې:.....140
۱۰۴ څوک دی چې خپل ځان پر موړ وپلوړي؟.....142
۱۰۵ تر هغه چې بيړه ونه کړې!.....143
۱۰۶ نو له هغې ورځې دا خوشبويي له ما سره پاتې شوه!.....144
۱۰۷ ستا لپاره به يوه کوټه جوړه کړو!.....145
۱۰۸ دی به د قيامت په ورځ د «لبيک» په حال کې راپورته کيږي!.....147
۱۰۹ پټه نېکیِ (خبيئة)!.....148

ketabton.com - The Digital Library

۱ طلحه (رض) واجب کړ! (جنت یې واجب کړ):

د قریشو لپاره د احد غزا یوازې له مسلمانانو سره دویمه جګړه نه وه، بلکې دا د غچ اخیستلو معرکه وه. عظیم اسلام د هغوی کبر او غرور د بدر په ځاګانو کې په خاورو لړلی و او د هغوی مشران یې د صحرا په شګو مړه پرېښي وو؛ له همدې امله هغوی له خپل ټول پوځ او وسلو سره د غچ اخیستلو لپاره راغلل!

د مسلمانانو په لښکر کې هم د جګړې لپاره پوره چمتووالی روان و. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې لپاره چې مور ته د "اسبابو د غوره کولو" کلتور راوښيي، یو نه، بلکې دوه زغرې اغوستې وې؛ ترڅو وښيي چې د دعوت خاوند باید لومړی کس وي چې له خپلې عقیدې دفاع وکړي. حمزه (رض) چې د درستیزوالی مشر و، خپل ځای ونیو او تر شا یې د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره خلک ولاړ وو. پر غره باندې نښه ویشتونکې (رماة) د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په پرېکنده امر ودرېدل چې: "له خپلو ځایونو مه ښوځئ! که مو ولیدل چې مور بریالي شو، له مور سره مه ملګرې کېږئ، او که مو ولیدل چې ماتې مو وخوړه، زمور مرستې ته مه راځئ!"

جګړه پیل شوه... قریشو ډېر ژر ماتې وخوړه او تښتې ته یې مخه کړه. په دې وخت کې نښه ویشتونکو د نبي صلی الله علیه وسلم له امر څخه سرغړونه وکړه او له غره راکوز شول. خالد بن ولید له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه، د غره له شا راوګرځېد او د مسلمانانو بریا یې په ماتې بدله کړه!

مسلمانان غره ته په شا شول ترڅو قریش ورپسې نه شي. په دې نښته کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک سر مات شو او مخکښ غاښونه یې شهیدان شول. هغه صلی الله علیه وسلم له خپل مبارک مخ څخه وینه پاکوله او فرمایل یې: "هغه قوم به څنګه بختور شي چې د خپل پېغمبر سر ماتوي!"

غره ته نږدې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې یوې ډبرې ته پورته شي، خو د دوو زغرو د دروندوالي او د بدن د ټپونو له امله یې نشو کولی. په دې وخت کې طلحه بن عبیدالله (رض) ورته ټیټ شو او خپل بدن یې د زینې (درجې) په څېر کړ ترڅو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورباندې پورته شي. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ډبرې ته ورسېد، ویې فرمایل: **"أوجب طلحة!"** یعنې طلحه پر ځان جنت واجب کړ!

طلحه ځکه جنت واجب کړ چې خپل ځان یې د دې دین د لوړوالي لپاره زینه کړه. خو د وجوب دا دروازه لا هم خلاصه ده؛ مور لا هم کولی شو ځانونه تر طلحه پورې ورسوو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم نن په جسمي توګه زمور ترمنځ نشته چې خپلې اوږې ورته ټیټې کړو، خو د هغه دین، شریعت او سنت زمور ترمنځ شته. هر څوک چې دا دین پر خپلو اوږو بار کړي او د هغې د لوړوالي هڅه وکړي، هغه په حقیقت کې طلحه درک کړی او جنت یې واجب کړی دی!

- **اې مجاهده!** چې خپل سر دې په لاس کې نیولی ترڅو د "لا اله الا الله" کلمه لوړه کړې، تا (جنت) واجب کړ!
- **اې داعیې!** چې د حق خبره کوې او د الله په لاره کې له هیڅ ملامتونکي نه وېرېږې او خلک د الله لورې ته رابولې، تا واجب کړ!
- **اې هغې نجلۍ!** چې د حجاب او عفت په اړه دې د نبي صلی الله علیه وسلم امر ومانه ترڅو اسلام خپل لومړنۍ عزت ته وګرځي، تا واجب کړ!

ketabton.com - The Digital Library

- **اې ځوانه!** چې بې لارې رسنۍ دې له خپل دین څخه اړوي خو ته ورته وایې "زه له الله څخه وېرېږم" او د ذکر او حفظ حلقې ابادوي، تا واجب کړ!
- **اې پلاره!** چې خپلو اولادونو ته په اووه کلنۍ کې د لمانځه امر کوې او له ماشومتوبه یې پر روژه روږدي کوې، تا واجب کړ!
- **اې ښوونکیه!** چې په خپلو زده کوونکو کې د ابوبکر او عمر په څېر شخصیتونه لټوې، تا واجب کړ!

اې انساني ډاکټره، اې رښتیني نجاره، اې امانتدار مامورہ، اې نېکمرغه زویه، اې صالح ګاونډیه، اې مهربانه وروره او اې وفاداره مېرمنې... تاسو ټولو ان شاء الله جنت واجب کړ!

نو کله چې دنیا درباندې تنګه شوه او ستاسو له اخلاقو او دین سره یې لوبې کولې، یاد ساتئ چې طلحه ته جنت ځکه واجب شو چې هغه د دې دین لپاره زینه شو. تصور وکړئ چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ستاسو نوم اخلي او فرمایي: **"فلانیه! تا جنت واجب کړ."**

۲ زمور د ګناهونو پاکوونکي ته ښه راغلاست!

عمر بن الخطاب (رض) به د رمضان هرکلی په دې جملې کاوه: **"زمور د ګناهونو پاکوونکي ته ښه راغلاست!"**

نو رمضان راغی، په داسې حال کې چې ته په ګناهونو او زخمونو لړلی یې؛ د خپل زړه سورې ترمیم کړه، د خپلې روح ماته ورغوه، او د خپل رب په دربار کې خپلې سپرلۍ راښکته کړه. ورته ووایه: یا الله! ستا هغه ګناهګار بنده بېرته تاته راغلی، چې له تا څخه لرېوالي بدبخته کړی و او فاصلو یې ملا ورماته کړې وه. یا الله! ته له ما پرته نور بې شمېره بندګان لرې، مګر زه له تا پرته بل رب نه لرم. ته زما عزت، زما لوری او زما د روح قبله یې؛ نو پر ما د عارفانو په څېر دروازې پرانیزه، ما په توبه کوونکو کې قبول کړه، په عبادت کوونکو کې مې ولیکه او د روژتیانو سره مې حشر کړه!

رمضان راغی:

هغه میاشت چې ستونې پکې تړې کېږي خو زړونه خړوبېږي، خبټې پکې خالي کېږي خو روحونه پکې ډکېږي، بدن پکې کمزوری کېږي خو ایمان پکې قوي کېږي!

نو اې زما ملګریه، خپل ایمان تازه کړه؛ ځکه الله تعالی زمور خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتیا نه لري، مګر هغه رمضان مور ته رالېږي ترڅو مو پاک کړي او له سره مو ومینځي چې د هغه د دربار لایق شو. نو پام کوه چې له رمضان څخه دې برخه یوازې لوړه او تنده نه وې!

رمضان کوم غذایي رژیم نه دی؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پل قدم اېښودل ستا د هوسایني ځای دی. ته چې د لارې له مشقتونو سترې شوی یې، خپل بار د الله په دربار کې راښکته کړه! ځکه ته له الله څخه یې، له الله سره یې او ببرته الله ته ورګرځېدونکی یې!

ketabton.com - The Digital Library

رمضان راغی:

که لوړې او تندې بې وسه کړې، نو په هغو خلکو ځان ته ډاډ ورکړه چې له لوړې سره سره يې توره په لاس وه، خپل سرونه يې په لاسونو کې نيولي وو او خپله وينه يې له الله سره سودا کړې وه ترڅو مور ته رمضان پاتې شي!

- **رمضان د بدر غزا ده؛** چېرته چې اسلام د لومړي ځل لپاره د قرآن د دفاع لپاره توره له تيکې وباسله.
- **رمضان د مکې فتح ده؛** هغه ښار چې په پای کې يې خپل هويت بېرته وموند او د توحيد پلازمېنه شو! کله چې وويل شول: "لاړ شئ، تاسو ازاد ياست" او بلال د کعبې بام ته وختلو او د "الله اکبر" غږ يې وکړ!
- **رمضان د قادسيې جګړه ده؛** سعد بن ابې وقاص او ابو محجن دي. او عمر (رض) پوښتنه کوي: جنګ څومره وخت دوام وکړ؟ ورته ويل کېږي: له سپېدې چاودو تر مازديګره. هغه وويل: سبحان الله! باطل د حق په وړاندې دومره ډېر مقاومت نه شي کولی، ښايي زما يا ستاسو د کومې ګناه له امله وي!
- **رمضان د بلاط الشهداء معرکه ده؛** او عبدالرحمن الغافقي چې له پاريس څخه ۷۰ کيلومتره لرې و او ويل يې: يا الله! زما له وينې دومره واخله چې ترڅو ته راضي شې!
- **رمضان د عمورې فتح ده؛** المعتصم او هغه لښکر چې يوازې د يوې ښځې د عزت لپاره په غوسه مارش شو؛ نو يا الله! زمور عزت بېرته راوګرځوې!
- **رمضان د عين جالوت جګړه ده؛** چېرته چې مجاهدينو په ځمکه روژه ونيوله او په جنت کې يې افطار وکړ!
- **رمضان د شقحب معرکه ده؛** ابن تيميه او ابن القيم د جګړې په لومړي صف کې دي؛ ځکه هلته نه قلم د وينې ځای نيولی شي او نه فقه د جهاد!

رمضان هغه غزا ده چې له رګونو حلاله شوې؛ هغه پر مور باندې د ابراهيم (ع) په څېر د اذان غږ کوي او د نوح (ع) په څېر ناره راکوي چې: "د جهاد په کښتۍ کې سپاره شئ!" مګر هيڅ ځواب ورکوونکی نشته. غزه يوازې ده چې دوه ستر عبادتونه يې سره يوځای کړي دي: **"پر تاسو روژه فرض شوې" او "پر تاسو قتال (جنګ) فرض شوی!"**

رمضان راغی:

دا د زړونو د تصفيې ماشين دی، نو خپل زړه پاک کړه. پام کوه چې له رمضان څخه په هغه زړه را ونه وځې په کوم چې ورننوتلی وې!

۳ که حيا دې نه درلوده، نو بيا چې څه دې زړه غواړي هغه کوه!

القعنبي په ځوانۍ کې يو بېلارې او په شرابو روږدی کس و. يوه ورځ د لارې پر سر ناست و او خپلو ملګرو ته يې انتظار کاوه چې شرابخانې ته لاړ شي. په دې کې يې يو سړی ولېد چې پر خره سپور و او ډېر خلک ورڅخه چاپېر وو، هر چا ورته په درنښت "ای امامه، ای امامه" ويل.

ketabton.com - The Digital Library

دې صحنې د قعنبي پام ځان ته واړاوه، د خلکو منځ ته ورننوت، د امام د خره جلب يې ونيو او ورته ويې ويل: "ته څوک يې؟"

هغه ورته وويل: "شُعبه بن الحجاج!" (شُعبه په حديثو کې د امير المؤمنين په لقب يادېده).

قعنبي وپوښتل: "شُعبه څوک دی؟"

خلکو ورته وويل: "مُحدث دی."

ده وويل: "مُحدث څه مانا؟"

ورته ويې ويل: "خلکو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديثونه بيانوي."

قعنبي ورته وويل: "ما ته هم يو حديث بيان کړه!"

شُعبه ورته وويل: منصور بن المعتمر له ربعي بن خراش او هغه له ابو مسعود البدري څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **«د پخوانيو پيغمبرانو له کلام څخه چې کومې خبرې خلکو ته رسېدلې، يوه يې دا ده: که حيا دې نه درلوده، نو بيا چې څه دې زړه غواړي هغه کوه!»**

قعنبي په دې پيغام پوه شو، کور ته لاړ، د شرابو لوښې يې مات کړل او په عبادت بوخت شو. بيا مدينې منورې ته لاړ او له امام مالک څخه يې "موطأ" په بشپړه توګه حفظ کړ، تر دې چې امام ذهبي د هغه په اړه ويلي: "قعنبي د موطأ تر ټولو ډاډمن (ثقه) راوي دی!"

کله چې يې له امام مالک څخه علم ترلاسه کړ، ويې غوښتل بېرته بصرې ته لاړ شي او له شُعبه بن الحجاج څخه حديثونه واوري، ځکه هغه يې ټول عمر هېر نه و. خو کله چې بصرې ته ورسېد، شُعبه وفات شوی و. نو له هغه څخه يې يوازې همدا يو حديث روايت کړ چې د ده د توبې لامل شوی و: **«که حيا دې نه درلوده، نو بيا چې څه دې زړه غواړي هغه کوه!»**

- چا تصور کاوه چې دا بې‌باکه او شرابخور ځوان به يوه ورځ د موطأ تر ټولو باورې راوي او د سترو امامانو (بخاري او مسلم) استاد شي؟
- چا تصور کاوه چې په جاهليت کې سختدريځی عمر بن الخطاب به د دې امت فاروق او د نړۍ تر ټولو عادل واکمن شي؟
- چا تصور کاوه چې عکرمه بن ابي جهل، چې د مکې په فتحه کې يې وينه مباح اعلان شوې وه، په يرموک کې به د مسلمانانو د لښکر د شيڼ اړخ د قوماندان په توګه شهيد شي؟
- چا تصور کاوه چې سهيل بن عمرو، چې په خپله ژبه يې اسلام ته ډېر زيان رسولی و او د حديبيې په سوله کې يې نبي صلى الله عليه وسلم ته ويلي وو: "د رسول الله کلمه پاکه کړه محمد بن عبدالله وليکه، که ما منله چې ته رسول يې نو جنګ به مې درسره نه کاوه!"؛ په پای کې به اسلام راوړی، د نبي صلى الله عليه وسلم له وفات وروسته به په مکه کې ولاړ وی او خلکو ته به وايي: "په الله قسم چې دا سړی نبي دی، پام کوئ چې په اسلام کې وروستي او په ارتداد کې لومړی نه شئ!" او بيا به د شام په فتحو کې شهيد شي؟

يوازې الله سبحانه و تعالى د هدايت واک لري، نو پر هيڅ چا باور مه بايلئ؛ ځکه د اسلام تاريخ ډېرو داسې کسانو په خپلو وينو ليکلی چې يو وخت يې په لاسونو کې د اسلام پر ضد توري وې!

ketabton.com - The Digital Library

۴ پاڅېږه او خبر يې کړه!

عبدالله بن عمر بن الخطاب (رض) فرمايي: زه له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ناست وم چې يو سړی راغی، سلام يې وکړ او ښېرته لاړ.

ما وويل: اې د الله رسوله! زه له دغه سړي سره مينه لرم.

هغه صلى الله عليه وسلم راته وويل: **آيا هغه دې خبر کړی دی؟**

ما وويل: نه.

ويې فرمايل: **پاڅېږه او خبر يې کړه!**

زه ورپسې ورغلم، سلام مې پرې واچاوه، اوږه مې يې ونيوله او ورته مې وويل: په الله قسم چې زه له تا سره د الله لپاره مينه لرم!

هغه راته وويل: زه هم له تا سره د الله لپاره مينه لرم.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم مورږ ته دا رابښي چې خپل ښکلي احساسات پټ نه کړو، بلکې څرګند يې کړو. تر هغه چې دا احساسات په حلاله دايره کې وي، نو د شرميدو هيڅ ځای نشته. ايا مينه د شرم خبره ده؟ برعکس، هغه کينه او بغض چې مورږ يې په جګړو کې په ښکاره کولو کې بېړه کوو، د شرم ځای دی او هغه بايد پټ کړای شي.

يو ځل عمرو بن العاص (رض) له نبي صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: اې د الله رسوله! ستا په نړۍ خلکو کې درسره څوک ډېره مينه لري؟

ويې فرمايل: **عائشه.**

بيا يې ترې وپوښتل: له سړيو څخه څوک؟

ويې فرمايل: **د هغې پلار!**

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې کې هيڅ عار او شرم ونه ليد چې ووايي له خپلې ميرمنې سره مينه لري.

کله چې ورباندې وحي نازله شوه او وېره او يخنۍ ورباندې راغله، خديجې (رض) ته يې پناه يوړه او د هغې په غېږ کې يې ځان خوندي کړ او ورته يې وويل: "ما پټ کړه (شړۍ راباندې واچوه)."

احساسات د انسانانو مقام نه راټيټوي،

ځينې ميړونه داسې انګيري چې که خپلې ميرمنې ته خپله مينه څرګنده کړي، دا به يې په ميړانه (رجوليت) کې کمی وي، يا به هغه پرې غالبه شي او سپک به يې وګڼي. مګر له دې څخه بله کومه لويه ميړانه شته چې سړی خپلې ميرمنې ته د خپلې مينې حال ووايي؟ او ايا ښځه له خپل زړه پرته په بل څه شي ترلاسه کيدلی شي؟

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه ځینې پلرونه داسې فکر کوي چې د پلاروالي تقاضا دا ده چې تل تندی تریو او سختګیر وي ترڅو هیبت یې پاتې شي، ګوندې که داسې نه وي نو اولادونه به یې سپک وګڼي. دا تریو تندی او سختګیري اولادونه داسې منظم ساتي لکه په نظامي اډه کې چې عسکر وي؛ خو کله چې کورونه د پوځي اډو په څېر شي، نو دا بې رحمه کورونه دي چې یوازې ظالمان او روانې ناروغان تري وځي.

نو په خپلو اولادونو او په ځانونو کې له الله څخه ووېرېږئ، مینه ښکاره کړئ، ژوندۍ یې وساتئ او خوند تــري واخلئ. خپل زړونه د خپلو تر تولو ښکلو احساساتو لپاره په هدیرو مه بدلوئ!

۵ ورته دې ډېر ورکړل!

د عمر بن الخطاب (رض) غلام، اسلم وایي: زه له عمر بن الخطاب سره بازار ته ووتم، یوه ځوانه ښځه ورپسې راغله او ویې ویل: "اې امیر المؤمنین!

مېړه مې مړ شوی او واړه بچي تري پاتې دي. په الله قسم چې هغوی دومره څه نه لري چې د یوه حیوان (پښه) پرې پخه کړي، نه کښت لري او نه څاروي؛ زه وېرېږم چې لوږه او قحطي به مې بچي وخوري. زه د خفاف بن ایماء الغفاري لور یم او پلار مې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره په حدیبیه کې ګډون کړی و!"

عمر (رض) ورته ودرېد او مخکې نه لاړ، ویې فرمایل: "دې نړدې نسب ته ښه راغلاست." بیا خپل کور ته لاړ، په هغــه اوښ چې په انګړ کې تړلی و، دوه لوی کڅوړې (بوجۍ) یې له خورو ډکې کړې او په منځ کې یې ورته نغدې پیسې او کالي هم کېښودل. بیا یې د اوښ مهار ښځې ته ورکړ او ویې فرمایل: "دا بوځه! دا به تر هغې ختم نه شي ترڅو چې الله درته یو خیر راوړي." هغې مهار واخیست او لاړه.

یو سړي وویل: "اې امیر المؤمنین! هغې ته دې ډېر څه ورکړل!"

عمر (رض) ورته وویل: "مور دې ستا په ویر کېږي! په الله قسم چې زه د دغې ښځې پلار او ورور وینم چې پخوا یې یو غټه کلا تر کلابندۍ لاندې نیولې وه او فتحه مو کړه، نن مور د هغوی د هغو هڅو او ونډې له برکته ګټه اخلو!"

بې له شکه دغې ښځې ته د نورو مسلمانانو په څېر له بیت المال څخه خپله برخه رسېده، ځکه عمر (رض) د وظیفو او مرستو لپاره یو ځانګړی دیوان (نظام) جوړ کړی و. خو دا چې دا ښځه کونډه وه، بې سرپرسته وه او مېړه یې ورته باغ یا مال نه و پرېښی، نو هغه عامه نفقه ورته بسنه نه کوله.

که په قانوني توګه وکتل شي، هغې ته له خپلې برخې زیات څه نه رسېدل او عمر (رض) په دې برخه کې پر ځان او خپلو اولادونو ډېر سختګیر و؛ مګر هغه د اخلاقو، وفا او سخاوت خاوند و. ځنګه به داسې نه و چې هغه د نبوت له هغې مدرسې فارغ شوی و چې سردار صلی الله علیه وسلم پکې فرمایلي: **"د تېر احسان او عهد پالل له ایمان څخه دي!"**

کله چې عمر (رض) د هغې نسب وپېژانده، د هغې د کورنۍ پر فضل پوه شو، هرکلی یې ورته وکړ او دومره څه یې ورکړل چې هغې ته د سوال کولو ضرورت پاتې نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې هغه سړي وویل چې هغې ته دې ډېر ورکړل، عمر (رض) غوسه شو او ورته یې وویل چې پلار او ورور یې د الله په لاره کې مجاهدین وو؛ هغوی داسې یوې فتحې ته اوږه ورکړې وه چې نن یې له برکته بیت المال ډک دی. نو څنګه به ورته ډېر نه ورکوې په داسې حال کې چې مسلمانان د هغوی د جهاد میوه خوري!

شریف او نجیب انسان د خلکو قدر او منزلت پېژني، پر هغه چا رحم کوي چې دنیا ورته مخ اړولی وي، د هغوی د عزت ساتنه کوي، ماضي یې نه هېروي او د هغوی د پخوانیو ملګرتیاوو او نېکیو پوره مراعات کوي. نو اې خلکو! نجیب او شریف واوسئ!

۶ که څه هم د خرما یوه ټوټه وي!

شُعبه بن الحجاج په خپل وخت کې د ځمکې پر مخ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثو تر ټولو لوی حافظ و. سفیان ثوري د هغه په اړه ویلي: "شُعبه په حدیثو کې د امیر المؤمنین مقام لري!"

- امام احمد بن حنبل فرمایلي: "د شُعبه په زمانه کې په حدیثو کې د هغه په څېر بل څوک نه و."
- امام شافعي فرمایلي: "که شُعبه نه وای، په عراق کې به حدیث نه وای پېژندل شوی!"

د شُعبه په لاس بې شمېره خلک ثمر ته ورسېدل چې وروسته د دې امت مشهور فقهاء شول؛ لکه: عبدالله بن المبارک، سفیان ثوري، الکسائي، قاضي ابو یوسف، الاصمعي او خلیفه هارون الرشید!

هغه د ډېر سخاوت او لوړ همت خاوند و. د هغه ملګری ابو داود الطیالسي کیسه کوي: موږ له شُعبه سره ناست وو چې سلیمان بن المغیره په ژړا راغی.

شُعبه ورته وویل: "اې ابا سعیده! ولې ژاړې؟"

هغه وویل: "خر مې مړ شو، اوس نه جمعې ته تللی شم او نه خپل ضرورتونه پوره کولی شم."

شُعبه ترې وپوښتل: "په څو دې اخیستی و؟"

هغه وویل: "په درې دیناره."

شُعبه ورته وویل: "په الله قسم چې له ما سره هم همدا درې دیناره دي، دا واخله، خر پرې واخله او مه ژاړه!"

اې شُعبه! د زړونو جذبول دي څومره ښکلي دي!

همدا راز ابو داود الطیالسي وایي: موږ له شُعبه سره ناست وو او هغه حدیثونه راته ویل، چې یو سوالګر راغی.

شُعبه وویل: "خیرات ورکړئ." خو چا څه ورنکړل.

ketabton.com - The Digital Library

هغه وویل: "خیرات ورکړئ؛ ابواسحاق ماته له عدي بن حاتم څخه روایت کړی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **له اور څخه ځان وساتئ که څه هم د خرما په یوه ټوټه وي!**" بیا هم چا څه ورنکړل.

هغه بل حدیث ووایه: "...که مو د خرما ټوټه نه موندله، نو په ښکلو خبرو (ځان وساتئ)." بیا هم چا څه ورنکړل.

ده درېیم ځل بیا د عدي بن حاتم بل روایت ورته ووایه، خو بیا هم چا څه ورنکړل.

شُعبه غوسه شو او ویې ویل: "له ما لرې شئ! په الله قسم چې تر درېیو میاشتو پورې به حدیث درته ونه وایم!"

بیا خپل کور ته ننووت، لږ اوړه (خمیره) یې راوویستل او سوالګر ته یې ورکړل او ویې ویل: "دا واخله، همدا نن زمور د ټولې ورځې خوراک و!"

سلیمان بن حرب وایي: "که تا د شُعبه جامو ته کتلې وای، د لسو درهمو ارزښت یې نه درلود، مګر هغه ډېر صدقه ورکوونکي شیخ و!"

صدقه ډېرو پیسو ته اړتیا نه لري (که څه هم د شتمنو مسوولیت ډېر دی)، بلکې د زړه سخاوت او پاک نیت غواړي. دا چې ته یوازې د لږ څه ورکولو وس لرې، همدا لږ ورکړه؛ ځکه لږ ورکړه له بېخي نه ورکړې بهتره ده!

الله پاک پاک دی او یوازې پاک شی قبلوي؛ نو خیرات کوئ او له اور څخه ځان وساتئ که څه هم د خرما په یوه ټوټه وي. که هغه مو هم نه درلوده، نو په نېکو خبرو یې پوره کړئ، خو پام کوئ پر سوالګر باندې د محرومیت ترځنګ د بدو خبرو بار مه باروئ!

۷ له ما وروسته ستاسو غوره کس هغه دی، چې زما له کورنۍ سره نېکي کوي:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو اصحابو ته وفرمایل:

"له ما وروسته ستاسو څخه غوره کس هغه دی، چې زما له کورنۍ (اهل بیتو) سره ښېګڼه او نېکي کوي!"

د هغوی (صحابو) غوره کسانو دا درس ډېر ښه زده کړ؛ نو ځکه کله چې عمر بن الخطاب (رض) د وظیفو او معاشونو دفترونه جوړ کړل، له بیت المال څخه یې تر ټولو لوړ معاش د مؤمنانو میندو (د نبي صلی الله علیه وسلم بېبیانو) ټه وټاکه! له هغوی وروسته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورنۍ ته، بیا د مهاجرینو او انصارو لومړنیو مشرانو (د بدر غزا ګډونوالو) ته، بیا هغو ته چې له فتحې وړاندې مسلمان شوې وو او بیا نورو عامو خلکو ته حق ورکړ.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې پر مسلمانانو باندې سخته قحطي او وچکالي راغله، نو عمر (رض) د باران د غوښتلو (استسقاء) لپاره ووت او عباس بن عبدالمطلب (رض) يې له ځان سره راوست او دعا يې وکړه: "يا الله! مورږ به پخوا ستا نبي ته پناه دروړه او د هغه په وسيله مو باران غوښته، اوس چې هغه وفات شوی، مورږ ستا د نبي د تره په وسيله تاته سوال کوو چې باران راباندې ووروه!"

د نبي صلى الله عليه وسلم له کورنۍ سره د صحابو مينه داسې وه؛ نو پر هغو جعلي تاريخونو او د هغو خلکو پر روايتونو مه تېروځئ چې عقيدې يې منحرفې دي او د صحابو کرامو په بد ويلو سره الله ته نږدېوالی لټوی!

عبدالرحمن بن عوف (رض) د خپل وخت يو له خورا شتمنو صحابو څخه و. هغه خپل يو بڼ (باغ) په څلور سوه زره درهمه وپلوره او ټولې پيسې يې د مؤمنانو پر مينډو وويشلې!

ام بکر بنت المسور روايت کوي چې عبدالرحمن بن عوف (رض) يو بل ځل خپله ځمکه پر عثمان بن عفان (رض) په څلوېښت زره ديناره وپلورله، او دا پيسې يې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مورنۍ غاړې خپلوانو (بني زهره) او د هغه صلى الله عليه وسلم پر مېرمنو وويشلې. کله يې چې د عائشې (رض) برخه ورولېږله، هغې وپوښتل: "دا چا رالېږلې دي؟" ورته وويل شول: "عبدالرحمن بن عوف."

عائشې (رض) وفرمايل: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي وو: **"له ما وروسته به يوازې صابران ستاسو (بيبيانو) پالنه او خيال ساتي."** الله دې ابن عوف ته د جنت له سلسبيل څخه اوبه ورکړي!

لکه څنګه چې عرب وايي: **"وفاداري ډېره نادره او ګرانه بيه ده!"**

نجيب او شريف انسانان د خپلو عزيزانو له مړينې وروسته د هغوی د مينه والو او نږدې کسانو خيال ساتي. هغو ته وګورئ چې ستاسو عزيزانو تر شا پرېښې دي؛ د خپل نږدې ملګرې له مرګ وروسته د هغه د مېرمنې او اولادونو لپاره غښتلې اوږه شئ، د خپلې مور له مړينې وروسته د هغې ملګرې وپالئ او د خپل پلار له مړينې وروسته د هغه له دوستانو سره نېکي وکړئ!

ما يو ځل د يو ځوان کيسه ولوسته، هغه ويل: "پلار مې په ماشومتوب کې مړ شو، ما ډېره هيله لرله چې يو بايسکل واخيستلای شم، خو مور مې پيسې نه لرلې. مور مې زما په مخکې ويلي وو چې د پلار په وصيت کې يې يو د ټليفون نمبر موندلی او پلار يې ورته ويلي وو چې که زما له مړينې وروسته کوم ضرورت درته پېښ شو، نو دې نمبر ته زنګ ووهئ!"

مور مې ډېره پتمنه (عزت نفسه) وه او زنګ يې نه واهه، خو زه چې ماشوم وم، له هغې پټې مې زنګ ورته وواهه او ورته مې وويل: "ته ما نه پېژنې، مګر زما پلار ويلي و چې که څه ته اړ شوو نو تاته زنګ ووهم، زه بايسکل غواړم، زه د پلانې زوی يم!"

هغه وايي چې لا د هغه ورځې لمر نه و ډوب شوی چې هغه سړی زمورږ کور ته بايسکل په لاس راغی، مور ته يې يو اندازه پيسې هم ورکړې او ورته يې وويل: "اې زما خورې! ان شاء الله هره مياشت به د پلار د وفاداریۍ په دود تاته داسې برخه رسيږي!"

ketabton.com - The Digital Library

ای قربان له داسې وفاداری!

۸ د غار درې ملګري:

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د پخوانیو خلکو کیسه کوله او ویې فرمایل:

درې کسان په لاره روان وو چې باران پرې راغی، هغوی د غره یو غار ته پناه یووړه. ناڅاپه له غره څخه یوه لویه ډبره راوښوېده او د غار خوله یې بنده کړه!

دوی یو بل ته وویل: «خپلو هغو نېکو عملونو ته وګورئ چې یوازې د الله لپاره مو کړي وي، په هغو سره له الله څخه دعا وغواړئ، ښایي الله مو له دغه مصیبته خلاص کړي!»

لومړي کس وویل:

«خدایه! زما مور او پلار ډېر سپین ږیري او زاړه وو، زه مېرمن او واړه ماشومان هم لرم چې د هغوی پالنه کوم. کله به چې زه له مالونو سره کور ته راغلم، لومړی به مې شیدې لوښلې او تر خپلو ماشومانو وړاندې به مې خپل مور او پلار ته ورکولې. یوه ورځ زه پسې لرې لاړم او چې کله راستون شوم هغوی ویده شوي وو. ما شیدې و لوښلې او د هغوی سر تـه ودرېدم؛ نه مې غوښتل هغوی له خوبه ویښ کړم او دا مې هم نه لوړېده چې تر هغوی مخکې خپلو ماشومانو ته شـیدې ورکړم، که څه هم ماشومانو مې تر پښو لاندې له لوړې ژړل. تر هغه وخته همداسې ولاړ وم چې سباوون شو! که ما دا کار یوازې ستا د رضا لپاره کړی وي، نو مور ته دومره لاره خلاصه کړه چې اسمان تړې وویني!»

الله تعالی ورته لاره خلاصه کړه او هغوی اسمان ولید.

دویم کس وویل:

«خدایه! ما د خپل تره لور سره ډېره زیاته مینه لرله، له هغې مې د نړدېوالي غوښتنه وکړه خو هغې ونه منله، ترڅو چې هغې ته مې سل دیناره راوړل. ما په ډېرې سختۍ پیسې ټولې کړې او هغې تـه مې وروړې. کلـه چې زه د هغې خواتـه کېناستم، هغې راته وویل: "ای د الله بنده! له الله څخه ووېرېږه او دا مهر (عفت) پرته له حقه مه ماتوه!" زه سمدستي تړې پاڅېدم. که چېرې ما دا کار یوازې ستا د رضا لپاره کړی وي، نو مور ته لاره خلاصه کړه!»

الله تعالی ورته نوره لاره هم خلاصه کړه.

دریم کس وویل:

«خدایه! ما یو مزدور په یو صاع (اندازه) وریژو نیولی و. کله چې یې کار پای ته ورساوه، ویې ویل: زما حق راکړه. ما چې کله حق ورکاوه، هغه تړې تېر شو او ویې نه منل. ما هغه وریژې وکرلې (تجارت مې پرې وکړ) تردې چې تړې ډېـرې

ketabton.com - The Digital Library

غواوې او شپون جوړ شول. یو وخت هغه ښځه راغی او ویې ویل: له الله ووېرېره، پر ما ظلم مه کوه او زما حق راکړه. ما ورته وویل: لاړ شه هغه غواوې او شپون ټول ستا دي، وړه یې درسره. هغه وویل: له الله ووېرېره او پر ما ملنډې مه وهه! ما ورته وویل: زه پر تا ملنډې نه وهم، هغه ټول واخله. هغه ټول واخیستل او لاړ. خدایه! که چېرې ما دا کار یوازې ستا د رضا لپاره کړی وي، نو پاتې لاره هم خلاصه کړه!»

الله تعالى ورته پاتې لاره هم خلاصه کړه هغوی ووتل.

د لیکوال پیغام:

که مور د هغو نېکو کارونو په اړه فکر وکړو چې دې درېیو کسانو پرې دعا وکړه، وبه مومو چې دا ټول **د بندګانو له حقوقو** سره تړلي وو!

- لومړی کس د **مور او پلار د نېکۍ (برّ)** حق ادا کړی و.
- دویم کس د **خلکو د ناموس او عفت** حق ساتلی و.
- دریم کس د **مزدور د مزد** حق په پوره امانتداري ادا کړی و.

دوی یو هم د خپل لمانځه، روژې یا تهجد یادونه ونه کړه. دا د دې لپاره چې پوه شو، که څه هم عبادات ډېر لوړ مقام لري، خو د انسانانو د حقوقو له ادا کولو پرته یوازې کفایت نه کوي!

اوس یوه پوښتنه ده چې باید له ځانه یې وپوښتې:

«که چېرې زه د دغو درېیو کسانو ځلورم وای، نو په کوم عمل به مې دعا کوله؟»

که ستا په ژوند کې د مور او پلار د نېکۍ، د خلکو د عزت ساتلو او د حقونو د سپارلو کوم ستر موقف شتون لري، نو ته پر سمه لاره یې، پرې ثابت قدمه اوسه او نور یې هم زیات کړه.

خو که داسې کوم عمل نلرې، نو پر خپل ځان بیا کتنه وکړه او خپل حساب سم کړه؛ ځکه نېک عملونه د سختیو پر مهال د خلاصون لاره ده، او ستا لپاره باید د نجات یوه دروازه شتون ولري!

۹ ما د خپل زوی مړینه غوښتله!

محمد بن خلف وایي: ابراهیم الحربي یو یوولس کلن زوی درلود، هغه ورته قرآن کریم حفظ کړی و او په فقه کې یې هم لوی لاس ورته ورکړی و. کله چې دغه هلک وفات شو، زه یې پوښتنې او تسلیت ته ورغلم.

هغه ماته وویل:

«ما د خپل زوی مړینه غوښتله!»

ketabton.com - The Digital Library

ما ورته وویل: «ای ابا اسحاق! ته د نړۍ عالم او د مسلمانانو فقیه یې، دا خبره د داسې یو هلک په اړه کوې چې هم حافظ قرآن و او هم په فقه پوهېده؟!»

هغه راته وویل: «هو، ما په خوب کې ولیدل چې ګواکې قیامت قایم شوی، ځینې هلکان چې په لاسونو کې یې د اوبو ډک منګي وو، د خلکو هرکلي ته راوځي او هغوی ته اوبه ورکوي. هغه ورځ ډېره سخته تېره وه. ما له یو هلک څخه وغوښتل:چې له دې اوبو یې ماته هم راکړي.

هغه ماته وکتل او ویې ویل:

ته زما پلار نه یې.

ما ترې وپوښتل: تاسو څوک یئ؟

هغه وویل: مور هغه ماشومان یو چې په دنیا کې مړه شوې یو او خپل پلرونه مو پرېښې، اوس د هغوی هرکلي ته راوتلي یو ترڅو هغوی ته اوبه ورکړو.

همدا علت و چې ما د هغه د مړینې هیله وکړه!»

د الهي پیغامونو پوهه:

پر خپلو بندګانو د الله تعالی یو رحمت دا دی چې کله کله هغوی هغه څه ته چمتو کوي چې په راتلونکي کې ورسېدونکي وي. ترڅو کله چې الهي قضا او قدر راشي، هغوی د صبر او زغم وړتیا ولري. دا چمتووالی کله په خوب کې د یوې لیدنې له لارې وي، کله په جومات کې د یوې داسې خطبې له لارې چې د ژوند په اړه د انسان لیدلوری بدلوي، او کله په کوڅه کې د یوې داسې صحنې له لارې چې د انسان فکر له بنسټه اړوي.

یو نړدې ملګري راته کیسه کوله، ویل یې: روغتون ته لاړم، د نس له درده مې شکایت کاوه او له ځان سره مې ویل: «خدایه! دا بلا ډېره اوږده شوه،

تر کومه به وي؟»

بیا زما کوټې ته یو بل ناروغ راوستل شو چې د کیموتراپي (کیمیاوي درملنې) پیچکاري واخلي. کله چې یې ورته پیچکاري لګولې، هغو درملو د هغه عافیت زېښلی و او رنګ یې بدل شوی و! دوه ساعته وروسته هغه د خپلو دوو زامنو په اوږو په ډېرې سختۍ تکیه کړې وه او ووتلو.

ما وویل: «خدایه! ستا شکر دی، زه پوه شوم، پیغام مې واخیست او درس مې زده کړ. زما درد د دغه سړي د درد په وړاندې هیڅ دی؟ د نس یو لږ درد او سخت پرهېز د کیموتراپي له عذابه ډېر اسانه دی!»

ابراهیم الحربي څوک و؟

ابراهیم الحربي کوم ساده سړی نه و چې (بې ځایه) د خپل زوی د مړینې هیله وکړي، بلکې الله تعالی ورته د خوب په بڼه یو پیغام لېږلی و ترڅو د مصیبت پر مهال یې ثابت قدمه وساتي.

ابراهیم الحربي د خپل وخت تر ټولو لوی عالم و. د لغت ماهر «ثعلب» د هغه په اړه وایي: «ما په تېرو پنځوسو کلونو کې ابراهیم الحربي د لغت او نحوې په هیڅ مجلس کې غایب نه دی لیدلی!»

ketabton.com - The Digital Library

او ابوبکر الخطیب د هغه په اړه ویلي: «ابراهیم الحربي په علم کې امام، په زهد کې مخکښ، په فقه پوه، په احکامو بصیر، د حدیثو حافظ او د هغوی د نیمګړتیاوو پېژندونکی، او د لغت او ادب لوی عالم و.»

پایله: د الله پیغامونو ته پام وکړئ د الله پیغامونه سپک مه ګڼئ؛ الله تعالی تا ببرته خپل ځان ته راګرځوي:

- کله له ګناه وروسته د زړه د تنګوالي له لارې.
- کله ستا مخې ته د جنازې د تېرېدو له لارې.
- کله د داسې یو ایت د اورېدو له لارې چې احساس کوې یوازې ستا لپاره نازل شوی.
- کله په بې غرضه توګه د یو نبوي حدیث د اورېدو له لارې.
- کله د داسې یوې ناروغۍ له لارې چې تا ته ستا کمزورتیا در په یاد کړي.
- کله د ملګري د غدر له لارې ترڅو در وښيي چې له ده (الله) پرته بل هیڅ پناه ځای نشته.
- کله د محبوب د هجر له لارې ترڅو درته ثابته کړي چې یوازې هغهجل جلاله پاتې کېږي کله چې ټول خلک لاړ شي.

ته څومره هغه (الله) ته محتاج یې، او هغه څومره له تا نه بې نیازه دی، خو بیا هم تا ببرته ځان ته ورغواړي!

۱۰ خو دا چې نفل وکړې:

د نجد له خلکو څخه یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د اسلام په اړه یې ترې وپوښتل. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه.»

هغه وپوښتل: «ایا پر ما له دې پرته نور څه هم شته؟»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «نه، خو دا چې ته په خپله خوښه نفل (تطوّع) وکړې.» بیا یې ورته د اسلام د نورو ارکانو په اړه خبرې وکړې او ویې فرمایل: «د رمضان روژې.»

سړي وپوښتل: «ایا پر ما له دې پرته نور څه هم شته؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نه، خو دا چې ته په خپله خوښه نفل وکړې.» بیا یې د زکات په اړه ورته وویل.

هغه بیا وپوښتل: «ایا پر ما له دې پرته نور څه هم شته؟»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نه، خو دا چې ته نفل وکړې.»

هغه سړی روان شو او داسې یې ویل: «په الله قسم دی، نه به پرې څه زیاتوم او نه به ترې څه کموم!»

ketabton.com - The Digital Library

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «که یې رښتیا ویلي وي، نو بریالی شو!»

یادونه: دا پېښه تر حج فرض کېدو وړاندې وه، ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ارکانو کې د حج یادونه ونه کړه.

د فرایضو او نوافلو ترمنځ توازن:

دا حدیث د دې لپاره نه دی چې د لمانځه سنت، نفل، د شپې قیام (تهجد)، صدقه او نفلي روژې سپکې وګڼل شي، بلکې دا په دې باب کې دی چې یو مسلمان وپوهېږي چې د هغه مسوولیتونه (واجبات) څه دي او حقوق یې څه دي.

همدارنګه دا ښیي چې الله تعالی ته تر هر څه نږدې او خوښ عمل د «فرایضو» ادا کول دي. مانا دا چې هغه څوک چې د سهار لمونځ په جومات کې له جماعت سره ادا کوي، هغه الله ته تر هغه چا غوره دی چې ټوله شپه په نفلونو تېروي خو د سهار لمونځ ترې په خوب کې پاتې کېږي. البته مبارک شه هغه چا ته چې دواړه نېکمرغۍ (فرض او نفل) سره یوځای کړي.

نفلونه د نیمګړتیاوو پټې دي:

زمور څخه هیڅوک نشته چې په عبادت کې دې نیمګړتیا ونلري. زمور په لمونځونو کې د خشوع کمی او د دنیاوي فکرونو وسوسې وي، زمور په روژو کې ښایي بې ځایه خبرې یا نامشروع کتنې وشي؛ نو د الله تعالی له رحمتونو څخه یو دا دی چې هغه مور ته «نوافل» مشروع کړي دي ترڅو زمور د فرایضو نیمګړتیاوې پرې جبران شي.

- **د سنتو لمونځونه** په فرایضو کې د خشوع کمی پټوي.
- **نفلي روژې** په فرضي روژو کې راغلي ټپونه رغوي.
- **صدقه** د رب غوسه داسې مړوي لکه اوبه چې اور مړوي.

جنت په عمل نه، بلکې په رحمت دی:

په دې باید پوه شو چې هیڅوک به یوازې د خپل عمل په زور جنت ته داخل نشي، حتی پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم؛ بلکې مور به د الله په فضل، کرم او رحمت سره جنت ته ځو.

دا خبره د دې لپاره نه ده چې عبادت پرېښودل شي، بلکې برعکس؛ د الله رحمت د هغه په عبادت او اطاعت سره ترلاسه کېږي. دا خبره د دې لپاره ده چې:

۱. عابد په خپل عبادت مغرور نشي.

۲. ګناهکار د الله له رحمته ناامیده نشي.

مور د الله د حکم د منلو لپاره د هغه عبادت کوو او پر هغه نېک ګمان لرو؛ ځکه هغه تر دې ډېر رحیم دی چې هغه تندی وسوزوي چې د هغه په وړاندې یې د وېرې او امید په حال کې سجدې کړې وي، او هغه ګېډې وسوزوي چې د هغه د رضا لپاره یې خوراک او څښاک پرېښی وي.

> **نو که دي ښه عبادت کاوه، لا یې زیات کړه؛ او که دي تقصیر (کمزوري) کړې وه، استغفار وکړه او بېرته راوګرځه. په خپلو اعمالو کې منځلاري اوسئ او پر خپل رب نېک ګمان ولرئ.**

ketabton.com - The Digital Library

۱۱ له بدګمانۍ څخه ځان وساتئ!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم پوهېده چې د انسان اصلاح یا فساد له زړه څخه پیلېږي، ځکه خو یې د مسلمانانو د زړونو پاکوالي ته ډېره پاملرنه کوله. یوه ورځ یې خپلو اصحابو ته وفرمایل:

«له ظن (بدګمانۍ) څخه ځان وساتئ، ځکه بدګماني تر ټولو درواغجنه خبره ده. د یو بل عیبونه مه پلټئ، جاسوسي مه کوئ، له یو بل سره حسد مه کوئ، یو بل ته شا مه کوئ، له یو بل سره بغض مه کوئ او د الله داسې بندګان شئ چې سره ورونه وي!»

ابن القیم به ډېر ځله د ابوبکر بن عیاش دا وینا یادوله: «ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) له تاسو څخه په ډېرو لمونځونو او روژو ندي مخکې شوي، بلکې په هغه څه (ایمان او اخلاص) مخکې شوي چې د هغوی په زړونو کې ځای پر ځای شوي وو!»

او په خلکو بدګماني کول یو له هغو شیانو څخه دی چې زړه تر هر څه زیات فاسدوي.

۱۲ د ابراهیم بن ادهم او د هغه د ملګري کیسه:

روایت دی چې د جلیل القدره تابعي، ابراهیم بن ادهم یو ملګری پر هغه او د هغه پر ملګرو تېر شو، خو سلام یې ونه کړ!

یو ناست کس وویل: «ای ابراهیم! ودې لیدل چې هغه څنګه مور ته وکتل خو سلام یې ونه کړ؟»

ابراهیم بن ادهم وویل: «ښایي هغه به په کوم غم کې وي، ځکه له خپلو ملګرو یوازې هغه څوک غافل کېږي چې په لوی مصیبت کې ګیر وي.»

بیا ابراهیم له مجلسه پاڅېد او په هغه پسې لاړ. کله چې ور ورسېد، ورته یې وویل: «ملګریه! ولې دې سلام ونه کړ؟»

هغه وویل: «مېرمن مې په داسې حال کې ده چې ماشوم یې پیدا کېږي، خو په کور کې د هغې د پالنې لپاره هیڅ نه لرم!»

ابراهیم ببرته خپل مجلس ته راستون شو او ملګرو ته یې وویل: «مور پر هغه دوه ځله ظلم وکړ؛ یو ځل مو پرې بدګماني وکړه او بل ځل مو تر هغه وخته پرېښود چې اړ شو!»

بیا کور ته لاړ، هلته یې یوازې دوه دیناره لرل. په یو دینار یې غوښه، شات، غوړي او وړه واخیستل او د خپل ملګري کور ته یې ورورسول. کله چې یې دروازه وټکوله، مېرمن یې چې په دردونو کې وه، غږ وکړ: «څوک یې؟»

هغه وویل: «زه ابراهیم بن ادهم یم، دا شیان واخلئ! الله دې ستا مشکل اسانه کړي.» او سمدستي لاړ.

کله چې مېرمني دروازه خلاصه کړه، خوراکي توکي یې ولیدل او بل دینار هم ورسره و. هغې دعا پیل کړه: «خدایه! د ابراهیم بن ادهم لپاره دا ورځ مه هېروه (بدله ورکړه)!»

ketabton.com - The Digital Library

پر خلکو نړۍ مه راتنګوئ:

دا دنیا ډېره بې رحمه ده، هره ورځ خلک تر خپلې ژرندې لاندې کوي؛

- یو څوک د کرایې کور کې ناست دی او میاشت پوره شوې خو کرایه نلري.
- یو ناروغ دی چې د درملو بوتل یې خلاصېدونکی دی خو د نورو د اخیستو پیسې نلري.
- یو پلار دی چې د زوی د پوهنتون فیس تړې غوښتل کېږي خو لاس یې خالي دی.
- یو پوروړی دی چې د پور د خلاصولو وخت یې رارسېدلی خو هیڅ ورسره نشته.

داسې خلک زښت ډېر دي. په الله قسم! که دا ډول خلک په لاره روان وي او ستا خواته پام ونه کړي، ایا له هغوی ګیله پکار ده؟

ښایي یو څوک درڅخه تېر شي او د پور او غم د دروندوالي له امله تا ونه ویني، نو پر خلکو نېک ګمان ولرئ!

هغه څوک چې تا خپل کور ته نه بولي، ضرور نه ده چې بخیل به وي؛ ښایي عزت نفس یې اجازه نه ورکوي چې خپله غریبي درته ښکاره کړي.

هغه څوک چې ستا په کومه خوشالۍ کې نه دی حاضر شوی، ښایي حیا یې اجازه نه وي ورکړي چې بې له ډالۍ (تحفې) راشي.

نو نرمي کوئ، ته او دا دنیا دواړه په یو وخت کې پر خلکو برید مه کوئ!

۱۳ نرمي چې په هر څه کې وي، ښکلا وربښي:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خورا نرم، مهربان، تېرېدونکی او خلکو ته نږدې شخصیت و. کله چې له بي بي عایشې (رضی الله عنها) څخه د هغه د اخلاقو په اړه وپوښتل شول، هغې وفرمایل: «د هغه اخلاق قرآن و!»

هغه صلی الله علیه وسلم یو ځل خپلو اصحابو ته د نرمۍ او مهربانۍ د اهمیت په اړه وفرمایل:

«نرمي (رفق) چې په هر څه کې وي، هغه ښکلی کوي، او له هر څه چې وایستل شي، هغه بدرنګه کوي!»

خو باید پوه شو چې نرمي خپل ځای لري او کلکوالی (حزم) خپل ځای. د کلکوالي په ځای کې نرمي کول حماقت دی، کټ مټ لکه د نرمۍ په ځای کې چې سختي او کلکوالی وشي.

ketabton.com - The Digital Library

د ابوبکر صدیق (رض) او عمر فاروق (رض) توازن:

کله چې ابوبکر صدیق غوښتل تر خپل ځان وروسته عمر بن الخطاب د خلافت لپاره وټاکي، ځینو اصحابو پر دې پربکړه اعتراض وکړ. هغوی ابوبکر صدیق ته په ډاګه وویل: «عمر پر مورِ هغه وخت هم سخت و چې ته خلیفه وې او هغه ستا وزیر و، نو چې کله خپله خلیفه شې، څه به کوې؟»

ابوبکر صدیق هغوی ته په ډېر سیاسي بصیرت او د انسان پېژندنې په رڼا کې داسې ځواب ورکړ:

«عمر چې کله زما نرمي لیدله، نو سختي یې کوله ترڅو زما نرمي په خپلې سختیِ سره سمه (توازن) کړي. خو چې کله واک ده ته وسپارل شي، هغه به له هغه څه بدل وي چې تاسو یې تجربه کړې ده!»

د ابوبکر صدیق فراست رښتیا شو؛ عمر بن الخطاب داسې کلک و چې خپله مهرباني یې نه وه بایللې، او داسې مهربان و چې خپل کلکوالی یې له لاسه نه و ورکړی. د هغه د عظمت راز همدا و!

د معاویه (رض) د سیاست درس:

زیاد بن ابیه وایي: معاویه په هیڅ شي کې پر ما غالب نه شو، مګر یو ځل. ما یو سړی په دنده ګومارلی و، هغه زما مال ضایع کړ او زما له وېرې معاویه ته ور وتښتېد. ما معاویه ته ولیکل: «ستاسو دغه کار (هغه ته پناه ورکول) زما د مامورینو لپاره بد تربیت دی!» (یعنې ته مې تښتېدلي مجرم ته پناه ورکوې).

معاویه په ځواب کې راته ولیکل:

«دا مناسبه نه ده چې مورِ پر خلکو یو ډول سیاست وکړو. که مورِ دواړه نرمي وکړو، خلک به په ګناهونو کې سرکشه شي؛ او که دواړه سختي وکړو، خلک به په هلاکت کې واچوو. بلکې پکار ده چې ته د سختیِ او رعب لپاره واوسې، او زه د نرمیِ او الفت لپاره واوسم!»

د کورنیِ په سیاست کې درس:

دا یو لوی درس دی، نه یوازې د دولت په سیاست کې بلکې د کور په سیاست کې هم!

- که مور او پلار دواړه ډېر سخت وي، نو نږدې ده چې خپل اولادونه مات کړي او کور به د یوې نظامي کلا په څېر کړي.
- که دواړه بې حده نرم وي، نو نږدې ده چې اولادونه ضایع کړي. د ښه تربیت لپاره یو څه کلکوالی (حزم) اړین دی.

له همدې امله، دوی ته پکار ده چې په خپل منځ کې د نرمیِ او سختیِ نوبت وساتي:

کله چې پلار په یو ځای کې سختي وکړي، نو مور باید په هغه وخت کې د مهربانیِ غېږ پرانیزي؛ د هغوی خبرې واوري، په ارامه ورته خپله تېروتنه ور په ګوته کړي او د پلار او اولاد ترمنځ د روغې جوړې لاره برابره کړي. او که مور په یو ځای کې سختي وکړه، نو پلار ته پکار ده چې نرمي وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

ځکه چې مور غواړو اولادونه وروزو، نه دا چې هغوی مات کړو؛ مور غواړو هغوی اصلاح کړو، نه دا چې هغوی ته ماتې ورکړو!

۱۴ هغه د دوزخ له اوسېدونکو څخه دی:

په مدینه منوره کې یو سړی و چې «قزمان» نومېده، کله به چې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې د هغه یادونه وشوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل: **«هغه د اور (دوزخ) له خاوندانو څخه دی!»**

کله چې د احد غزا وشوه، قزمان د قریشو د مقابلې لپاره د مسلمانانو په لښکر کې ووت. هغه ډېره سخته جګړه وکړه او په یوازې ځان یې اته تنه مشرکان ووژل، خو پخپله هم سخت ټپي شو. د جګړې له پای ته رسېدو وروسته هغه د «بني ظفر» کور ته یووړل شو.

مسلمانانو د هغه د صبر او تسلي لپاره ورته وویل: «ای قزمان! په الله قسم چې تا ډېره ښه مېړانه وکړه، نو زیــری دې درباندې وي!»

خو هغه په ځواب کې وویل: «د څه شي زیری؟ په الله قسم ما یوازې د خپل قوم د ننګ او غیرت لپاره جګړه کړې، که دا نه وای ما به هیڅکله جګړه نه وه کړې!»

کله چې د هغه ټپونه ډېر شول او درد یې زیات شو، له خپلې کڅوړې څخه یې غشی راوویست او خپل ځان یې پرې وواژه (ځانوژنه یې وکړه)!

یوازې خالص عمل د قبلېدو وړ دی:

الله سبحانه و تعالی له عملونو څخه یوازې هغه قبلوي چې یوازې د ده د رضا لپاره وي. که چېرې الله تعالی د هغه نېک عمل بدله ورکولای چې نیت پکې د بل چا رضا وي، نو د قزمان عمل به یې منلی وای؛ د ایمان او کفر ترمنځ په داسې توده جګړه کې هغه د ایمان په سنګر کې ولاړ و، د اتلانو په څېر یې جګړه وکړه او قریشو ته یې درانه تلفات واړول. په سیرت کې داسې نه دي راغلي چې د احد په ورځ دې کوم بل مسلمان د ده په څېر اته کسان وژلي وي. خو افسوس چې دا ټوله مېړانه او شجاعت د الله لپاره نه و، بلکې د قومي حمایت او ننګ لپاره و؛ ځکه قوم یې د مدیني مسلمانان وو او هغوی جګړې ته وتلي وو، دی هم ورسره ووت، نو ځکه الله تعالی په دوزخ کې پرمخې وغورځاوه!

مور انسانان یوازې ظاهر ګورو او مور ته امر شوی چې پر ظاهري بڼه حکم وکړو، خو نیتونه د «نیتونو رب» ته پرېږدو؛ ځکه یوازې هغه د زړونو په پټو رازونو خبر دی. هغه مور ته له پورته نه، بلکې زمور له دننه (زړه) څخه ګوري!

نیت دې سم کړه!

- **تر صدقې وړاندې:**

ketabton.com - The Digital Library

مخکې له دې چې صدقه غریب ته ورکړې، خپل نیت سم کړه؛ ستا د اجر اندازه ستا په نیت پورې تړلې ده. که ستا صدقه د ریا لپاره وي او غواړې خلک دې صفت وکړي چې «فلانی ډېر سخي دی»، نو د خلکو ستاینه به تاته هیڅ ګټه ونه رسوي.

- **تر حج وړاندې:**

مخکې له دې چې د حج احرام وتړې، خپل نیت سم کړه؛ ستا د مال، احرام، طواف، سعي او قربانۍ اجر یوازې په دې پورې تړلی چې دا کار دې څومره د الله لپاره کړی. که ستا حج د دې لپاره وي چې خلک درته «د رحمن میلمه» ووایي، یا ستا د دوکان پر لوحه «الحاج فلانی» ولیکل شي، نو پوه شه چې تا یوازې پیسې لګولې او د سفر تکلیف دې ګاللی، مګر د اجر څخه به بې برخې یې!

- د اعمالو تله نیتونه دي:

نیت د اعمالو بنسټ دی. چا چې د نېکۍ نیت وکړ خو کوم خنډ یې مخه ونیوله، الله تعالی ورته پوره اجر ورکوي لکه هغه کار یې چې کړی وي. خو چا چې یو نېک کار د خلکو د ستاینې او شهرت لپاره وکړ، نو د هغه عمل د خلکو لپاره و او اجر به یې هم له خلکو څخه وي؛ الله تعالی له داسې چا او د هغه له عبادته بې نیازه دی.

نو خپل نیتونه اصلاح کړئ!

۱۵ مصیبت د الله د قهر نښه نده:

الله سبحانه و تعالی دا نړۍ د ازموینې او امتحان ځای پیدا کړی، نه د جزا او ورکړې؛ نو هغه څوک د کائنات په اړه د الله په سنتو نه دی پوه شوی چې ګمان کوي «عافیت» د بنده سره د الله د مینې نښه ده او «بلاء او مصیبت» د هغه د غوسې نښه ده. برعکس، انبیاء علیهم السلام چې د بشر غوره کسان وو، تر ټولو زیات له ازموینې او بلاوو سره مخ شوي وو!

- **نوح علیه السلام** د خپلې مېرمنې او قوم په کفر وازمویل شو؛ نهه سوه پنځوس کاله یې هغوی الله ته وبلل خو ډېرو لږو کسانو ایمان راوړ!
- **ابراهیم علیه السلام** د پلار او قوم په کفر وازمویل شو او ان تر اوره پورې ورسیدلو!
- **یونس علیه السلام** د ماهۍ په ګېډه کې پاتې شو، **موسی علیه السلام** په فرعون او بني اسرائیلو وازمویل شو، او د صبر د قافلې سالار **ایوب علیه السلام** خو د صبر داسې داستان لري چې بیان یې وخت غواړي.
- بیا مکې ته وګوره او خپل حبیب صلی الله علیه وسلم په شعْبِ ابي طالب کې محاصره، په طائف کې په تیږو ویشتل شوی او د کعبې په وړاندې په سجده کې په داسې حال کې وګوره چې د اوښ لرې (ناپاکې) یې پر سر ایښودل شوې وه!

ketabton.com - The Digital Library

د مخلوق په اړه د الله د سنتو په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **«د چا لپاره چې الله د خیر اراده وکړي، هغه په مصیبت (ازموینه) اخته کوي.»**

د ابراهیم علیه السلام او ساري بي بي کیسه:

ابراهیم علیه السلام اولاد نه درلود، ساره بي بي پرېکړه وکړه چې خپله وینځه (هاجره) هغه ته وښيِ ترڅو واده ورسره وکړي، ښایي اولاد يې وشي. هاجرې بي بي اسماعیل علیه السلام وزېږاوه. د خلیل الله زړه له دغه ماشوم او د هغه له مور سره وټرِل شو، دلته ساره بي بي د بشري فطرت له مخې په غیرت (کینه) کې راغله، او هغه څه ترې صادر شـول چې معمولاً ښځې يې د بنو په وړاندې کوي. کله چې دا کیسه اوږده شوه، ابراهیم علیه السلام الله ته شکایت وکړ، الله تعالی ورته وحي وکړه: «ای ابراهیمه! ایا ته په دې نه يې خوښ چې ساره ستا د ازموینې (بلاء) برخه وي؟»

د ازموینې ډولونه:

هیڅ داسې مسلمان نشته چې الله دې په یو داسې شي نه وي ازمویلی چې ژوند يې ور تریخ کړی وي؛ دا ځکه چې:

۱. لومړی يې امتحان کړي.

۲. دویم دا چې له دنیا سره زړه ونه ټړي!

- ځینې خلک داسې دي چې دومره اولادونه لري چې د مړولو وس يې نلري، او ځینې بیا داسې دي چې دومره مال لري چې اور يې نه شي خوړلی خو د اولاد له نعمته بې برخې دي!
- ځینې ازموینې د بدن په ناروغۍ کې وي، ځینې په تنګ لاسۍکې، خو **ډېرې ازموینې په انسانانو کې وي!**
- بد ګاونډی یو امتحان دی.
- بدخویه مدیر یو امتحان دی.
- ظالم واکمن یو امتحان دی.
- بده ښځه او بد مېړه دواړه ازموینې دي.
- کیدای شي ازموینه په نافرمانه اولاد، ځورونکي نږدې کس یا تېزژبې خواښې کې وي!

زغم او پایله:

که چا په خپل ژوند کې یوازې یوه ازموینه ولیده، نو د الله شکر دې ادا کړي؛ ځکه الله د هغه په کمزورۍ پوه و نو ځکه يې پرې بلاوې زیاتې نه کړې. که نه، د انبیاوو سیرت ته وګورئ، هغوی د ډول ډول ازموینو خونـد وځاکـه. **لوط علیه السلام** ته وګورئ چې هم يې ښځه کافره وه او هم يې قوم په داسې فحاشۍ اخته و چې په نړۍ کې ترې مخکې چا نه وه کړې؛ هغه په خپل قوم کې هم غریب (بېګانه) و او په خپل کور کې هم!

نو صبر وکړئ، ځکه ژوند د امتحان ځای دی. پخوانیو به په سختیو کې یو بل ته وصیت کاوه او ویل به يې: **«دا یوازې څو تېرېدونکې ورځې دي او وعده ځای جنت دی!»**

ketabton.com - The Digital Library

۱۶ الله به وګوري چې زه څه کوم!

انس بن مالک (رض) وایي: زما تره، انس بن النضر د بدر په غزا کې حاضر نه و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: «یا رسول الله! زه په هغه لومړۍ جګړه کې غایب وم چې تا له مشرکانو سره وکړه؛ که الله تعالی ماته د مشرکانو سره په جګړه کې د ګډون موقع راکړه، نو الله به وویني چې زه څه کوم!»

کله چې د احد غزا شوه، هغه ډېره سخته جګړه وکړه. کله چې نبۍ ویشتونکو (رماة) د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له امر څخه سرغړونه وکړه، له غره راکوز شول او مسلمانان د خالد بن الولید د سواره لښکر او د قریشو د ځواکونو ترمنځ ګیر شول، انس بن النضر وویل: «خدایه! زه ستا په وړاندې د مسلمانانو له دې کاره (تېروتنې) بېزه غواړم، او د مشرکانو له دې کاره (کفر او جګړې) (بیزارۍ) اعلانوم.»

په جګړه کې اوازه خپره شوه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم شهید شوی دی. انس بن النضر په داسې حال کې چې جګړه یې کوله، پر داسې مسلمانانو تېر شو چې له جګړې یې لاس اخیستی و. هغه ورته وویل: «تاسو ولې ناست یئ؟»

هغوی وویل: «رسول الله صلی الله علیه وسلم شهید شو!»

ketabton.com - The Digital Library

په اسلام کې تر ټولو مهم درس اخلاق دي؛ که اخلاق دې له لاسه ورکړل، نو له اسلامه دې ډېر لږ څه ترلاسه کړې دي. په دې اړه ابن القيم (رح) وايي: «دين ټول اخلاق دي، نو چا چې په اخلاقو کې درنه مخکې والی وکړ، په دين کې يې هم درنه مخکې والی وکړ.»

د اخلاقو په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

- «د الله تعالى په بندګانو کې هغه الله ته ډېر ګران دي چې اخلاق يې ډېر ښه وي.»
- «په تاسو کې ماته تر ټولو ګران او د قيامت په ورځ ماته په ناسته کې تر ټولو نږدې کسان هغه دي چې اخلاق يې ښه وي.»
- «د (عملونو) په تله کې د ښو اخلاقو په څېر هيڅ درونده شى نشته.»

کله چې له بي بي عايشې (رض) څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه وپوښتل شول، هغې وويل:

«د هغه اخلاق قرآن و!»

شيخ عبدالرحمن السميط (رح) چې په ۲۹ کلونو کې يې په افريقا کې يوولس مليونه کسان مسلمان کړي وه، په يو تبليغي سفر بوخت و. په يوه لرې پرته سيمه کې يې موټر خراب شو. يو ايټالوی پادرې پرې تېر شو، خو مرسته يې ورسره ونه کړه او په ملنډو يې ورته وويل: «محمد ته دعا وکړه چې ودېې ژغورې!»

شيخ موټر جوړ کړ او روان شو.د الله تقدير داسې وه چې په لاره کې له هماغه ايټالوی پادرې سره مخ شو موټر يې خراب شوی وه. شيخ له خپلو ملګرو سره له موټره راښکته شو او د پادرې مرسته يې وکړه تر دې چې موټر يې ببرته جوړ شو.

پادرې له شرمه خولې شوه، شيخ ورته وويل: **«دا اخلاق مورِ له ځانه نه دي جوړ کړي، بلکې دا هغه څه دي چې زمورِ دين يې امر راته کړی دی!»**

شيخ د دې پېښې په اړه وايي: «څه موده وروسته ماته خبر راغی چې له هغه پادرې سره په موټر کې ناست ټول کسان (چې کاتوليک عيسويان وو) مسلمانان شول، پرته له دې چې مورِ ورته يوه خبره هم کړې وی!»

ښاغلو! يو انسان يوازې په خپلو ښو اخلاقو هم د الله لورې ته بلونکی (داعي) کېدای شي. د اندونيزيا او مالېزيا په څېر لوی هېوادونه د مسلمانانو لښکرو نه دي فتح کړي، بلکې مسلمانو سوداګرو په خپلو ښو اخلاقو، ريښتينولی، په وعده وفا او له غش (دوکې) څخه په پاکې سوداګرۍ فتح کړي دي.

دا ريښتيا ده چې مورِ ته له ټولو خلکو سره د ښو اخلاقو امر شوی، خو خپلوان (کورنۍ) تر نورو ډېر لومړيتوب لري. راځئ په خپلو کورونو کې، له خپلو مېرمنو او اولادونو سره، له ګاونډيانو او خپلوانو سره، د کار او درس په ځای کې، له مشتريانو او ناروغانو سره خپل اخلاق وڅېړو.

جنت دومره لرې نه دی لکه څومره يې چې مورِ تصور کوو؛ جنت ډېر نږدې دی، او مورِ هره ورځ د اسلامي اخلاقو په مټ د هغه لورې ته ګامونه اخيستلی شو.

ketabton.com - The Digital Library

۳۳ نو زېرى دې وي پر "غرباوو" (مسکینانو)!

د الله رسول صلى الله عليه وسلم يوه ورځ خپلو اصحابو ته وفرمايل: «اسلام په غريبۍ (بېګانه توب) کې پيل شو او ډېر ژر به بېرته هغسې غريب شي لکه څنګه چې پيل شوى و؛ نو زېرى دې وي پر غرباوو!»

کله چې مور د "غرباوو" يا بېګانه وو لفظ اورو، ممکن سمدستي مو ذهن ته د داسې خلکو انځورونه راشي چې د ټولنې په څنډو کې ژوند کوي، له خلکو ګوښه شوي، کالي يې شلېدلي، وېښتان يې بېر دي، نه دنده لري او نه کار، نه زده کړې لري او نه کومه لاسته راوړنه!

خو ښاغلو! دا د ماتې خوړلو انزوا غوښتونکو صفت دى، نه د "غرباوو"!

غرباوو (هغه چې په خپله ټولنه کې د خپل فکر له امله پردې ښکارې) د ظاهرې بڼې له مخې نه شي ډلبنـدي کېـدى. هغوى د ټولنې په هره برخه پورې تړلې خلک دي. هغوى د ډاکټرانو او انجنيرانو ترمنځ موندلى شئ، د اوسپنيزګرو او نجارانو په منځ کې، د ټکسي ډرېورانو او د واټونو د پاکوونکو په منځ کې، د پوهنتون د محصلينو او هغو کسانو ترمنځ چې خپل نوم هم نشي ليکلى، او د کور مېرمنو، ښوونکو او نرسانو په منځ کې!

هغوى داسې کسان دي چې کورنۍ او دندې لرې، هيلې او ارمانونه لرې، غمونه او دردونه لرې، خنداګانې او خوشـالۍ لرې. هغوى په همدې ټولنه کې ژوند کوي چې مور پکې اوسېږو. خو د هغوى "غريبي" په زړونو کې ده؛ هغه زړونه چې د اسلام او مسلمانانو پر اوسني حال دردېږي. کله چې نځاځايونه ويني او په وس يې څه نه وي پوره، زړونه يې رېږي. کله چې ويني شراب په هټيو کې پلورل کيږي او دوى بې وسه وي، کړيږي. کله چې ويني مسلماني ښځې بې حجابه دي او ځوانانو له جوماتونو او لمونځونو مخ اړولى، غمجن کيږي! کله چې له خپل رب سره يوازې شي، د خپلې دغې بېګانه توب شکايت ورته کوي او ورته وايي چې دا هر څه دوى نه خوښوي!

غرباوو ساده‌ګان نه دي، بلکې داسې مومنان دي چې زړونه يې د خپلې ټولنې په حال سوځي!

اسلام په غريبۍ کې پيل شو، نو لومړنې "غرباوو" څنګه وو؟ د دې پوښتنې ځواب مور ته د اوسني وخت د غرباوو حال بيانوي:

ابوبکر صديق (رض): يو بريالى او شتمن سوداګر و، پېر او پلور يې کاوه، مسلمان مريان يې ازادول، يو مخور ټولنـيز شخصيت و چې په ګوته ښوول کېده؛ خو غريبي يې په زړه کې وه، د خپل قوم پر ګمراهۍ او کفر دردمن و!

مقداد بن اسود (رض): يو داسې زړور ننګيالى و چې په جګړه کې يې ساړى نه درلود، د لومړۍ درجې جنګيالى و، قوي او هوډمن و او د اتلانو په څېر يې ژوند کاوه؛ خو غريبي يې په زړه کې وه او د مکې پر حال، چې بوتان پکې لمانځل کېدل، سخت خوږېده!

عمر بن الخطاب (رض): په "دار الندوه" کې د بني عدي د کورنۍ استازى و، فصيح ژبه او قوي بـدن يې درلـود، ټولـه قريش پرې خبر وو او ترې وېرېدل؛ خو د هغه غريبي هم په زړه کې وه!

ketabton.com - The Digital Library

مصعب بن عمیر (رض): ډېر ښکلی او خوش لباسه ځوان و، داسې عطرې بوی به ترې تلو چې که کومې نجلۍ به په لاره کې ولید، پر خپلو ملګرو به یې ویاړ کاوه چې مصعب یې لیدلی؛ خو د مصعب غریبي په زړه کې وه!

حمزه بن عبدالمطلب (رض): هم یو "غریب" و، سره له دې چې کمزوری او مسکین نه و، بلکې اوسپنیز او قوي و. قریشو ورته د "اسدالله" لقب ورکړی و، دا یې شوق و. دا هماغه و چې ابوجهل ته یې څپېړه ورکړه او ورته یې وویل: «که وس دې وي، ببرته یې غچ واخله!» خو هغه جرات ونه کړ.

بېګانه توب (غربة) په زړه کې وي. له ټولنې هر ډول ګوښه توب، بې کاره ناسته او بې مسؤلیتي د "غریبۍ" په پلمه، یوازې ذلت او ماتې ده او له حقیقي غریبۍ سره هیڅ تړاو نه لري!

۳۴ ترڅو خلک خبرې ونه کړي!

د بني مصطلق غزا په لاره کې، یوه مهاجر سړي یو انصاري سړی وواهه. انصاري چغه کړه: «ای انصارو (راشئ مرستې ته)!»

او مهاجر غږ کړ: «ای مهاجرینو (راشئ مرستې ته)!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا د جاهلیت د دور چغې (نارې) ولې دي؟»

هغوی وویل: یا رسول الله، یوه مهاجر سړي یو انصاري وواهه.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا (قومي تعصب) پرېږدئ، ځکه دا ډېره بدبویه او مرداره کیسه ده.»

دلته د منافقانو مشر، عبدالله بن ابي بن سلول وویل: «پر خدای قسم، که مدینې ته ببرته لاړ شو، نو مورږ(عزتمن) به خامخا ذلیل (مهاجرین) له هغې څخه وباسو!»

هغه غوښتل ووایي چې مهاجرین لږ او ذلیل دي، او دی به هغوی وشړي؛ په دې سره یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه خبره له پامه وغورځوله چې ویلې یې وو قومي تعصب مرداره کیسه ده.

عمر بن الخطاب (رض) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: «ماته اجازه راکړه چې د دې منافق سر پرې کړم!»

خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

«پرېږده یې! ترڅو خلک دا خبرې ونه کړي چې محمد خپل ملګري وژني.»

دا د هغه چا لپاره چې په زړه او عقل یې درک کړي، یوه ډېره ستره پېښه ده:

ابن سلول نبي کریم صلی الله علیه وسلم او مهاجرینو ته د "ذلیل" خطاب کوي، او د خپل نفاق اوج یې دا و چې له غزا مخکې یې د لښکر درېیمه برخه ببرته مدینې ته ستنه کړه، چې ډېرې یې د ده په څېر منافقان وو. خو کیسه هیڅکله د شمېر نه وه، بلکې د کیفیت وه؛ زمور رب رښتیا ویلي: «که هغوی له تاسو سره (جنګ ته) وتلي هم وای، نو بې له فساده به یې تاسو ته نور څه نه وای زیات کړي.»

ketabton.com - The Digital Library

هغه په حقیقت کې د وژلو مستحق و، او د عمر بن الخطاب (رض) نظر سم و؛ ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته ونه ویل چې «نه عمره، هغه د مرګ مستحق نه دی»، بلکې د هغه حکم یې تایید کړ، خو د یو لوی حکمت له مخې یې د هغه تنفیذ وځنډاوه: **«ترڅو خلک ونه وایي چې محمد خپل ملګري وژني!»**

ژوند مور کله نا کله په داسې سختو ازمېښتونو کې اچوي چې مور پر حق پوهېږو او پوهېږو چې څه باید وکړو، خو حکمت غوښتنه کوي چې چوپ پاتې شو، تېرېدنه وکړو او صبر وکړو؛ دا د دین د یوې لویې قاعدې لپاره چې:

«د فساد (زیان) مخنیوی، د مصلحت (ګټې) تر لاسه کولو څخه مقدم دی!»

بې له شکه چې د ابن سلول په وژلو کې مصلحت و، خو د دې په مقابل کې یوه لویه معاضله (زیان) دا وه چې بهرنیو خلکو به ویل چې نبي صلی الله علیه وسلم خپل ملګري وژني. خلک لرې دي، هغوی پېښه له نږدې نه ده لیدلې او په جزییاتو یې نه پوهېږي، هغوی ته یوازې پایله مهمه وي. ځکه خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې د خپل نوم او د خپل دعوت د شهرت لپاره صبر وکړي.

په ژوند کې، که ته د یو چا له لورې له اذیت وروسته له هغه سره پرېکون وکړې، ته ملامت نه یې؛ خو حکمت دا غوښتنه کوي چې داسې ونه کړې، ترڅو خلک درته "بد" ونه وایي. خلک یوازې پایلې وینې، لاملونه نه وینې. انسان باید خپله نېکنامي وساتي، ځکه په پای کې انسان یوازې یو "نوم" او "شهرت" دی!

۳۵ هغه د دوزخ له خاوندانو څخه دی!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم له خپل لښکر سره د مشرکانو له لښکر سره مخ شو او د دواړو لورو ترمنځ سخته جګړه وشوه، بیا دواړه لورې خپلو لښکرګاوو ته ستانه شول ترڅو د جګړې بل پړاو ته چمتو شي. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لښکر کې یو سړی و چې په جګړه کې یې ډېره مېړانه ښودلې وه او په مشرکانو کې یې ډېره مرګ ژوبله اړولې وه، تر دې چې صحابه وو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: «نن زمور څخه هیڅا د پلاني په څېر مېړانه ونه ښوده»، هغوی د هغه د شجاعت ستاینه کوله.

خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«خو خبر اوسئ چې هغه د اور (دوزخ) له خاوندانو څخه دی!»**

بیا جګړه بیا ځلې پیل شوه، الله تعالی مسلمانانو ته بریا ورکړه. یو صحابي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: «زه شاهد یم چې ته د الله رسول یې!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «دا ولې؟»

هغه عرض وکړ: «هغه سړی چې تا یې په اړه وفرمایل چې د دوزخ له خاوندانو دی او خلک ترې حیران شول؛ ما هغه وڅاره چې څه کوي. هغه له مشرکانو سره سخته جګړه وکړه، بیا سخت ټپي شو، نو د مرینې بېړه یې وکړه؛ د توري لاستی یې په ځمکه کېښود او د هغې تېره څوکه یې د خپلې سینې په لور کړه، بیا یې ځان وربانده تېر کړ او ځان یې وواژه!»

ketabton.com - The Digital Library

همداراز نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل خپلو اصحابو ته یوه کیسه وکړه او ویې فرمایل: «ستاسو څخه په پخوانیو امتونو کې یو سړی و چې تپې شوی و، نو بې صبره شو، چاړه یې واخیسته او خپل لاس یې پرې کړ (رګونه یې غوڅ کړل)، وینه یې ونه دربده تر دې چې مړ شو. الله تعالی وفرمایل: زما بنده په خپل ځان کې پر ما بیړه وکړه (د مړینې په اړه یې زما پربکړې ته صبر ونه کړ)، ما پر هغه جنت حرام کړ!»

په دې وروستیو کې د خلکو ترمنځ د ځان وژنې (انتحار) پېښې ډېرې شوې دي، میاشت نه تېریږي چې مور د داسې چا په اړه اورو چې د ژوند د سختیو له امله یې ځان وژلی دي.

راځئ انصاف وکړو، ژوند سخت دی او انسان په داسې ستونزو کې راګیر کیږي چې هغه تر خپلې وسې پورته بولي. خو راځئ چارې په عقل او حکمت سره وسنجوو؛ که چېرې دا دنیا د کیسې پای وای، نو مور به ویل چې ځان وژنه له ستونزو څخه د بې زړه کسانو تېښته ده، که څه هم دا یوه بې وسه او بې زړه حل لاره ده. مګر لکه څنګه چې مور ټول ایمان لرو چې دا دنیا یوازې د ازمېښت کور دی او رښتینی ژوند په اخرت کې دی، چېرته چې د انسان ځای یا جنت دی او یا دوزخ؛ نو په دې اساس ځان وژنه د دواړو کورونو (دنیا او اخرت) بایلل دي!

د نبوي نصوصو ظاهري مانا دا ده چې ځان وژونکی په اور کې دی، مګر مور باید له الله سبحانه و تعالی سره په ادب چلند وکړو او پوه شو چې د ټولو خلکو معامله له الله سره ده، که هغه په هر ډول مړ شوی وي؛ که عذاب ورکړي نو دا د هغه عدل دی او که یې وبښي نو دا د هغه رحم دی. ځان وژونکی که څه هم د ډېرې لوېې ګناه مرتکب شوی، خو له اسلام څخه نه وځي؛ غسل ورکول کیږي، کفن کیږي، لمونځ ورباندې کیږي او د مسلمانانو په هدیره کې خښیږي.

دا خبرې زمور لپاره دي کله چې ځان وژنه پېښه شي،

خو هر څوک چې د دې کار فکر کوي، باید پوه شي چې یوه سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په رکاب کې جهاد وکړ خو دا جهاد ورته ګټه ونه رسوله ځکه چې هغه خپل ځان وواژه. نو له خپلو ستونزو سره مبارزه وکړئ، صبر وکړئ، له هرې سختۍ وروسته اساني شته او څوک چې د صبر هڅه وکړي الله ورته صبر ورکوي. د بې زړتوب، تېښتې او ځان وژنې فکرونه پرېږدئ، ژوند که هر څومره سخت وي بیا هم په اور کې له یو ځل ډوبېدو څخه ډېر اسانه دی!

۳۶ بې شکه چې په بیان کې جادو وي!

عمرو بن الأهتم او زبرقان بن بدر د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضور ته داخل شول، نبي کریم صلی الله علیه وسلم له عمرو بن الأهتم څخه د زبرقان په اړه وپوښتل (چې هغه څنګه سړی دی؟). عمرو وویل: «یا رسول الله، هغه د خپل قوم اطاعت کېدونکی مشر دی، فصیح ژبه لري او د خپلې کورنۍ او مال کلک ساتونکی دی!»

دلته نو عمرو بن الأهتم (په ظاهر کې) د زبرقان بن بدر ستاینه وکړه، خو زبرقان چې احساس یې وکړ عمرو د هغه په حق کې پوره ستاینه نه ده کړې، د خپل ځان د دفاع په پار یې وویل: «یا رسول الله، پر خدای قسم دی چې دا زما په اړه له دې هم په ډېرو ښو صفاتو خبر دی، خو له ما سره یې کینه (حسد) وکړه!»

ketabton.com - The Digital Library

عمرو چې دا واورېدل، غصه شو او د هغه په غندلو (هجو) یې پیل وکړ او ویې ویل: «خو پر خدای قسم چې دا سړی مروت نه لري، لږ ظرفیته دی، پلار یې احمق او ماما یې لئیم (پست) دی. یا رسول الله! پر خدای قسم چې ما په لومړۍ خبره کې هم درواغ نه وو ویلي او په دویمه کې هم رښتیا وایم؛

خو خبره دا ده چې کله خوښ وم نو ستا په اړه مې هغه تر ټولو غوره خبره وکړه چې پوهېدم، او چې کله غصه شوم نو هغه تر ټولو بد صفت مې دې بیان کړ چې موندلی مې و!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم (د هغه د بیان او ژبې تیزۍ ته په کتو) وفرمایل: **«بې شکه چې ځینې بیانونه (خبرې) جادو وي!»**

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره د عربو په منځ کې د متل په څېر مشهوره شوه، چې د ژبپوهانو په نزد په دوو ماناګانو ده:

لومړی: دا چې ځینې خبرې دومره فصاحت او بلاغت لري چې د زړونو او عقلونو پام ځانته اړوي، ځکه چې ډېرې خوږې او خوندورې وي.

دویمه: دا چې ځینې خبرې د جادو په څېر کار کوي؛ یعنې باطل د حق په بڼه کې سکاره کوي.

حقیقت دا دی چې خلک په هر عصر کې یو ډول دي؛ که له چا خوشاله وي، نو د هغه یوازې سپکنې بیانوي، او که ترې ناراضه شي، نو یوازې بدي یې سکاره کوي. عربو ویلي دي: «مینه انسان رسوند او کون کوي!»؛ یعنې مینه اجازه نه درکوي چې د خپل محبوب نیمګړتیاوې وګورې او نه د هغه په اړه کومه بده خبره منې.

له همدې امله، د یو چا حقیقت له دوو کسانو څخه مه پوښتئ:یو له هغه چا چې ورسره لېونۍ مینه لري، او دوهم له هغه چا چې ترې لېونۍ کرکه لري؛ ځکه دواړه په قضاوت کې عدل نه شي کولی.

د بیان د جادو په اړه ربیع وایي: ما امام شافعي ته وویل: په مناظره کې تر ټولو تکړه څوک دی؟

هغه وفرمایل: «هغه څوک چې خپله ژبه یې د الفاظو په ډګر کې پر منډو روږدې کړې وي او کله چې ورته سترګې په ځیر ځیر ګورې، ژبه یې تېروتنې ونه کړي!»

د امام شافعي د فصاحت په اړه وایي کله چې د عبدالرحمن بن مهدي زوی مړ شو، هغه پرې ډېر زیات غمجن شو، تر دې چې له خوږو او څښاک یې لاس واخیست. امام شافعي ته چې دا خبر ورسېد، نو هغه ته یې یو لیک ولیکه: «اما بعد، خپل ځان ته په هغه څه ډاډ ورکړه چې نورو ته یې ورکوې، او خپله دا کړنه (له خوراک څښاک انکار) هغسې بده وګڼه لکه د نورو خلکو دا ډول عمل چې درته بد سکاري. پوه شه چې تر ټولو زیانمنوونکی مصیبت دا دی چې د زوی له لاسه ورکولو غم هم تېر کړي او له اجره هم بې برخې شې؛ نو حال به څنګه وي که د ګناه په ګټلو کې دواړه سره یوځای شې؟ زه تاته د تسلیت ډاډ درکوم، نه دا چې زه به دلته د تل لپاره پاتې شم، بلکې دا د دین لاره ده؛ نه تسلیت ورکوونکی له خپل ملګرې وروسته پاتې کیدونکی دی او نه هغه چا ته چې تسلیت ورکول کیږي (مصیبت ځپلی)، که څه هم تر یو وخته ژوند وکړي!»

خلکو دا لیک دومره خوښ کړ چې حفظ یې کړ او په بصرې سار کې به یې د غم په وخت کې یو بل ته د ډالۍ په توګه ورکاوه.

ketabton.com - The Digital Library

۳۷ هغه څوک چې پر الله قسم خوري (چې نېکي به نه کوي) چېرته دی؟!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپلې خونې تر څنګ د دوو کسانو د جنجال غږ واورېد چې غږونه یې لوړ شوي وو؛ یو تن له بل څخه غوښتنه کوله چې د پور (قرض) په ادا کولو کې ورسره نرمي وکړي، یو څه برخه ورته وبسيٰ او د تادیې موده ورته اوږده کړي.

خو پور ورکوونکي ورته وویل: «پر خدای قسم چې دا کار نه کوم!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته راووت او ویې فرمایل: **«هغه څوک چې پر الله قسم خوري چې نېکي (معروف) به نه کوي، چېرته دی؟»**

هغه سړي عرض وکړ: «یا رسول الله، زه یم، او هغه (پور وړی) ته چې هر ډول خوښه وي، هغسې به ورسره کوم!» (یعنې که پور ورته کموي او که موده ورته اوږده کوي، اختیار یې د هغه دی).

په دې حدیث کې هدف دا نه دی چې مور د حقدار پر وړاندې ودرېږو، او نه هم خلک دې ته هڅوو چې خپل پورونه او واجبات ادا نه کړي، بلکې اصل هدف دا دی چې خلک باید له حق او واجب وړاندې له یو بل سره په اخلاقو او رحم چلند وکړي!

دا نړۍ په یو حال نه پاتې کیږي؛ یوه ورځ فقر وي او بله ورځ شتمني، یوه ورځ روغتیا وي او بله ورځ ناروغي. په مور کې داسې څوک نشته چې کله له داسې حال سره نه وي مخ شوی چې بل ته یې ارتیا پیدا شوې وي، یا د بل چا پر وړاندې داسې حالت راغلی وي چې الله دی د هغه د مرستې لپاره وسیله کړی وي. نو دا د شرم خبره نه ده چې د سړي لاس تنګ شي، او نه دا کومه نیمګړتیا ده چې د خپلې تنګسیا د لیرې کولو لپاره بل چا ته ورشي؛ نبي کریم صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې وفات شو چې زغره یې د یو یهودي سره په (ګرو) کې وه!

خو عیب دا دی چې د خپلوانو، دوستانو او ګاونډیانو ترمنځ معامله یوازې پر دې ولاړه وي چې: «خپل غم خپله وخوره، زه خپل حق غواړم!»

طبیعي ده چې ته د حق خاوند یې او ستا حق هیڅ شی نه شي ختمولی مګر دا چې ته په خپله خوښه ترې تېر شې. خو خبره دا ده چې انسان ټول عمر په عبادت کې وي، او له خلکو سره احسان کول یو له هغو لوړو عبادتونو څخه دی چې الله سبحانه و تعالی ته ډېر خوښ دی.

د هغه چا ترمنځ چې ستا له پور څخه بېخي منکر وي او د هغه چا ترمنځ چې ستا حضور ته په مات زړه راځي او د نرمۍ او اسانۍ غوښتنه کوي، ډېر لوی فرق شته. له لومړي کس څخه د خپل حق اخیستلو لپاره باید له ټولو قانوني لارو کار واخلې، که څه هم محکمو ته لاړ شې. خو د دویم کس په اړه دا ډېره د شرم خبره ده چې پر عزت یې رحم ونه کړې، د زړه تسلي یې ونه کړې او د هغه پر مخ د اوبو (آبرو) خیال ونه ساتې!

ketabton.com - The Digital Library

تل دا یاد لره چې ته له یو ډېر کریم او وفادار رب سره معامله کوې، هغه د نېکۍ بدله د نېکۍ په بڼه ورکوي. ځوک چې د یو مسلمان د دنیا یوه سختي لیرې کړي، الله به د هغه د قیامت د ورځو له سختیو څخه یوه سختي لیرې کړي. او ځوک چې په دنیا کې د یو مسلمان پرده وساتي، الله به یې په قیامت کې پرده وساتي. دا یوازې په اخرت کې نه، بلکې په دنیا کې هم دي؛ الله تر دې ډېر کریم دی چې ته د یو چا مرسته وکړې او کله چې ته مرستې تـه اړ شـې، هغـه درتـه کـوم مرستندوی پاتې نه کړي. الله تر دې ډېر غني دی چې ته د چا مات زړه رغې او بیا ستا زړه مات پرېږدي.

هر مرستندوی لاس چې ته د خلکو په لور غځوې، هره د زړه تسلي، هره بښنه او تېرېدنه، د هر چا د اړتیا پوره کول او د هر چا د پردې ساتل؛ دا هر څه الله تاته ساتي. کله چې ستا پر ژوند د ورځو څرخ راوګرځي، دا نېکۍ به د سپین سبا په څېر ستا مخې ته راشي. او شاید هغه سختې ورځې پر تا را هم نه شي، ځکه چې تا د خپل نېک عمل له لارې د نعمتونو شکر ادا کړی دی، او په شکر سره نعمتونه تلپاتې کیږي!

۳۸ او ته اې عمره! د نوح په څېر یې

د بدر غزا په داسې پرېکنده بریا پای ته ورسېده چې الله تعالی پکې اسـلام او مسـلمانانو تـه عـزت ورکـړ او شـرک او مشرکان یې ذلیل کړل. کله چې اسیران نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راوستل شول او د هغوی په اړه تر اوسه کوم وحی نه وه نازله شوې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو سره مشوره وکړه.

ابوبکر صدیق (رض) وویل: «یا رسول الله! دا خلک زمور د تره زامن، خپلوان او وروڼه دي. زما نظر دا دی چې له دوی څخه فدیه (مال) واخلو، دا به د کافرانو پر وړاندې زمور لپاره قوت شي او هیله ده چې الله دوی ته هدایت وکړي او په راتلونکي کې زمور ملاتړي شي.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمر (رض) ته وفرمایل: «ستا نظر څه دی اې د خطاب زویه؟»

عمر (رض) وویل: «پر خدای قسم! زما نظر د ابوبکر د نظر په څېر نه دی. زما نظر دا دی چې ماته اجازه راکړې چې د خپل پلانې نږدې خپلوان سر پرې کړم، او علي ته اجازه ورکړې چې د عقیل سر پرې کړي، ترڅو الله ته معلومه شي چې زمور په زړونو کې د مشرکانو لپاره هیڅ نرمي نشته.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلې خیمې ته داخل شو او له چا سره یې خبرې ونه کړې. ځینو خلکو ویل چې د ابوبکر نظر به ومني او ځینو ویل چې د عمر نظر به ومني. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له خیمې راووت او ویې فرمایل:

«بې شکه الله تعالی د ځینو کسانو زړونه (د حق په لاره کې) دومره نرموي چې تر شیدو هم نرم شي، او د ځینو کسانو زړونه دومره سختوي چې تر ډبرې هم سخت شي. اې ابوبکره! ستا مثال د ابراهیم (ع) په څېر دی کله چې یې ویلي وو: "او چا چې زما نافرماني وکړه، نو ته بښونکی او مهربان یې." او د عیسی (ع) په څېر یې چې ویلي یې وو: "که ته هغوی ته بښنه وکړې، نو ته غالب او د حکمت خاوند یې." او اې عمره! ستا مثال د نوح (ع) په څېر دی کله چې یې ویلي وو: "اې ربه! پر ځمکه له کافرانو څخه یو تن هم مه پرېږده." او د موسی (ع) په څېر یې چې ویلي یې وو: "اې ربه! د دوی مالونه محوه کړه او زړونه یې سخت کړه."»

ketabton.com - The Digital Library

بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ابوبکر صدیق (رض) نظر ومنلو. کله چې بله ورځ شوه، عمر (رض) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورغی، ویې لیدل چې هغه او ابوبکر دواړه ژاړي. عمر (رض) وویل: «یا رسول الله! ماته ووایه چې ته او ستا ملګری ولې ژاړئ؟ که مې ژړا راغله زه به هم وژاړم، او که ژړا مې رانه غله، نو ستاسو په ژړا به ځان په ژړا کړم.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته خبر ورکړ چې الله تعالی د فدیې په اخیستلو خوښ نه شو او دا آیت یې نازل کړ: «هیڅ نبي ته نه ښایي چې اسیران ولري ترڅو چې په ځمکه کې (د دښمن) ښه وینه تویه نه کړي.»

د کیسې درس:

په دې کیسه کې څرګنده خبره دا ده چې د خلکو طبیعتونه (خویونه) یو له بل سره توپیر لري، حتی د پیغمبرانو هم! طبع او خوی د ایمان له کچې سره تړاو نه لري؛ ابراهیم، عیسی، نوح او موسی (علیهم السلام) ټول "اولو العزم" پیغمبران وو، خو په ابراهیم او عیسی کې داسې نرمي وه چې په نوح او موسی کې نه وه. کټ مټ لکه په ابوبکر کې چې نرمي وه او په عمر کې سختي او هوډ وو، حال دا چې دواړه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم وروسته د دې امت غوره کسان دي.

په ژوند کې د خلکو ډېری دریځونه د هغوی په طبع پورې اړه لري، نه په ایمان پورې. مور د پیغمبرانو د ایمان ترمنځ پرتله نه کوو ځکه هغوی ټول د ایمان په لوړه څوکه کې دي، خو د طبیعت له مخې هغوی جلا لارې درلودې، نو د عامو خلکو حال به څنګه وي؟

په خلکو کې غصه ناک او حلیم شته، سخت او نرم شته، سخی او بخیل شته. که مور د هغو خلکو په طبیعت پوه شو چې ورسره چلند کوو، نو له ډېرو ستونزو به خلاص شو او د هغوی پر ډېرو کړنو به پوه شو. د خلکو په طبع ځان پوه کړئ، د هغوی سره د چلند نیمه لاره به مو وهلې وي!

۳۹ الهام شوي کسان (مُحدثون):

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل خپلو اصحابو ته وفرمایل: «ستاسو څخه وړاندې امتونو کې داسې کسان وو چې خبرې به ورته الهام کېدې (مُحدثون)، که زما په امت کې داسې څوک وي، نو هغه به عمر وي!»

الله سبحانه وتعالی دا نړۍ د رزقونو (وښې) وګرځوله او هر څه یې په داسې حکمت ووښل چې هغه پرې پوهېږي، که څه هم له خلکو پټ وي. الله تعالی نه څوک د نېستۍ له امله غریب پیدا کړی او نه یې څوک د پلوۍ له مخې شتمن کړی دی – الله تعالی له دې ډېر لوړ دی – بلکې دا د ازموینې کور دی! لکه څنګه چې الله تعالی د خپل حکمت له مخې مالونه په ببلابېلو اندازو وښلي، همداسې یې روغتیا او عقلونه هم وښلي دي؛ ځکه د خلکو د عقلونو ترمنځ توپیر د هغوی د رزقونو له توپیر څخه ډېر زیات دی!

باقلاني د مسلمانانو له ځیرکو عالمانو څخه و. یو وخت خلیفه هغه د قسطنطنیې د روم پاچا ته د استازي په توګه واستاوه. کله چې هغه ورغی، هلته یې لوی راهبان او پادریان ولیدل، نو ویې غوښتل له فرصت څخه د الله لورې ته د بلنې (دعوت) لپاره استفاده وکړي. په ډیر هوښیارۍ سره د لوی راهب لورې ته ورغی او ویې پوښتل:

ketabton.com - The Digital Library

«حال دې څنګه دی؟ مېرمن او اولادونه دې څنګه دي؟»

د روم پاچا په غوسه شو او ویې ویل: «زمور د مشر درناوی وکړه! ایا نه پوهېږې چې راهبـان واده نـه کـوي او اولاد نـه راوړي؟»

باقلاني وویل: «سبحان الله! تاسو خپل راهبان له واده او اولاد څخه پاک ګڼئ، خو پر خپل رب دا تور پورې کوئ چې مریم یې په نکاح کړې وه او عیسی (ع) ترې پیدا شوی!»

هلته نو د روم پاچا په بېشرمۍ سره وویل: «د عایشې په اړه څه لرې؟ (د افک کیسې ته یې اشاره وه)»

باقلاني ځواب ورکړ: «که پر عایشه تور پورې شوی وي، پر مریم هم پورې شوی و. دواړه پاکې او سپېڅلي دي. خو عایشې واده کړی و او اولاد یې نه و، مریم اولاد راوړ او واده یې نه و کړی؛ نو کومه یوه به باطل تور ته نږدې وي؟ (په داسې حال کې چې دواړه پاکې دي!)»

پاچا له غوسې لېونی شو او ویې ویل: «ایا ستاسو پیغمبر جنګونه کول؟»

باقلاني: «هو.»

پاچا: «ایا په لومړۍ صف کې یې جنګ کاوه؟»

باقلاني: «هو.»

پاچا: «ایا بریالی کېده؟»

باقلاني: «هو.»

پاچا: «ایا ماتې یې هم خوړلې؟»

باقلاني: «هو.»

پاچا وویل: «پیغمبر وي او ماتې خوري؟!»

باقلاني ورته وویل: «خدای وي او په دار ځړول کېږي؟!» (د مسیحیانو عقیدې ته په اشارې)

پاچا غلی شو او له هغې وروسته یې یوه کلمه هم ونه ویله!

د دې ټولو خبرو موخه دا ده: چې خلک ببلابېل عقلونه او خویونه لري. ځینې ډېر ځیرک دي، ځینې منځـني دي او ځینې بیا داسې ساده دي چې پر ساده خبره هم سخت پوهېږي. دا هغه حقیقت دی چې باید روزونکي (ښوونکي) ورسره په جدیت چلند وکړي. د تعلیم ټوله پروسه باید پر همدې بنسټ ولاړه وي؛ ځکه له ټولو زده کوونکو څخه د یو شان پایلې او یو شان پوهې تمه لرل داسې دي لکه په سمندر کې چې غنم وشیندې او د ورېې کېدو انتظار یې وباسې!

سربېره پر دې، ساده او منځنی ذهن لرونکی انسان باید تر ملندو، پیغور او توهین لاندې رانشي. بلکې د هر چا عقلي وړتیا ته کتل پکار دي او هغسې کار ورسپارل پکار دي چې ورسره مناسب وي. دا د خلکو پر وړاندې د الله تعالی رحمت دی چې هر انسان ته یې یو داسې کار ورکړی چې نور خلک ورته اړتیا لري. ټولنه یو ځنځیر دی چې د بشپړېدو لپاره یې ټولو کړیو ته اړتیا شته.

ketabton.com - The Digital Library

بیا دا چې اصلي خبره په ایمان کې ده؛ ته به یو ساده انسان ګورې چې جومات ته ځي او په ټول اخلاص خپل رب ته سجده کوي، خو بل خوا به د فضا یو ستورمزلی (Astronaut) ګورې چې غوا لمانځي، یا به د اعصابو یو جراح ګورې چې د دې کایناتو له خالق څخه منکر وي!

۴۰ اې الله! ما د هغه په څېر مه ګرځوې:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عادت دا و چې د خپلو اصحابو په مجلسونو کې به یې ګټورې او په زړه پورې خبرې کولې. یو ځل یې په یوه مجلس کې د بني اسرائیلو یوه ښکلې کیسه ورته بیان کړه او ویې فرمایل:

«یوه ښځه وه چې خپل ماشوم ته یې شیدې ورکولې، په دې وخت کې یو سپور سړی چې ډېر دبدبه او شهرت یې درلود، پر هغوی تېر شو.

مور یې (د هغه په لیدلو) وویل: اې الله! زما زوی هم د ده په څېر کړه.

ماشوم د هغې تی پرېښود، سپاره ته یې وکتل او ویې ویل: اې الله! ما د ده په څېر مه ګرځوې.

بیا یې ببرته په شیدو رودلو پیل وکړ.

بیا یوه وینځه تېره شوه (چې خلکو ورپسې خبرې کولې)، مور یې وویل: اې الله! زما زوی د دې په څېر مه ګرځوې.

ماشوم بیا د مور تی پرېښود او ویې ویل: اې الله! ما د دې په څېر کړه!

مور یې وویل: دا ولې؟

ماشوم وویل: هغه سپور سړی یو ظالم او جبار و، او دا وینځه چې خلک وایي غلا او زنا یې کړې ده، په حقیقت کې یې هیڅ نه دي کړې (مظلومه ده)!»

- عبرتونه او پیغامونه:

قرآني او نبوي کیسې یوازې د وخت تېرولو او ساتېرۍ لپاره نه دي، که څه هم په زړه پورې وي، بلکې دا د عبرت اخیستلو لپاره دي. له دې وړاندې دا پر غیبو د ایمان او تصدیق ازموینه ده چې دا پېښې رښتیا شوې دي، که څه هم عقل ته عجیبه ښکاري او د طبیعت له قانون سره په ټکر کې وي؛ ځکه د طبیعت قوانین پر خلکو چلېږي، نه پر الله تعالی!

ابراهیم (ع) واقعاً په اور کې ونه سوځېد، موسی (ع) په رښتیا سمندر په لکړه دوه ټوټې کړ، یونس (ع) په رښتیا د کب په نس کې پاتې شو او سلیمان (ع) یقیناً د مرغانو او حیواناتو په ژبه پوهېده. دا کیسه هم د "صادق او مصدوق" (رښتیني پیغمبر) له کیسو څخه ده چې امام بخاري روایت کړې ده، نو ایمان پرې لرل واجب او عبرت ترې اخیستل ارین دي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم مور ته رابښي چې ظاهري بڼه او د نړۍ رنګ او خوند مو باید ونه غولوي. هغه سپور چې مور یې هیله کوله زوی یې هغسې شي، یو ظالم انسان و، او هغه وینځه چې مور یې ترې پناه غوښته، یوه پاکه او مظلومه نجلۍ وه.

ketabton.com - The Digital Library

زما ملګریه!

ظاهري بڼې دې تېر نه باشي؛ ځکه که ته له ابوبکر صدیق (رض) سره د مدینې په کوڅو کې مخ شوی وای، هغه یو ډنګر سړی و چې کالي یې په لاس سمول، ښایي پام دې ورته نه وای کړی، په داسې حال کې چې هغه له پیغمبرانو وروسته د نړۍ تر ټولو غوره انسان دی!

که ته له عمر فاروق (رض) سره په کوڅه کې مخ شوی وای او هغه دې لیدلی وای چې په پیوند لرونکو جامو کې په بیړه روان دی، ښایي تاته داسې ښکاره شوی وای چې کوم محتاج سړی دی او د صدقې پسې منډې وهي، خو هغه داسې څوک و چې شیطان به یې له لارې تېښته کوله!

که دې حذیفه بن الیمان (رض) د "صفې" په اصحابو کې لیدلی وای چې د چا صدقې ته په تمه دی، ښایي تاته ډېر مسکین ښکاره شوی وای، خو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رازونو ساتونکی و!

نو ظاهري بڼه دې تېر نه باشي؛ که دې قارون په خپل مال او دولت کې لیدلی وای، شاید تا هم د هغه وخت د خلکو په څېر هیله کړې وای چې کاشکې زما مال هم د ده غوندې وای، خو لږ وخت وروسته هغه له خپل کور او جایداد سره یوځای په ځمکه کې ننووت!

او که دې فرعون په خپله دبدبه کې لیدلی وای چې امر او نهي یې کوله، ښایي د هغه د مقام او رزق تمه دې کړې وای، خو وخت بدل شو او هغه په سمندر کې غرق او په ساحل کې یو داسې مړی شو چې راتلونکو نسلونو ته عبرت وګرځي!

۴۱ اې ربه! د قیامت په ورځ زما ګناهونه وبښې:

یوه ورځ عایشې (رض) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: «یا رسول الله! عبدالله بن جدعان په جاهلیت کې د خپلوۍ پالنه (صله رحم) کوله او مسکینانو ته یې خواړه ورکول، ایا دا کار به هغه ته ګټه ورسوي؟»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «دا ورته ګټه نه رسوي؛ ځکه هغه هیڅکله دا نه دې ویلي: اې ربه! زما ګناهونه د قیامت په ورځ وبښې!»

یو له هغو شیانو څخه چې مسلمانان نن سبا پرې اخته دي دا دي چې کله کوم کافر مړ شي او هغه یو مشهور مخترع، پیژندل شوی خیریه کار کوونکی، یا مهربان انسان وي، نو خلک وایي: «دین د الله دی، الله د هغه په زړه پوهېږي، که دی جنتي نه وي نو بیا به څوک وي!» یا هم خپله هغه مشهوره جمله وایي: «خپلې ښېګڼې او بدګڼې یې له ځان سره یووړې!»

خو کله چې د مسلمانانو کوم عالم او فقیه وفات شي، وایي: «ایا دا هغه نه و چې فلاني وخت یې داسې او داسې فتوا ورکړې وه؟!»

دوی د کافر لپاره د نړۍ تر ټولو ښه عمل لټوي، خو د مسلمان لپاره تر ټولو بد عمل!

ketabton.com - The Digital Library

لومړی دا چې مور باید له الله تعالی سره ادب مراعات کړو؛ د هیڅا په اړه د جنت یا دوزخ پربکنده حکم ونکړو، ځکه د ټولو خلکو معامله له الله سره ده؛ که یې خوښه شوه له خپل رحمته به یې جنت ته داخل کړي او که یې خوښه شوه له خپل عدل څخه به یې دوزخ ته واچوي.

خو دا یوه ناقصه پوهه ده چې مور د انسان د ښو کارونو او د هغه د فاسدې عقیدې او دین ترمنځ خلط (ګډوډي) وکړو!

دا سمه ده چې ټول غیرمسلمانان یو شان نه دي، لکه څنګه چې ټول مسلمانان یو شان نه دي، خو دا باور لرل چې له اوره خلاصون د یو ډاکټر په جوړ کړي درمل، یا د یو شتمن په یتیم خانې پورې تړلی دی او دین یوې خواته پربږدو، دا د "توحید" د موضوع سپکاوی او ساده ګڼل دي. حال دا چې د همدې توحید لپاره الله مخلوقات پیدا کړي، رسولان یې رالېږلي، کتابونه یې نازل کړي او جنت او دوزخ یې جوړ کړي دي!

هو، مور د کافر پر فضیلت (که فضیلت ولري) اعتراف کوو او د هغه د انساني خدمت ستاینه کوو، دا هغه انصاف دی چې مور ته یې امر شوی. مګر دا چې دا کار د هغه د جنت ته تللو بیه وګرځوو، دا د عقیدې فساد دی. کله چې مور د یو طاعت کوونکي مسلمان لپاره د جنت پربکنده حکم نشو کولی، نو د یو کافر نېک چارې لپاره یې څنګه کولی شو؟

هغه خیر چې یو غیرمسلمان یې ترسره کوي، دا له هغه فطرت څخه دی چې الله تعالی انسانان پرې پیدا کړي دي. او الله تعالی تر هرچا ډېر عادل دی که په وه شي د کوم بنده په زړه کې یې ریښتینی خیر شته،ایا هغه به همداسې په غیر اسلام مړ کړي؟!

حسن بصري (رح) فرمایي: «زما یو مجوشي (اور لمانځونکی) ګاونډی و چې مرګي حال ته نږدې و. هغه ډېر ښه ګاونډی، نېک سیره او خوش اخلاقه سړی و. ما له الله تعالی څخه هیله وکړه چې د مرګ په وخت کې هغه ته توفیق ورکړي او په اسلام یې مړ کړي.

ورغلم او ومې پوښتلو: حال دې څنګه دی؟

هغه وویل: زړه مې ناروغ دی او روغتیا نلرم، بدن مې کمزوری دی او طاقت نلرم، قبر مې وېروونکی دی او مونس نلرم، سفر مې لرې دی او توښه نلرم، پل‌صراط مې ډېر نری دی او د تېرېدو اجازه نلرم، اور مې ګرم دی او د زغم بدن نلرم، لور جنت شته خو برخه پکې نلرم، او رب مې عادل دی خو زه هیڅ حجت (دلیل) نلرم!

ما ورته وویل: نو ولې اسلام نه راوړې چې وژغورل شې؟

هغه وویل: اې شیخه! کلي د "فتاح" (خلاصولونکي رب) په لاس کې ده او قفل دلته دی (سینې ته یې اشاره وکړه) او بېهوشه شو.

ما وویل: الهي! زما مولا! که د دې مجوشي کومه نېکي ستا په وړاندې قبوله وي، نو مخکې له دې چې روح یې ووځي هغه نېکي ورته ورسوه.

هغه ښېرته په هوښ راغی، سترګې یې وغړولې او ویې ویل: اې شیخه!

"فتاح" کلي رالېږلې ده، خپل شيې لاس راکړه! زه شاهدي ورکوم چې نشته هیڅ لایق د عبادت مګر الله دی او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی! او په همدې حال کې یې روح ووته.»

ketabton.com - The Digital Library

۴۲ الله یوازې پر هغو بندګانو رحم کوي چې رحم کوونکي وي:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لور، زینب (رض) هغهصلی الله علیه وسلم پسې څوک واستول او غوښتنه یې وکړه چې ورشي، ځکه د کوچني زوی زړه کدن یې نږدې وه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ځواب ولېږه:

«هغه څه چې الله واخیستل د هغه وو او څه یې چې راکړي وو هغه هم د هغه وو، او د هر څه لپاره د هغه په وړاندې یو ټاکل شوی وخت شته؛ نو صبر کوه او د اجر تمه لره.»

خو زینب (رض) بیا څوک ور واستول او په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې قسم یاد کړ چې خامخا ورشي. رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو یو شمېر اصحابو سره چې سعد بن عباده، معاذ بن جبل، ابي بن کعب او زید بن ثابت (رضي الله عنهم) هم پکې وو، هغې ته ورغی. ماشوم یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړ چې ساه یې لنډه لنډه کېده، په دې وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترګو اوښکې روانې شوې!

سعد بن عباده ورته وویل: یا رسول الله، دا څه دي؟ (یعنې تاسو او ژړا؟)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا هغه رحمت دی چې الله تعالی یې د خپلو بندګانو په زړونو کې پیدا کوي، او الله یوازې پر هغو بندګانو رحم کوي چې رحم کوونکي وي.»

د ژوند پیغام:

د عزیزانو له لاسه ورکولو باندې ژړل له صبر سره په ټکر کې نه دي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ډېرو عزیزانو په مرګ ژړلې دي. خو په دې باید وپوهېږو چې رحمت یوازې په ژړا پورې محدود نه دی او نه هم "رحم کوونکي" بندګان یوازې هغه څوک دي چې د چا په مرګ اوښکې تویوي.

پر بندګانو رحمت یو عملي چلند دی چې ته یې هره ورځ ترسره کولی شې:

- کله چې وینې مېرمن دې د کور په کارونو کې ډوبه ده او ته ورسره مرسته کوې، نو ته له **رحم کوونکو** څخه یې! کله چې هغه په کوم کار تا غوسه کړې او ته خپله غوسه کنټرولوې او ګذشت کوې، بیا هم ته له **رحم کوونکو** څخه یې!
- کله چې د سړک پر غاړه یو غریب پلورونکی وینې، له هغه څخه سودا اخلې، په بیه کې جنجال نه ورسره کوې او څو روپۍ ورته پرېږدې چې د الله په وړاندې یې پټه صدقه وبولې، نـو تـه لـه **رحم کوونکو** څخـه یې! دا د افسوس ځای دی چې مور داسې کسان وینو چې له یو مسکین سره پر یوې او دوو روپیو داسې بحث کوې لکه د نړۍ د پېرلو معامله چې کوې، خو چې کله یو مشهور هوټل ته لاړ شې، هلته د ټولنیز "پرستیژ" لپـاره دومـره بخشش (Tip) پرېږدې چې شاید د هغه غریب پلورونکي د ټولې ورځې ګټه وې!
- کله چې د دوو نږدې کسانو ترمنځ کورنۍ شخړه رامنځته شي او ستا زړه درد کوي چې دا کورنۍ تیت وپریت نشي، نو منډې ترړې کوې، سوله ورته کوې او د هغوی ژوند ښېرته سموې، نو ته له **رحم کوونکو** څخه یې!

ketabton.com - The Digital Library

- کله چې د یو داسې فقیر د ناروغۍ خبر اورې چې په شتوالي یې څوک نه پوهېږي او په نشتوالي یې څوک نه خفه کېږي، خو ته یې پوښتنې ته ورغلې او د هغه د زړه تسلي دې وکړه، نو ته له **رحم کوونکو** څخه یې!
- کله چې په دنده کې له خپلو همکارانو سره مرسته کوې او د هغه چا ځای ډکوې چې په بېړنۍ ډول غیرحاضر شوی، نو ته له **رحم کوونکو** څخه یې!

هر ډول ګټه رسول، د چا د مات زړه پیوندول او احسان چې ته یې له خلکو سره د الله د رضا لپاره کوې، دا ستا په زړه کې یو رحمت دی چې په بدل کې به یې د رحمان رب له لورې تر دې لوی رحمت ومومې.

۴۳ ترڅو چې عدل یې خلاص کړي!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو اصحابو ته وفرمایل: «د لسو کسانو هر امیر بـه د قیـامت پـه ورځ داسې راوستل شي چې لاسونه به یې په غاړه پورې تړلي وي، تر دې چې یا به یې عدل خلاص کړي او یا بـه یې ظلم هلاک کړي!»

دلته «امیر» هغه څوک دی چې د مسلمانانو د چارو له جملې څخه د کومې چارې مسؤل وي؛ له ولسمشر څخه نیولې د کورنۍ تر مشر پورې، هر څوک چې مسؤلیت لري په خپله برخه کې امیر دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم مور ته خبر راکوي چې هر څوک چې پر کومه څوکۍ ناست وي، د قیامت په ورځ به تړلی راوستل کیږي، که عادل و، نو عدل به یې بندونه خلاص کړي او که ظالم و، نو ظلم به یې تباه کړي.

یو تاریخي مثال:

د امیر المؤمنین علي بن ابي طالب رضی الله عنه د خلافت په وخت کې د هغه یوه زغره ورکه شوه، چې ده ته ډیره ګرانه وه. هغه یې د کوفې په بازار کې د یو ذمي (غیر مسلمان تبعه) په لاس کې ولیده چې خرڅوله یې. ورته یې وویل: «دا زما زغره ده، په فلاني شپه رانه لویدلې وه!»

خو هغه سړي اعتراف ونه کړ او ویې ویل چې راځه قاضي ته لاړ شو. خلیفه له خپل مخالف لورې سره یوځای د قاضي شُریح محکمې ته لاړلو.

قاضي شُریح له علي رضی الله عنه څخه وپوښتل: «ای امیر المؤمنینه، ستا دعوه څه ده؟»

علي رضی الله عنه وفرمایل: «دا زما زغره ده، په فلاني شپه رانه لویدلې وه، ما نه پر ده خرڅه کړې او نه مې ډالۍ کړې ده، نو دا ورسره څه کوې؟»

قاضي له ذمي څخه وپوښتل، هغه ټینګار وکړ چې زغره د ده ده.

شُریح علي رضی الله عنه ته وویل: «ای امیر المؤمنینه، زه ستا په ښتینولي شک نه لرم، خو قانون وایي چې مـدعي (دعوه کوونکی) باید شاهدان راولي او منکر (بل لوری) باید قسم وخوري، ایا ته شاهدان لرې؟»

ketabton.com - The Digital Library

علي رضی الله عنه وویل: «زما دوه زامن، حسن او حسین پرې شاهدان دي.»

شُریح ورته وویل: «ای امیر المؤمنینه، د زوی شاهدي د پلار لپاره نه قبلیږي.»

بیا یې له ذمي څخه وغوښتل چې قسم وخوري، هغه قسم وخوړ چې زغره یې خپله ده. قاضي د ذمي په ګټه پریکړه وکړه، هغه زغره واخیسته او روان شو.

خو هغه سړی چې لږ لرې لاړ، بیرته راوګرځید، زغره یې بیرته ورکړه او کلمه یې وویله: «أشهد أن لا إلـه إلا اللـه وأن محمداً رسول الله». دا ځکه چې هغه په قضاوت کې د مسلمانانو دا هښونکی عدل ولید.

شُریح قاضي پوهیده چې امیر المؤمنین رښتیا وایي او حسن او حسین (رضی الله عنهما) چې د جنت د ځوانانو سرداران دي، هیڅکله درواغ نه وایي، خو قانون روښانه و او هغه یې کټ مټ پلي کړ، که څه هم د خلیفه په زیان و.

- د ژوند پیغام:

ای هغو کسانو چې د دندو په ویشلو کې واک لری!

ایا دنده دې مستحق او وړ کس ته ورکړې که هغه چې د فلانکي په واسطه درغلی و؟

- **ای د پولیسو آمره!**

ایا قانون دې پر ټولو یو شان پلی کړ، که د چارواکي زوی دې خوشې کړ او د غریب زوی دې زنداني کړ؟

ای مدیره!

ایا د خپلو مامورینو ترمنځ دې عدل وکړ که مینه او واسطه دې وپالله؟

ای پلاره!

ایا د خپلو اولادونو ترمنځ دې په ورکړه او محبت کې انصاف وکړ که توپیر دې وکړ؟

مور هر یو په خپله برخه کې امیر یو، او الله جل جلاله مو مسؤلیتونو ته ګوري. نو د هغې ورځې لپاره تیاری ونیسئ چې ترلې به راوستل کېږو؛ یا به مو عدل خلاصوي او یا به مو ظلم هلاکوي!

۴۴ او هغه سړی چې داسې صدقه ورکړي چې پټه یې وساتي!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو وخت خپلو اصحابو ته د هغو اوو کسانو په اړه خبر ورکړ چې الله تعالی به ورته په هغه ورځ په خپل سیوري کې ځای ورکوي چې بې له هغه بل هیڅ سیوری نه وي؛ په هغو کې یو هغه سړی و چې داسې په پټه یې صدقه کړې وي چې چپ لاس یې هم خبر نه وي چې ښۍ لاس یې څه مصرف کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library

تاريخي بېلګه:

حضرت زين العابدين علي بن الحسين (رضي الله عنهما) به هره شپه په خپله شا باندې خوراکي توکي او صدقات بارول او د مدينې د کونډو او فقيرانو کورونو ته به يې رسول. هغوی نه پوهېدل چې دا خوراک څوک ورته ږدي. ده به دا کار په خپله کاوه او هيڅ خادم يا ملګري يې نه ورسره کاوه، ترڅو بل هيڅوک پرې خبر نه شي.

دا لړۍ کلونه روانه وه او فقيران نه پوهېدل چې دا څوک دی. خو کله چې هغه وفات شو، د غسل پر مهال يې پر شا باندې د کڅوړو د وړلو نښې وليدل شوې. د هغه له مړينې سره سم، پر هغو دروازو د خوراکونو اېښودل هم بند شول، نو خلک پوه شول چې دا هماغه د پټې صدقې خاوند و.

پټه صدقه ولې ډېر اجر لري؟

۱. له ريا څخه پاکوالی:

ځکه سړی نه غواړي خلک يې وګوري، يوازې د الله رضا غواړي. دا د اخلاص لوړه درجه ده.

۲. د فقير د عزت ساتنه:

اړتيا انسان ماتوي، او ځينې خلک د نورو په وړاندې د مرستې په اخيستلو شرميږي. پټه صدقه نه يوازې مالي مرسته ده، بلکې د فقير د کرامت او عزت ساتنه هم ده.

د سلفو حال:

پخوانيو خلکو خپلې نېکۍ داسې پټولې لکه خلک چې خپلې ګناوې پټوي.

امام ذهبي د «داود بن ابي هند» په اړه ليکي: هغه څلويښت کاله روژې ونيولې خو کورنۍ يې هم خبره نه وه! هغه به د دکان لپاره له کوره ډوډۍ له ځان سره واخيسته (کورنۍ به يې فکر کاوه چې دی روژه نه دی)، خو په لاره کې به يې پر مسکينانو وويشله. کله به چې ماښام کور ته راغی، له هغوی سره به يې د ماښام ډوډۍ داسې وخوړه چې هغوی به فکر کاوه دا يې د شپې ډوډۍ ده (په اصل کې به يې روژه پرې ماتوله).

ابن الجوزي له حسن بصري څخه روايت کوي چې: «زه له عبدالله بن المبارک سره وم، يو ځای ته ورسېدو چې خلکو اوبه څښلې. هغه وغوښتل اوبه وڅښي خو خلکو ونه پېژانده، دی يې ټېل واهه او تري مخکې شول. کله چې راغی، ماته يې وويل: حقيقي ژوند همداسې وي؛ چې نه وپېژندل شو او نه مو څوک عزت (د شهرت له امله) وکړي.»

پايله:

هر هغه عبادت چې په پټه يې کولی شئ، مه يې ښکاره کوئ. هر هغه صدقه چې پټولی يې شئ، مه يې افشا کوئ. ريا (ځان ښودنه) عمل تباه کوي، او هغه عمل چې د خلکو له سترګو پټ وي، ان شاء الله له ريا څخه به خوندي وي. او کوم عمل چې له ريا پاک شو، هغه مقبول دی.

ketabton.com - The Digital Library

۴۵ په رښتیا چې په تاسو کې ځینې نفرت خپروونکي دي!

یو سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: «ای د الله رسوله! په خدای مې دې قسم وي چې زه د سهار لمانځه ته د فلانکي په خاطر ناوخته راځم، ځکه هغه مور ته ډیر اوږد لمونځ راکوي!»

په هغه ورځ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مبارک مخ د غصې داسې نښې ولیدل شوې چې تر دې وړاندې کله هم نه وې لیدل شوې. بیا یې وفرمایل: «ای خلکو! په تاسو کې ځینې خلک (له دین څخه) فراریان کوي، نو هر څوک چې په خلکو امامت کوي، باید لمونځ سپک (لنډ) کړي، ځکه په هغوی کې سپین ږیري، کمزورې او د حاجت خاوندان وي!»

دا دین هوا او هوس ندي بلکې پیروي (اتباع) دی. کله به چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خلکو ته لمونځ ورکاوه، تر ټولو به یې لمونځ سپک و؛ حتی کله به یې چې د لمانځه په صفونو کې د ماشوم د ژړا غږ واورېد، لمونځ به یې نور هم لنډ کړ، ترڅو د هغې مور زړه د خپل ماشوم په خاطر پریشانه نه شي. خو کله به یې چې په خپله یوازې لمونځ کاوه، نو ټوله شپه به په لمانځه ولاړ و، تر دې چې مبارکې پښې به یې وپړسېدلې!

د امامانو او خطیبانو تېروتنه:

دلته ډیرې امامان او خطیبان تېروتنه کوي؛ هغوی د فردي او ډله ییزو عبادتونو ترمنځ توپیر نه کوي. شاید امام د قرآن له لوستلو خوند اخلي او په اوږدو لمونځونو کې خوند مومي، دا ډیره ښه خبره ده، شپه ورته اوږده ده، هر څومره یې چې زړه غواړي لمونځ دې وکړي. خو کله چې د خلکو امامت کوي، حق نه لري هغوی پر داسې څه مجبور کړي چې توان یې نه لري. په خلکو کې داسې سپین ږیري شته چې په پښو نشي درېدلی، داسې څوک شته چې د اودس ساتل ورته ګران وي، او داسې څوک شته چې هټۍ، کارګاه، وظیفه یا محصل وي چې غواړي د دوو درسونو ترمنځ د جومات ثواب ترلاسه کړي. کله چې امام لمونځ اوږدوي، هغه پر خلکو سختي کوي؛ دی فکر کوي چې ښه کوي، خو په اصل کې بد کوي او خلک له جوماته بیزاري کوي.

مور چې لمونځ کوو، د خشوع لپاره ډیره هڅه کوو. هر څومره چې د امام لمونځ لنډ وي، هغومره د مقتدیانو د تمرکز او خشوع سره مرسته کوي. خو کله چې لمونځ اوږد شي، د شیطان وسوسې ډیریږي او انسان په خپلو فکرونو کې ډوب شي، تر دې چې نه پوهیږي امام څه ووایی. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اسلوب همدا وه چې د ماشوم په ژړا یې لمونځ لنډاوه ترڅو د مور خشوع ګډوډه نه شي.

د جمعې د خطبو حال:

د جمعې د خطبو خو مه پوښتئ! یو څوک منبر ته پورته شي او هیڅ موضوع نه پریږدي؛ له سیاسته نیولې تر اقتصاد او فنونو پورې هر څه بیانوي. د لمانځه وخت تیر شي خو زمور دا ورور له منبره نه ښکته کیږي، ته به وایې چې له منبره جلا کیدل ورته داسې دي لکه له جسده چې روح وځي! تر دې چې خلک اوس د هغه جومات په لټه کې وي چې لاره یې لرې وي خو خطبه یې لنډه وي. دا پر خلکو مشقت راوستل او د الله له کورونو او جمعو څخه د هغوی بیزاري ده.

ketabton.com - The Digital Library

هغه فکر چې خاوند يې په لسو دقيقو کې نشي رسولی، په شپېتو دقيقو کې يې هم نشي رسولی! ستونزه په موضوع کې نه، بلکې د خطيب په اسلوب او طريقه کې ده. هر څومره چې وخت زياتيږي، هغومره د خلکو تلوسه کميږي او سترګې يې ډيريږي. حتماً به تاسو هم ليدلي وي چې خطيب پر منبر غږيږي او خلک لاندې ويده وي!

نو ای خطيبانو، امامانو او واعظانو! تاسو تر ټولو سپيځلې دنده لرئ چې هغه د الله لور ته د خلکو د لارې هوارول دي؛ نو دا هدف د لږ فقهې او ناسم تدبير له امله مه خرابوئ!

۴۶ پر الله باندې د بندګانو حق!

معاذ بن جبل رضي الله عنه له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره پر يوه خره چې «عُفير» نومېده، سپور و. نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «ای معاذه! ايا پوهېږې چې پر بندګانو د الله حق څه دی، او پر الله د بندګانو حق څه دی؟»

معاذ رضي الله عنه وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «پر بندګانو د الله حق دا دی چې يوازې د هغه عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي، او پر الله د بندګانو حق دا دی چې هغه چا ته عذاب ور نه کړي چې له الله سره يې څه نه وي شريک کړي.»

معاذ رضي الله عنه وويل: ای د الله رسوله! ايا خلکو ته دا زيری ور نه کړم؟

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «زيری مه ورکوه، هسې نه چې خلک (يوازې پر همدې) تکيه وکړي او عمل پريږدي!»

معاذ رضي الله عنه دا حديث د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د امر له مخې پټ وساته، خو د ژوند په وروستيو شيبو کې يې د دې ويرې له امله بيان کړ چې د علم پټوونکو په ډله کې رانه شي؛ ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «له چا چې د کوم علم په اړه پوښتنه وشي او هغه يې پټ کړي، د قيامت په ورځ به د اور لګام ور په خوله کړل شي.»

د شرک خطر:

تر ټولو لويه ګناه چې د الله نافرماني پرې کيږي، شرک دی. له دې به بل کوم بد کار وي چې الله بنده پيدا کړي، رزق ورکړي او بيا بنده بل څوک د الله سيال وګرځوي او عبادت يې وکړي؟!

شرک يوازې دا نه دی چې انسان له الله پرته بل معبود ولري (که څه هم دا د شرک تر ټولو بده او لويه بڼه ده)، بلکې يو بل «خفي» يا پټ شرک هم شته چې د خلکو زړونو ته د مېږې په څېر په کراره ننوځي او شايد د خلکو ورته پام هم نه وي. فقهاوو ورته «اصغر شرک» (وړوکی شرک) ويلی دی:

ketabton.com - The Digital Library

- کله چې بنده خپل عبادت د دې لپاره ښایسته کوي چې خلک یې وګوري او ووایي: «ماشاءالله فلانکی څومره عابد او زاهد دی»، دا **شرک** دی.
- کله چې مور له الله پرته پر بل چا قسم خورو، دا **شرک** دی.
- کله چې مور د کورونو پر دروازو تعویذونه ځړوو، یا د ماشومانو پر سینو شین کبان یا مهرې د دې لپاره ځړوو چې له بد نظر او حسد څخه یې وساتي، دا **شرک** دی.
- کله چې مور په قبرونو کې له صالحانو او اولیاوو څخه شفا، مرسته او رزق غواړو، دا **شرک** دی.
- کله چې مور دا عقیده ولرو چې شفا د ډاکټر په لاس کې ده یا په درملو کې ده، دا **شرک** دی؛ د اسبابو کارول او د دې ترمنځ لوی توپیر دی چې ته په دې عقیده شې چې دا اسباب د الله له امر پرته ګټه او زیان رسولی شي!
- کله چې مور باور ولرو چې رزق د کارفرما (مالک) په لاس کې دی، دا **شرک** دی؛ د رزق لپاره د هڅې او د رزق د دروازې او حقیقي رزاق (الله) ترمنځ باید توپیر وکړو.

ځینې داسې عقیدې شته چې شاید ظاهري عمل ورسره نه وي، خو که عقیده سمه نه وي، نور ټول اعمال له منځه ځي. نو راځئ خپله عقیده سمه کړو!

۴۷ کوم انسان غوره دی؟

له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل شول: کوم انسان غوره دی؟

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هغه چې مسلمانان یې له ژبې او لاس څخه خوندي وي!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم مور ته ښوونه کوي چې له خلکو څخه د ضرر لرې ساتل پخپله یو عبادت دی! او دا چې مسلمان که چا ته ګټه نشي رسولی، نو لږ تر لږه باید زیان هم ور ونه رسوي.

ستا حقیقي دین هغه دی چې له خلکو سره ستا په چلند کې منعکس کیږي. دا هغه حقیقت و چې لومړنیو مسلمانانو په ښه توګه درک کړی و؛ یو وخت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د یو سړي په اړه وپوښتل چې ایا څوک یې پیژني؟

یو سړي وویل: ای امیر المؤمنینه، زه یې پیژنم.

عمر رضي الله عنه ورته وویل: شاید ته یې ګاونډی یې، ځکه ګاونډی د خپل ګاونډي له اخلاقو ډیر خبر وي؟

هغه وویل: نه.

عمر رضي الله عنه وویل: شاید په سفر کې ورسره ملګری شوی یې، ځکه سفر د خلکو اخلاق او اصلي خویونه بربنډوي؟

هغه وویل: نه.

عمر رضي الله عنه وویل: شاید معامله او تجارت دې ورسره کړی وي، ځکه راکړه ورکړه (درهم او دینار) د انسانانو اصلي جوهر معلوموي؟

ketabton.com - The Digital Library

هغه وویل: نه.

عمر رضي الله عنه ورته وویل: نو شاید تا هغه په جومات کې لیدلی وي چې لمونځونه کوي؟

هغه وویل: هو.

عمر رضي الله عنه ورته وویل: «نو ته هغه نه پیژنې!»

ابن القیم رحمه الله دین په لنډو ټکو کې داسې تعریف کړی: «ټول دین اخلاق دي، نو چا چې په اخلاقو کې در نه مخکې والی وکړ، په دین کې هم در نه مخکې دی!»

ستا دین په دې کې دی چې د مسلمانانو عزت ستا له شره خوندي وي؛ په غیبت د هغوی غوښې ونه خوړې؛ د هغوی ترمنځ په چغلخورۍ ونه ګرځې چې د اختلافاتو پر اور تېل وشیندې او د ابلیس استازی شې!

ستا حقیقي دین ستا په هټۍ کې دی چې دوکه ونه کړې او د مال خرڅولو لپاره د درواغو قسمونه ونه خوړې؛ستا دین له ګاونډي سره دې چې ستا له اذیت څخه په امان وي؛ له همکارانو سره دې دی چې ستا له شیطانت څخه په امان وي؛ له مور او پلار سره دې دی چې کله زاړه شي ته یې مطیع خادم شې؛ او له خپلو خویندو، وروڼو او خپلوانو سره دې دی چې صله رحمي ورسره وکړې او د ابلیس دا قانون تکرار نه کړې چې وایي «خپلوان لکه لړمان داشي وي!»

ستا دین له غریبانو سره په چلند کې دی؛ په کور کې له خدمتګارې سره، له هغه مسکین پلورونکي سره چې په کوڅو کې ګرځي، د صفایۍ له کارګرانو سره، د ودانۍ له ساتونکي (چوکیدار) سره او له هغو ټولو سره چې بې له الله بل څوک نه لرې!

۴۸ پخوانۍ اړیکې او دوستۍ پالل له ایمان څخه دي!

بي بي عایشه (رضی الله عنها) فرمایي: یوه سپین ږیري سړۍ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغله په داسې حال کې چې هغه له ما سره و. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «ته څوک یې؟»

هغې وویل: زه «جثامه مزنیه» یم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «بلکې ته (له نن وروسته) "حسانه مزنیه" یې! تاسو څنګه یاست؟ حال مو څنګه دی؟ له مور وروسته مو وخت څنګه تیریږي؟»

هغې وویل: مور په خیر یو، زما پلار او مور دې له تا ځار وي ای د الله رسوله!

کله چې هغه ووتله، ما وویل: ای د الله رسوله! دې زړې سړۍ ته دې دومره توجه او پاملرنه وکړه؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دې سړۍ به د خدیجې په ژوند کې د مور کره تګ راتګ کاوه، او په رښتیا چې د پخوانۍ اړیکې (دوستۍ) پالل او سره رعایت کول له ایمان څخه دي!»

ketabton.com - The Digital Library

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د جثامه مزنیه ظاهري بڼه هیره کړې وه، خو کله یې چې وپیژندله، ډیر عزت یې وکړ او په ورین تندي ورسره مخ شو؛ یوازې په دې خاطر چې هغه د بې بي خدیجې (رضی الله عنها) له ملګرو څخه وه. دا د خدیجې د حق او دوستۍ پالل وو چې د هغې ملګرې ته یې عزت ورکړ.

محمد بن واسع رحمه الله فرمایي: «بنده د احسان مقام ته نه رسیږي تر څو چې له هر هغه چا سره ښېګڼه ونه کړي چې ورسره ملګری شوی وي، که څه هم دا ملګرتیا د یو ساعت لپاره وي!»

هغه به چې کله کوم پسه (مېږه) وپلورله، نو اخیستونکي ته به یې د هغې په اړه وصیت کاوه او ویل به یې: «دې له مور سره یو وخت ملګرتیا کړې ده (نو خیال یې ساته)!»

د پخوانۍ اړیکې پالل له ایمان څخه دي!

- کله چې ستا او ستا د یو ملګري ترمنځ شخړه راشي، نو د پخوانۍ ملګرتیا شیبې رایادې کړه؛ هغه خندااګاني چې یوځای مو کړې وي، هغه اوښکې چې یوځای مو تویې کړې وي، او هغه ډوډۍ چې یوځای مو خوړلې وه. په دښمنۍ کې حد مه ماتوه او د بدۍ ځواب په بدۍ مه ورکوه، ځکه د پخوانۍ دوستۍ پالل له ایمان څخه دي!
- کله چې ستا او ستا د ګاونډي ترمنځ کومه ناسم فهمي راشي، نو ستا د ناروغۍ هغه وخت رایاد کړه چې دی ستا پوښتنې ته درغلی و؛ هغه غمرازې رایاده کړه چې دی درسره ولاړ و، او د روژې په میاشت کې د خوراک هغه کاسه رایاده کړه چې ده درته ډالۍ کړې وه. د نجیبو خلکو "ملګرتیا او ګاونډیتوب" سپک نه وي.
- که ټپي شوې، نو په ارامه ترې جلا شه؛ که سپکاوی دې وشو، نو لرې شه؛ او د ادم علیه السلام د هغو دوو زامنو په څیر شه چې غوره یې هغه و چې حتی کله یې ورور ورته د وژلو لاس اوږد کړ، ده ورته لاس اوږد نه کړ. په رښتیا چې د ښې اړیکې پالل له ایمان څخه دي!

۴۹ د سعد ښیرا راباندې ولګېده!

حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) سعد بن ابي وقاص په کوفه کې والي وټاکه، خو ځینې خلک راغلل او له هغه یې شکایت وکړ. هغوی ډیرې خبرې وکړې حتی تر دې چې ویې ویل: «هغه سم لمونځ هم نشي راکولی!»

عمر (رضي الله عنه) هغه راوغوښت او ورته یې وویل: «ای ابا اسحاق! دا خلک ادعا کوي چې ته ورته سم لمونځ نشې ورکولی؟»

سعد رضي الله عنه وویل: «په خدای مې دې قسم وي چې ما هغوی ته کټ مټ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په څیر لمونځ ورکاوه او هیڅ کمی مې پکې نه کاوه.»

عمر رضي الله عنه ورته وویل: «ای ابا اسحاق! زما ګمان هم پر تا همداسې و.»

بیا عمر رضي الله عنه هغه بیرته کوفې ته ولېږه او ورسره یې یو کس واستاوه ترڅو د کوفې له خلکو د هغه په اړه پوښتنه وکړي. هر جومات ته چې به لاړل، خلکو د سعد صفت کاوه، تر دې چې د «بنو عبس» جومات ته داخل شول. هلته یو

ketabton.com - The Digital Library

سړی چې «اسامه بن قتاده» نومېده، ودرېد او ویې ویل: «سعد پخپله په جګړو کې ګډون نه کوي (له لښکر څخه پاتې کیږي)، په ویش کې انصاف نه کوي او په قضاوت کې عدل نه کوي!»

سعد رضي الله عنه چې دا واورېدل، ودرېد او دعا یې وکړه: «اې الله! که ستا دا بنده درواغجن وي او یوازې د ځان ښودنې او شهرت لپاره یې دا خبرې کړې وي، نو عمر یې اوږد کړې، فقر او بېوسي یې زیاته کړې او په فتنو کې یې اخته کړې!»

الله تعالی د سعد دعا قبوله کړه. هغه سړی دومره ډیر عمر وکړ چې د زړښت له امله یې وریځې پر سترګو راښکته شوې وې؛ ډیر غریب شو تر دې چې له خلکو یې سوال کاوه او په لارو کې به یې نجونې ځورولې. کله به چې ترې وپوښتل شول (دا ولې داسې شوې؟)، هغه به ویل: «زه یو فتنه ځپلی بوډا یم، د سعد ښیرل ووهلم!»

د کیسې په څنډه کې راځي چې عمر رضي الله عنه سعد له امارته لرې کړ او عمار بن یاسر یې وټاکه، دا نه چې پر سعد یې تور ومنه، بلکې عمر رضي الله عنه د واکمن او رعیت ترمنځ د ناسمې فضا او بې اتفاقۍ پلوی نه و؛ که نه نو سعد یو له هغو کسانو و چې عمر رضي الله عنه د خپل ځان څخه وروسته د خلافت لپاره کاندید کړې وو.

ابن عثیمین (رحمه الله) فرمایي: «الله تعالی د مسلمان ظالم پر وړاندې د کافر مظلوم دعا هم قبلوي؛ دا نه چې له کافر سره مینه لري یا له مسلمان سره کرکه، بلکې د عدل سره د مینې او له ظلم څخه د کرکې په خاطر!»

نو د مظلوم له دعا څخه ووېرېږئ، ځکه د هغې او الله ترمنځ هیڅ پرده (حجاب) نشته!

ته څه پوهېږې؛ شاید هغه څوک چې تا پرې ظلم کړی، تهمت دې پرې پورې کړی، مال دې یې خوړلی، له دندې دې د ایستلو سبب شوی یې او یا دې یې عزت او نفس ته زیان رسولی وي؛ هغه شپه چې ټول خلک ویده وي، خو هغه مظلوم به ستا د ظلم له امله ویده نشي، د شپې په وروستۍ برخه کې به راپاڅیږي، اودس به وکړي او لاسونه به لپه کړي او وبه وایي: «اې الله! زه مغلوب شوم، نو ته مې غچ واخله!»

دا د نوح (علیه السلام) دعا وه چې الله تعالی یې په خاطر ټوله ځمکه په اوبو کې ډوبه کړه!

که الله د عدل په خاطر د کافر مظلوم دعا قبلوي، نو د مظلوم مسلمان دعا به څنګه نه قبلوي؟ نو د مظلومانو له ښیراوو ځان وژغورئ او له هغو خلکو لرې وګرځئ چې بې له الله بل هیڅوک نه لري!

۵۰ په خدای قسم چې یوازې دې نه پرېږدم!

کله چې ابو سلمة مدیني ته د هجرت اراده وکړه، خپله میرمن ام سلمة او زوی یې سلمة یې پر اوښ سپاره کړل. کله چې د مکې څنډو ته ورسېدل، د ام سلمة قوم (بنو مخزوم) راغلل او ویې ویل: «خپل ځان خو دې رانه بوتلو، خو خپله میرمن دې درسره نه پرېږدو چې هجرت وکړې!»

هغوی ام سلمة ترې واخیسته او ابو سلمة مجبوره شو چې یوازې هجرت وکړي. د دې لپاره چې غم نور هم زیات شي، د ابو سلمة قوم راغلل او هغوی بیا ماشوم (سلمة) له ام سلمة څخه واخیست! په دې ډول ام سلمة هم له خاوند او هم له زوی څخه جلا او یوازې پاتې شوه.

ketabton.com - The Digital Library

ام سلمة پوره یو کال په همدې حال وه؛ هره ورځ به یوازې د مکې دښتې ته وتله او د خپل خاوند او زوی په فراق کې به یې ژړل. تر دې چې یو د تره زوی یې پرې زړه وسوزېد او خپل قوم ته یې وویل: «تاسو له دې مسکینې څه غواړئ؟ چې د هغې او د خاوند او زوی ترمنځ مو جلاوالی راوستی!»

بنو مخزوم هغې ته وویل: «که غواړې خپل خاوند پسې لاړه شه.» د ابو سلمة قوم هم د هغې زوی بیرته ورته وسپاره. ام سلمة پر اوښ سپره شوه، زوی یې په غېږ کې ونیو او د مدینې په لور روانه شوه. کله چې د مکې په څنډه کې «تنعیم» نومې ځای ته ورسېده، عثمان بن طلحة ورسره مخ شو چې هغه وخت لا مشرک و. ورته یې وویل: «ای ام سلمة! چیرته ځې؟»

ویې ویل: «په مدینه کې خپل خاوند ته ځم.»

پوښتنه یې وکړه: «ایا څوک درسره شته؟»

ام سلمة وویل: «نه، په خدای قسم چې بې له الله او له دې زوی مې بل څوک نه لرم.»

عثمان بن طلحة وویل: «زه دې یوازې نه پرېږدم (ترڅو دې ونه رسوم).»

هغه د اوښ مهار ونیو او د مدینې په لور روان شو. کله به چې یې وغوښتل ام سلمة استراحت وکړي، اوښ به یې ویده کړ او پخپله به لرې لاړ چې هغه په ارامه کوزه شي. کله به چې د تګ وخت شو، بیا به یې اوښ ویده کړ او دی به لرې شو چې هغه سواره شي، بیا به یې د اوښ مهار ونیو او پیاده به روان شو. هغه همداسې وکړل ترڅو یې ام سلمة د مدینې څنډو ته ورسوله او ورته یې وویل: «ستا خاوند په دې کلي کې دی، د الله په برکت ورننوځه»، او پخپله بیرته مکې ته وګرځېد!

د ژوند درس:

مور باید ټول خلک په یو تله ونه تلو؛ لکه څنګه چې ټول مسلمانان سره یو شان نه دي (سره له دې چې پر کلمه سره راټول دي)، نو غیرمسلمانان خو په طبیعي ډول سره یو شان نه دي ځکه هغوی پر کلمه نه دي راټول.

هغه کسان چې ام سلمة یې له هجرته منعه کړه، مشرکین وو، خو هغه څوک چې زړه یې پرې وسوزېد او له خپل قومه یې وغوښتل چې اجازه ورکړي، هغه هم مشرک و. دواړه په شرک کې یو برابر وو، خو په اخلاقو کې یې ځمکه او اسمان توپیر و!

هغه کسان چې ماشوم یې ترې جلا کړ، مشرکین وو، خو عثمان بن طلحة چې هغه یې تر مدینې ورسوله، هغه هم (په هغه وخت کې) مشرک و؛ خو د دې او هغو ترمنځ څومره لوی فرق دی!

هغه کافر چې ستا خاوره یې لاندې کړې او ستا قوم وژني، یو حکم لري؛ او هغه کافر چې تاته یې هیڅ بد نه دي رسولې، بل حکم لري. مور باید د دې دواړو ډلو ترمنځ ښه توپیر وکړو او د همدې اصل له مخې چلند وکړو. له ټولو خلکو سره دښمني کول حماقت، د تدبیر کموالی او د واقعیت ناسم لوستل دي. استعماري هیوادونه چې لاسونه یې د مسلمانانو په وینو رنګ دي، یو شی دي، او نور سوله خوښې هیوادونه چې مور ته یې ضرر نه دی رسولی، بل شی دي. ټول په یوه کټګوري کې اچول یوازې د دښمنانو په صف کې ورېا زیاتوالی راولي!

ketabton.com - The Digital Library

۵۱ هر هغه څوک چې (بنده) ازاد کړي!

کله چې اسلام راغی، بشریت په ډیر بد حالت کې و؛ داسې واکمنۍ وې چې بنسټ یې پر ظلم او د نورو د شتمنیو پر غلا ولاړ و، لورګانې ژوندۍ ښخول کېدې، د ښځو سپکاوی کېده، سود خوړل کېده، شراب څښل کېدل او مریتـوب (غلامي) عامه وه.

خو ستر اسلام په تدریجي ډول د دې کرکجن جاهلیت پر بنسټونو ګوزارونه پیل کړل. د شرک او بت پرستۍ امپراتورۍ یې ونګولې، نجونو ته یې د ژوند حق بیرته ورکړ او د هغوی ژوندي ښخول یې حرام کړل، ښځې یې د نارینه وو سیالې وګرځولې او د هغوی په اړه یې د ښېګڼې وصیت وکړ. تجارت یې منظم کړ، خرڅلاو یې حلال او سود یې حرام کړ، شراب یې منع کړل او د غلامۍ له بند څخه د خلکو د ازادولو لپاره یې هڅې پیل کړې. ډیری ګناهونو ته یې کفاره «د مریې ازادول» وټاکل، او بیا یې دا عمل الله ته د نږدې کېدو وسیله وګرځوله؛ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر هغه څوک چې یو مسلمان بنده ازاد کړي، الله تعالی به د هغه د هر غړي په بدل کې د ده یو غړی له اور څخه وژغوري!»

که څه هم اوس د مریتوب (غلامۍ) زمانه تیره شوې، خو د «ازادولو» او خلاصون زمانه نه ده تیره شوې! له خلکو سره احسان کول لا هم روان دي او له الله څخه بل هیڅوک د وفاداریۍ په پوره کولو کې ریښتینی نه دی.

- هر هغه څوک چې یوه سترګه له ژړا څخه وژغوري (د بل غم سپک کړي)، الله تعالی به یې بدل کې خامخا د هغه سترګه له هغې اوښکې وژغوري چې ده ته به رسېدونکې وه؛!
- هر هغه څوک چې یو نس له لوړې وژغوري، الله تعالی به یې په بـدل کې خامخـا د هغـه نس لـه هغې ارتیـا وژغوري چې ده ته به رسېدونکې وه؛ !
- هر هغه څوک چې د یو چا کرامت او عزت له سپکاوي وژغوري، الله تعالی به یې په بدل کې خامخا د هغه عزت له سپکاوي وژغوري؛!
- هر هغه څوک چې یو مات زړه له ماتېدو وژغوري، الله تعالی به یې پـه بـدل کې خامخـا د هغـه زړه لـه درده وژغوري؛!

څوک چې د یو مسکین د حاجت پوره کولو لپاره منډې وکړي ترڅو یې کار ور خلاص کړي، الله تعالی به ورته داسې څوک وګماري چې د ده د حاجت لپاره به هم منډې وکړي ترڅو یې کار خلاص شي.

څوک چې د یو داسې ناروغ لوري ته د مرستې لاس اوږد کړي چې د جراحي عملیات پیسې نه لري، الله تعالی تر دې ډیر عادل دی چې ته له هغه سره په عملیات کې مرسته وکړې او دی دې بیا ورته اړ کړي.

څوک چې یو لویدلی (پاتې راغلی) کس پورته کړي، الله به یې له ښوېدو وساتي، یا به ورته داسې څوک پیدا کړي چې د ښوېدو پر مهال یې لاس ونیسي. څوک چې د مېړه او ښځې ترمنځ روغه وکړي، الله تعالی به د ده او د ده د مېرمنې ترمنځ جوړجاړی او مینه راولي؛ ځکه د الله په نزد جزا د عمل له جنس څخه ده!

مور د نېکو کارونو په واسطه خپل ځانونه له بدیو ژغورو. پوره باور ولرئ چې صدقه یوازې ثواب نه دی، بلکې دا ستا د لاس ساتنه هم ده چې د بل چا مخې ته د سوال لپاره اوږد نه شي. له الله څخه بل هیڅوک ډیر وفادار نشته،

ketabton.com - The Digital Library

هیڅوک!

۵۲ زما له بنده څخه تېر شئ!

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا عادت و چې خلکو ته به یې دا ور فهموله چې دنیا د آخرت کښت دی. یوه ورځ یې اصحابو ته وفرمایل: الله تعالی ته د هغه له بنده ګانو څخه یو داسې بنده راوستل شو چې الله په دنیا کې مال ورکړی و. الله ورته وفرمایل: «په دنیا کې دې څه عمل کړی؟»

هغه وویل: «اې ربه! تا ماته مال راکړی و، ما له خلکو سره تجارت کاوه او زما خوی دا و چې اساني مې کوله؛ له شتمن سره مې په معامله کې نرمي کوله او غریب (تنګ لاشي) ته مې وخت ورکاوه.»

الله تعالی وفرمایل: «زه تر تا ډیر حقدار یم چې (اساني وکړم)، زما له دې بنده څخه تېر شئ (ښېلی مې دې)!»

معادله ډیره ساده ده:

هغه اخلاق چې ته یې خوښوې چې الله یې درسره وکړي، ته یې د الله له بنده ګانو سره وکړه!

دا یو شتمن سړی و، په تجارت کې نرم او تېرېدونکی و. که پیرودونکی به شتمن و، نرمي به یې ورسره کوله او شاید له بېې به یې هم ورته کمووله،

چې دا به یې یوه پټه صدقه ګڼله. او که پیرودونکی به غریب و، مال به یې په پور ورکړ، او که د پور د ورکړې وخت به راغی او هغه به پیسې نه لرلې، نو وخت به یې ور زیاتاوه او یا به یې ورته وبښلو. کله چې له الله سره مخ شو، الله سبحانه وتعالی ورسره په هماغه اخلاقو چلند وکړ چې ده له خلکو سره کاوه!

- که غواړې چې الله ستا ګناوې په دنیا او آخرت کې پټې کړي، نو ته د خلکو عیبونه پټ کړه. چا چې د بل پرده وکړه، د هغه به پرده وشي، او چا چې څوک رسوا کړ، هغه به رسوا شي!
- که غواړې چې الله درسره په نرمۍ چلند وکړي، نو د هغه له مخلوق سره نرم شه. د خپلې میرمنې له تېروتنې تېر شه، د خپل زوی په ښوېدو ورته وښنه وکړه، او د مور او پلار په وړاندې عاجز اوسه. نرم ګاونډی شه چې الله درسره نرمي وکړي. له خپلو خپلوانو سره صله رحمي وکړه چې الله دې له خپل رحمته جلا نه کړي؛ له الله څخه بل هیڅوک ډیر وفادار نشته!
- که غواړې کله چې ته په لاره کې وښوېږې، یو لاس دې پورته کړي، نو د ښوېدلو خلکو لاس ونیسه. وخت بدلیږي او هر چا ته به هماغه څه ورکول کیږي چې ده نورو ته ورکړي وي!
- که غواړې الله ستا او د خپل ځان ترمنځ معاملې سمې کړي، نو ته د هغه د مخلوق ترمنځ معاملات سم کړه. د دوو وروڼو په اختلاف کې یوه نیکه خبره وکړه، او د دوو نړدې خپلوانو (مېړه او ښځې) په شخړه کې د خیر ګام پورته کړه!

ketabton.com - The Digital Library

که غواړې سبا له یو داسې رب سره مخ شې چې ستا قدرداني وکړي، نو ته د هغه د بندګانو قدردان اوسه. د هر هغه نېک کار قدر وکړه چې تاته رسیږي. د مېړه او ښځې په شخړه کې د هغې پخوانۍ نېکۍ او له تا سره ودربدل رایاد کړه. د مور او پلار د زوړوالي په ناروغۍ کې هغه مور رایاده کړه چې ته یې په ډیرې سختۍ په خپټه کې وګرځولې، ستا په خاطر یې خوبونه حرام کړل او ته یې یو یو ګام را لوی کړې. او هغه پلار رایاد کړه چې ستا د یوې مړۍ ډوډۍ، جامو، درملو او تعلیم لپاره یې سختۍ وګاللې!

د ملګرې نېکې، د ګاونډي ښه دریځ، د ورور د ماشومتوب خوږې خاطرې او د کارفرما احسان په یاد ساته. هیڅکله د یوې ګړۍ شخړې په خاطر د ټول عمر مینه او محبت مه ورانوه!

۵۳ صالح مال څومره ښه دی!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمرو بن العاص رضي الله عنه ته څوک ورولېږل او ورته یې وویل: «خپلې جامې واغونده، وسله دې واخله او ماته راشه.»

عمرو بن العاص رضي الله عنه په داسې حال کې راغی چې د جګړې جامې یې اغوستې وې. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «زه غواړم تا د یو لښکر مشر وټاکم، الله به دې سلامت وساتي، غنیمتونه به درکړي او زه ستا لپاره د مال ښه هیله لرم.»

عمرو رضي الله عنه ورته وویل: «ای د الله رسوله! ما د مال لپاره اسلام نه دی منلی، بلکې د اسلام د مینې په خاطر مې منلی دی.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ای عمرو!

صالح مال د صالح بنده لپاره څومره ښه دی!»

د مال او فقر حقیقت:

الله تعالی مال هغو بندګانو ته هم ورکوي چې مینه ورسره لري او هغو ته یې هم ورکوي چې بد یې ترې راځي! سلیمان علیه السلام ته یې ټوله نړۍ ورکړې وه، نمرود ته یې هم ورکړې وه؛ قارون د بشریت تر ټولو شتمن انسان و.

همدا ډول، الله خپل مؤمن بنده هم غریبوي او کافر بنده هم. عیسی علیه السلام غریب و، نبي کریم صلی الله علیه وسلم به له لوږې پر نس کاڼی تاړه! ډیرې غوره صحابه داسې غریبان وو چې د یوې ورځې خوراک یې نه درلود. بلخوا په کافرانو کې هم داسې غریبان شته چې د ورځې ډوډۍ نه لري.

نو مال «ثواب» نه دی، ځکه دنیا د ثواب کور نه دی. او فقر «عذاب» نه دی، ځکه دنیا د عذاب کور نه دی. دنیا په ساده ژبه د «امتحان» کور دی؛ انسان ته پر شتمنۍ ثواب نه ورکول کیږي او پر فقر نه بدلیږي، بلکې ثواب او جزا په دې کې ده چې هغه په شتمنۍ او فقر کې څه ډول چلند کوي. که مال ورکړل شو او شکر یې وکړ، ثواب لري؛ او که سرکښه او

ketabton.com - The Digital Library

متکبر شو، ګناهکار دی. که مال ترې واخیستل شو او صبر یې وکړ، ثواب لري؛ او که کفر او ناهیلي یې وکړه، ګناهکار دی.

مور ته پر مصیبت ثواب نه راکول کیږي، بلکې پر هغه «صبر» ثواب راکول کیږي. ناروغي په یوازې ځان د مؤمن درجې نشي لوړوالی تر څو چې صبر ونه کړي؛ دا یو امتحان دی، که یې صبر وکړ بریالی دی، که یې ناشکري وکړه ناکام دی!

صالح مال د صالح بنده لپاره ولې ښه دی؟

ځکه شتمن مؤمن ته د جنت داسې دروازه پرانیستل کیږي چې نورو ته نه ده پرانیستل شوې:

- صالح مال د صالح بنده لپاره ځکه ښه دی چې هغه وړې مارې کوي.
- د هغو مسکینانو لپاره درمل اخلي چې ناروغیو ځپلي وي.
- د هغو پورړو پورونه پرې کوي چې تر پورونو لاندې ډوب وي.
- او له خپلو خپلوانو سره په مالي مرستو صله رحمې کوي او زړونه یې ګټي!

دا چې فرمایي «صالح مال د صالح بنده لپاره ښه دی»، مطلب دا نه دی چې غنا (شتمني) په ذات کې خیر او فقر شر دی، بلکې مطلب هغه «خیر» دی چې دا صالح بنده یې له دغه مال سره کوي کوم چې الله ورته ورکړی دی.

که مال درکړل شو، ته به یوازې هغه وخت د «نِعمَ المال» (غوره مال)

خاوند یې چې ډیره صدقه وکړي او د غریبانو لاس ونیسي. او که مال در نه کړل شو، نو پوه شه چې پر فقر د صبر ثواب په شتمنۍ کې له انفاق (خرڅولو) څخه کم نه دی!

۵۴ ټول بدن ورسره درد کوي!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو اصحابو ته د یو بل د لاسنیوي او رحم په اړه په ټینګار سره وفرمایل: «د مؤمنانو مثال په خپلمنځي مینه، رحمت او خواخوږۍ کې د یو جسد (بدن) په څېر دی؛ کله چې د بدن یو غړی په درد شي، نو نور ټول بدن ورسره په ویښ پاتې کېدو او تبه کې شریک وي!»

«الابشیهي» په خپل مشهور کتاب (المستطرف) کې یو روایت راخیستی چې: یو سړی د یو تابعي کور ته ورغی چې ترمنځ یې ډیره مینه او ملګرتیا وه. کله چې هغه ورته راووت، پوښتنه یې ترې وکړه: «څه کار دې درلود؟»

هغه ورته وویل: «څلور سوه درهمه پورړی یم او د ورکولو وس یې نه لرم!»

دا ملګری یې سمدستي کور ته ننووت، پیسې یې وشمېرلې او هغه ته یې ورکړې. کله چې کور ته راغی، په ژړا شو. مېرمنې یې ورته وویل: «که د دې پیسو ورکړه دربانديې سخته وه، نو عذر به دې ورته کړی وای (چې پیسې نه لرم).»

ketabton.com - The Digital Library

هغه ورته وویل: «زه په دې خاطر نه ژاړم چې پیسې مې ورکړې، بلکې په دې خاطر ژاړم چې ما ولې مخکې د خپل ملګري حال نه و پوښتلی، تر دې چې هغه اړ شو چې په خپله خوله له ما نه د مرستې غوښتنه وکړي!»

دې میړني او سخي سړي دا خپل عیب ګانه چې ملګری یې سوال کولو ته اړ شو؛ د ده په عقیده دا د ده دنده وه چې د خپل ملګري له حاله خبر وای او مخکې تر دې چې هغه سوال وکړي، د هغه اړتیا یې پوره کړې وای.

دا یوازې د سخاوت درس نه دی، بلکې د خلکو د عزت او کرامت د ساتلو یو لوی درس هم دی! په همدې ټراو نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو بل ځای فرمایي: «مؤمن د بل مؤمن لپاره د یوې ودانۍ په څېر دی چې هره برخه یې بله برخه ټینګوي»، او بیا یې مبارکې ګوتې په یو بل کې داخلې کړې.

یوه بله بېلګه:

د مسلمانانو یو لښکر د جهاد لپاره روان و، د دوی او دښمن ترمنځ یو سیند و. قومندان امر وکړ چې سیند ته ښکته شئ ترڅو دښمن ته ځان ورسوئ. هغوی سمدستي امر ومانه، دښمن یې له لرې نداره کوله. د سیند په منځ کې د یو عسکر کاسه (لوښی) له لاسه ولوېده، هغه نارې کړې: «زما کاسه! زما کاسه!»

د هغه شيۍ لور ته ملګري هم ناره کړه: «کاسه! کاسه!»، چې لور ته ملګري یې هم همدا ناره کړه. ټول لښکر په سیند کې ټم شو چې د خپل یوه ملګري کاسه ورته پیدا کړي.

الله تعالی د دښمن په زړه کې وېره واچوله او هغوی وویل: «که دا خلک د خپل یو ملګري د یوې کاسې په خاطر داسې یو موټی کیږي، نو که مور یې یو کس ووژنو دوی به څه حال راباندې جوړ کړي!»

په همدې فکر او روحیه دا امت په نړۍ واکمن شو؛ د یو جسد په عقلانیت او د یو بل سره د مرستې په فلسفې.

په هغه اوښکه چې یو ملګری یې د خپل بل ملګري د اړتیا په لیدو تویوې، او د هغه لښکر په همت چې د یو فرد کاسه د ټول لښکر قضیه ګرځوي!

۵۵ د مکې کوم اوسېدونکی ډېر خبر لوڅی دي؟

کله چې حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) اسلام قبول کړ، قریش پرې خبر نه وو. عمر رضي الله عنه هیڅ کار په پټه نه کاوه، نو ویې پوښتل: «د مکې کوم اوسېدونکی تر ټولو ډېر خبرلوڅی دي(تبلیغاتي دی)؟»

ورته وویل شول: «جمیل بن معمر الجمحي.»

عمر ورغی او ورته یې وویل: «ای جمیله! زه مسلمان شوم.»

جمیل هیڅ ځواب ورنه کړ، بلکې منډه یې کړه کعبې ته او ناره یې کړه: «ای د قریشو ټولیه! د خطاب زوی بې‌دینه (صابي) شو!»

ketabton.com - The Digital Library

عمر رضي الله عنه ورپسې وویل: «دروغ وایې، بلکې زه مسلمان شوم، پر الله مې ایمان راوړ او د هغه رسول مې تصدیق کړ.»

قریشو پر ده برید وکړ، ده هغوی وهل او هغوی دی واهه، تر دې چې عمر ستړی شو او کښاست. هغوی یې پر سر ولاړ وو، عمر ورته وویل: «هر څه چې مو له وسه کیږي ویې کړئ، په خدای قسم که مورږ (مسلمانان) درې سوه کسان وی، نو یا به مو دا ښار مورږ ته پرښی و او یا به مورږ تاسو ته!»

په همدې حال کې «العاص بن وائل» راغی او ویې پوښتل: «څه چل دی؟»

ویې ویل: «د خطاب زوی بې‌دینه شوی.»

هغه وویل: «یو سړي ځان ته دین غوره کړی، ایا تاسو فکر کوئ چې د "بنو عدي" قبیله به خپل سړی تاسو ته تسلیم کړي؟»

د العاص بن وائل په خبرو الله پر عمر اسانې وکړه او قریشو پرښود.

د ژوند پیغام:

له ګمراهۍ وروسته پر هدایت مه شرمېږه، او له الله سره له وصل کېدو وروسته خپل سر لوړ ونیسه. ولې باید یوه نجلۍ چې کله بې‌حجابه وي په پوره سینګار وځي، خو چې کله الله هدایت ورته وکړي او حجاب وکړي، نو پر خپل حیا لرونکي لباس شرمیږي؟ څوک چې پر ګناه نه شرمېدل، هغه باید پر طاعت خپل سر نور هم لوړ ونیسي!

همدا ډول، هغه ځوان چې کله په عبثو او لاهو کارونو بوخت و، د ټولو په وړاندې یې دا کارونه کول، نو چې کله الله ښېرته خپل لوري ته را وګرځاوه، ولې باید جومات ته په تګ او د قرآن په حلقو کې په ناسته شرم وکړي؟

شېطان هغو کسانو ته چې نوي پر لاره شوي، له همدې لارې راځي او ورته وایي: «ایا پر خپل ماضي نه شرمېږې؟ خلک به څه وایي؟ پرون شرابخور و او نن په جومات کې؟ پرون سینګار شوې وه او نن په حجاب کې؟»

پوه شئ چې توبه تېرې ټولې ګناوې له منځه وړي. د توبې کمال په دې کې دی چې بنده باید په داسې ویاړ طاعت ته مخه کړي لکه په کوم ویاړ چې (العیاذ بالله) په ګناه کې و.

که شېطان درته وویل چې خلک به څه وایي؟ نو ځواب ورکړه چې صحابه کرام (رضي الله عنهم) د هدایت له لمر مخکې څنګه وو؟ ځینو شراب څښل،

ځینو بتانو ته سجده کوله، ځینو سود خوړل؛ خو کله چې بدل شول، هیڅ یو پر دغه بدلون ونه شرمېدل. هغوی د ټول قریشو په وړاندې پر خپل دین ویاړ کاوه، نه پرې شرمېدل او نه یې د خلکو پېغورونو ته پام کاوه!

ketabton.com - The Digital Library

۵۶ ایا زیری ور نه کړم؟!

په مدینه کې پر مسلمانانو د احزابو (خندق) محاصره ډیره سخته وه، د یهودانو غدر او خیانت دا حالت نور هم خراب کړ؛ مسلمانان د مخې له لورې له بهرني دښمن او د شا له لورې له داخلي دښمن سره مخ شول، نږدې و چې ساه ګـانې یې ووځـي!

خو له ثبات سره نصرت مل وي، او نصرت یوازې د یوې ګړۍ صبر ته اړتیا لري. الله تعالی پر ثابت قدمه مسلمانانو د څو شپو او ورځو له صبر وروسته احسان وکړ او د احزابو لښکرې یې ماتې کړې.

مسلمانانو لا خپله وسله ایښې وه چې جبرائیل علیه السلام نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: «تا وسله ایښې ده؟ په خدای قسم چې مور (ملائکو) لا وسله نه ده ایښې، هغوی ته ور ووځه!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ترې وپوښتل: «کوم لورې ته؟»

جبرائیل علیه السلام د «بنو قریظه» لور ته اشاره وکړه.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورغی او هغوی یې پنځه ویشت شپې محاصره کړل. کله چې یهودان ناهیلي شول، نـبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې پیغام واستاوه چې: «خپل ملګری "ابو لبابة" مور ته راولېږه چې مشوره ورسره وکړو.» ابو لبابة په جاهلیت کې د هغوی انډیوال (حلیف) و.

کله چې هغه ورغی، سړیو یې مخې ته منډه کړه او ښځو او ماشومانو یې ورته وژړل، د ابو لبابة زړه ورته نرم شو.

یهودانو وپوښتل: «ای ابو لبابة! ستا په نظر مور د محمد صلی الله علیه وسلم حکم ومنو او ور کوز شو؟»

ده وویل: «هو»، خو په لاس یې خپلې غاړې ته اشاره وکړه؛ یعنې دا چې حکم یې مرګ (ذبح) دی!

ابو لبابة وایي: «سمدستي پوه شوم چې له الله او د هغه له رسول سره مې خیانت وکړ.» دی له شرمه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ور نغی، بلکې جومات ته لاړ او خپل ځان یې د جومات له یوې ستنې سره وتاړه او ویې ویل: «تر هغه له ځایه نه ښوروم ترڅو الله مې توبه قبوله کړي!»

کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خبر شو، ویې وفرمایل: «که ماته راغلی وای، ما به ورته بښنه غوښتې وه، خو چې اوس یې دا کار کړی، زه یې تر هغو نه خلاصوم ترڅو الله یې توبه قبوله کړي.»

څو شپې تېرې شوې، مېرمن به یې یوازې د لمانځه لپاره خلاصولو او بیا به یې تاړه. یوه شپه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بي بي ام سلمة په کور کې و چې په خندا شو.

ام سلمة وپوښتل: «ای د الله رسوله! الله دې تل خوشحاله لره، ولې خاندې؟»

ویې وفرمایل: «الله د ابو لبابة توبه قبوله کړه.»

ام سلمة وویل: «ای د الله رسوله! ایا زیری ور نه کړم؟»

ویې وفرمایل: «هو، که غواړې ور یې کړه.»

ketabton.com - The Digital Library

هغه ودرېده او غږ يې کړ: «ای ابو لبابة! زيری دې وي چې الله دې توبه قبوله کړه!» خلکو منډه کړه چې ټـر څـو يې پرانيزي، خو هغه وويل: «نه، په خدای قسم چې يوازې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مې پرانيزي.» بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورغی او هغه يې خلاص کړ.

د کيسې پيغام:

دلته د پام وړ ټکی د ام سلمة دا خبره ده: «ايا زيری ور نه کړم؟»

اصيل او نجيب انسان د نورو په خير او خوښۍ داسې خوشحاليږي لکه په خپلې خوښۍ چې خوشحاله کيږي. کله چې د يو چا بريا وينې، منډه کوي چې مبارکي ورکړي؛ کله چې د يوې بې اولاده مېرمنې د امينداوۍ خبر واورې، د زيری په ورکولو کې تر ټولو مخکې کيږي.

هڅه وکړئ يوازې د خير رسول (پيغام وړونکی) اوسئ. بد خبرونه خادم او قاصد ته اړتيا نه لري، هغوی د اور په څير په خپله خپريږي؛ خو د خوښۍ خبرونه او زيری ډير کم کسان ليږدوي. ته هغه څوک اوسه چې زيری رسوي. کله چې د نورو په خوشحالۍ خوشحاليږې، د بل په شتمنۍ نه خفه کيږې او د بل په سوکالۍ دې زړه نه تنګيږي، نو پوه شه چې ته د پاک او سپه زړه خاوند يې!

۵۷ ابو خيثمه!

رسول الله صلى الله عليه وسلم د تبوک غزا ته په داسې شرايطو کې روان شو چې مزل پکې تر ټولو سخت و؛ تودوخه ډېره وه، دښتې لکه اور سوځېدې، لاره اوږده وه او سپرلۍ (مرکبونه) کم وو، تر دې چې څلورو کسانو به په نوبت سره پر يوه اوښ سفر کاوه.

په مدينه کې منافقين او ځينې داسې مومنان چې ايمان يې ثابت و پاتې شول؛ په پاتې شويو مومنانو کې کعب بن مالک، مرارة بن الربيع، هلال بن اميه او **ابو خيثمه** شامل وو.

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له تګ څخه څو ورځې وروسته، ابو خيثمه خپل باغ ته لاړ، هلته يې خپلې دواړه مېرمنې وليدې چې هرې يوې ورته خيمه (چپرکټ) برابره کړې وه، خوشبويي يې ورته لګولې وه، مېوې، يخې اوبه او خونـدور خواړه يې ورته ايسيۍ وو. هغه چې د ارام او خوښۍ دغه منظره وليده، له ځان سره يې وويل:

> «رسول الله صلى الله عليه وسلم به په تودوخه، باد او لمر کې وي او زه په يخ سيوري، تيارو خوړو او سګلو مېرمنو کې؟ دا انصاف نه دی! په خدای قسم چې ستاسو يوې خيمې ته هم نه ننوځم، ما ته توښـه برابـره کړئ، زه غواړم له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يو ځای شم!»
>
> ابو خيثمه روان شو ترڅو په خپل ځان سره د خپل محبوب صلى الله عليه وسلم ملګرتيا وکړي. هغه ته يې ځان ونه رساوه مګر هغه وخت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تبوک ته رسېدلی و او لښکر يې هلته اړولی وو. مسلمانانو له لرې يو څوک وليدلو چې را روان دی، خو نه يې پېژانده؛ رسول الله صلى الله عليه

ketabton.com - The Digital Library

> وسلم ته یې خبر ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم (په شوق سره) فرمایل: **«كُنْ أبا خيثمة!»** (کاشکې ابو خیثمه وې!)

کله چې هغه را ورسېد، صحابه وو وویل: یا رسول الله! په خدای قسم چې دا خو ابو خیثمه دی!

ابو خیثمه د خپل وروسته پاتې کېدو او بیا د واپس کېدو کیسه ورته وکړه او دا چې زړه یې ونه منله چې په بـاغ کې د مېرمنو ترمنځ ارام وکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم دې د لمر ګرمۍ ته وې. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د خیر دعا وکړه.

له دې کیسې څه زده کوو؟

- **د صحابه وو مینه:** دوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره تر دې کچې مینه لرله چې په تنهایۍ کې به یې هم یخې اوبه او خوندورې مېوې له ستونې نه تېرېدې. که چا درته وویل چې د صحابه وو ملګرتیا د نبوت په څېر یو الهي انتخاب و، نو باور پرې وکړئ.

د نبي صلی الله علیه وسلم پېژندنه:

یو هوښیار انسان د خپلو نړدې کسانو په خصلت پوهېږي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا چې «کاشکې ابـو خیثمه وې»، د هغه له ذکاوت او د سړیو له پېژندنې څخه سرچینه اخیسته. د خلکو اشارې او خصلتونه ښه وپېژنئ ترڅو په ژوند کې لږ ناهیلي شئ.

د تېروتنې سمون:

د تېروتنې د سمولو لپاره تل فرصت شته. ناوخته رسېدل تر نه رسېدو ډېر غوره دي. د حق په صف کې یو "کشر" (پیرو) اوسېدل تر دې ډېر غوره دي چې د باطل په صف کې "مشر" پاتې شي. که خلک تر تا مخکې شوي وي، د حق صف ته له ورګډېدو مه شرمېږه؛ ځکه حق پای نه لري، مهمه دا ده چې ته باید پکې واوسې.

د ایمان یوې صادقې شیبې ابو خیثمه له "پاتې شویو" څخه راوایست او د ویاړ داسې مقام ته یې ورساوه چې د نبي صلی الله علیه وسلم په ژبه دا نېک فال ورته ووېل شو: **«کاشکې ابو خیثمه وې!»**

۵۸ د قوم مشر د هغوی خدمتګار وي:

یحیی بن اکثم وایي: یوه شپه مې د امیر المومنین مامون الرشید کره تېره کړه، د شپې په منځ کې رابیدار شوم او تېری وم، په ځای کې ښکته پورته شوم (بې قراره شوم). مامون راته وویل: ای یحیی، څه درپېښ دي؟

ما وویل: ای امیر المومنین، تېری یم.

هغه سمدستي له خپل ځایه پاڅېد او ما ته یې یوه کوزه اوبه راوړې!

ketabton.com - The Digital Library

ما ورته وویل: ای امیر المومنین، ولې دې کوم خادم یا غلام را ونه غوښت چې دا کار یې ستا پر ځای کړی وای؟

هغه وویل: نه، زما پلار له خپل پلار او هغه له خپل نیکه څخه، او هغه له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **«سَيِّدُ القَوْمِ خَادِمُهُمْ»** (د قوم مشر د هغوی خدمتګار وي).

حق خو دا دی که څوک وغواړي د عباشي خلیفه مامون د اخلاقو په اړه یو کتاب ولیکي او د تاریخپوهانو قیصې پـرې تبصره کړي، نو یو لوی کتاب به ترې جوړ شي؛ ځکه هغه ډېر نرم اخلاق درلودل، کریم النفسه و، له علم او خیر سره یې مینه لرله. خو لکه څنګه چې زما انا (بې بې) به ویل: «ښکلا نه پوره کېږي!» (کمال په هر چا کې نه وي). د هغه پر دغه ښکلا دا عیب و چې معتزلی و، او د "خلقِ قرآن" د فتنې بنسټګر و، چې له امله یې امام احمد بن حنبل زندانې او په دورو وواهه. الله دې هغه وبسې او پر هغه ستر غره (امام احمد) دې رحم وکړي!

د «سید القوم خادمهم» حدیث که څه هم د سند له مخې کمزوری دی او د حدیثو عالمانو پرې خبرې کړې، خو ژوند بیا سم ثابت کړی دی؛ ځکه په ریښتیا هم سیادت (مشرتوب) یوازې هغه چاته رسېږي چې د خلکو خدمتګار وي.

د انسان حقیقي ارزښت په ورکړه (ښېنه) کې دی، نه په اخیستلو کې. که خپلو شاوخوا ته وګورئ، په طبعیت کې هر هغه څه چې ارزښت یې موندلی، د ورکړې له امله یې موندلی دی؛ د لمر ارزښت په رڼا او تودوخه کې دی، د وربڅو ارزښت په باران کې دی، د ونو ارزښت په مېوه کې دی، حتې د دې وړوکو مچیو (شاتو مچیو) ارزښت په دې کې دی چې د نورو لپاره کار کوي، ګلان القاح کوي او شات ورکوي. نو انسان تر دې بې ساه شیانو ډېر لومړیتوب لري چې خپل ارزښت په ورکړه کې پیدا کړي.

د طب مسلک ځکه عظیم دی چې د خلکو دردونه کموي. وکالت کوم ټولنیز تشریفات (پوټکی) نه دي، بلکې ارزښت یې د مظلومانو په حق اخیستلو او د عدالت په دفاع کې دی، که داسې نه وي نو بیا انسان د شیطان وکیل ګرځي!

لوړ منصب تر هغه وخته یوازې یوه تشه نداره ده، ترڅو چې د کمزورو خلکو په خدمت کې نه وي کارول شوی؛ یوازې هغه وخت یې خاوند د دې مستحق دی چې "سید" یا مشر وبلل شي.

کله چې مور د کمزورو او مسکینانو خدمت ته ښکته کېږو، نو په حقیقت کې مور لوړېږو، نه دا چې ټیټېږو. او کله چې ځان ترې لوړ ګڼو، نو په حقیقت کې مور راغورځېږو. ځینې قربانۍ او ورکړې داسې وي چې که مور یې ونه کړو، نو په اصل کې مور هیڅ نه یو!

۵۹ ایا کوم پیغام لري؟!

کله چې د یرموک د غزا ورځ وه،

مسلمانان څلور ویشت زره تنه وو، خو د روم لښکر یو سل او شل زره تنه راغلي وو! هغوی په درنو ګامونو داسې را روان وو لکه غرونه چې خوځېږي؛ مخکې ترې پاپان او راهبان روان وو، صلیبونه یې په لاس کې وو، خپلې دعاګانې یې ویلې او ټول لښکر ورپسې غږونه کول چې انګازو یې لکه د تالندې غږ کاوه.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې مسلمانانو هغوی په دې حال کې ولیدل، له ډېرښت څخه يې ووېرېدل او په زړونو کې يې د وېرې احساس پیدا شو؛ لکه څنګه چې تر دې وړاندې موسی علیه السلام هم په خپل ځان کې وېره احساس کړې وه.

په دغه وخت کې ابو عبیده بن الجراح رضي الله عنه پاڅېد او مسلمانان يې غزا ته وهڅول، ویې ویل:

> «د الله بندګانو! د الله (د دین) کومک وکړئ، هغه به ستاسو کومک وکړي او قدمونه به مو ثابت کړي. صبر وکړئ ځکه صبر له کفر څخه د خلاصون، د رب د رضا او د عار (شرم) د لرې کولو وسیله ده. خپلې نېزې سمې کړئ، سپرونه ونیسئ او غلي شئ، مګر دا چې په خپلو زړونو کې د الله ذکر کوئ.»
>
> په دغه شیبه کې یو سړی د مسلمانانو له صف څخه راووت او ابو عبیده ته يې وویل:

«ما هوډ کړی چې همدا اوس خپل کار پای ته ورسوم (شهید شم)، ایا ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوم پیغام لرې چې زه يې ور ورسوم؟»

ابو عبیده ورته وویل: «هو، زما او د ټولو مسلمانانو له لورې ورته سلام ووایه او ورته ووایه: یا رسول الله! مور هغه څـه رښتیا ومومندل چې زمور رب مور سره يې وعده کړې وه!»

کله چې سعید بن عمرو بن زید بن نُفیل د دغه سړي او ابو عبیده خبرې واوربدې، سمدستي يې د روم پر لښکر برید وکړ او لومړنی سپور يې په نېزه وویشت. کله چې مسلمانانو دا نندارە ولیده، د رومیانو وېره يې له زړونو ووتله او داسې جنګ يې وکړ لکه چا چې دنیا پلورلې وې او جنت يې اخیستی وې؛ دوی همداسې وو ترڅو چې الله تعالی بریا ور په برخه کړه.

تأمل او درسونه:

- **د یو کس اغېز:**

د یو داسې سړي شخصي موقف چې په سیرت کې يې نوم نه دی ذکر شوی (خو الله يې پېژني)، د ټول لښکر روحیه بدله کړه. د هغه د شهادت هوډ سعید بن عمرو او ورپسې څلوېښت زره نور صحابه وهڅول.

- **ځان کم مه ګڼه:**

هیڅکله ځان مه سپکوه او مه وایه چې زه یو فرد یم، څه به وکړم؟ ستا یو ثابت موقف د حق په لاره کې چې یوازې د الله لپاره وي، ممکن د زرګونو نورو خلکو د ثبات سبب شي او اجر يې تاته ورسیږي.

- **د حق کلمه:**

د حق یوه خبره چې د چا له ملامتۍ پرته وشي، ممکن زرګونو کسانو ته د حق لاره وښیي.

- **تاریخي بېلګه:**

الله تعالی د ټول امت دین د "خلقِ قرآن" په فتنه کې د یوه سړي (امام احمد بن حنبل) په ثبات سره وساته. ای احمد بن حنبل، ستا بخت ته سلام!

ketabton.com - The Digital Library

۶۰ څوک چې پر یوه لاره روان شي!

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو اصحابو ته د علم د حاصلولو د هڅونې په موخه وفرمایل:

> «څوک چې د علم د لټون لپاره پر یوه لاره روان شي، الله تعالی به ورته د جنت لاره اسانه کړي. ملایکې د علم د طالب د رضا لپاره خپل وزرونه غوړوي، او د عالم لپاره هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، ان تر دې چې په اوبو کې کبان هم، استغفار کوي. د عالم فضیلت پر عابد داسې دی لکه د سپوږمۍ فضیلت پر نورو ستورو. علماء د پیغمبرانو وارثان دي؛ پیغمبرانو دینار او درهم میراث نـه دي پریښي، بلکې علم پې پریښی، نو چا چې علم ترلاسه کړ، ډېره لوړه برخه یې خپله کړه.»
>
> د علم د لټون په تاریخ کې یوه تلپاتې کیسه د اندلس د امام **"بقي بن مخلد"** ده.

هغه له قرطبې څخه مراکش او بیا له مراکش څخه تر بغداده پورې پلې (پیاده) سفر وکړ، ترڅو له امام احمد بن حنبل څخه حدیث زده کړي. کله چې بغداد ته ورسېد، ویې لیدل چې عباسي خلیفه "واثق بالله" پر امام احمد ډېر غوسه دی؛ ځکه امام د معتزله وو له دغې بدعت (خلقِ قرآن) سره موافقه نه وه کړې. خلیفه پر هغه کورنی بنـدیز لګـولی و او د جمعې، جماعت او خلکو ته د حدیثو له ښودلو یې منع کړی و.

کله چې بقي بن مخلد پر دې خبر شو، ناهیلی نه شو، بلکې د امام احمد کور ته ورغی او دروازه یې وټکوله. کله چې امام ورته دروازه خلاصه کړه، ده ورته وویل: «زه له ډېر لرې ځایه راغلی یم ترڅو له تا څخه حدیث واورم.»

امام احمد وپوښتل: «له کومه ځایه؟ له مراکش څخه؟»

ده وویل: «نه، بلکې له قرطبې (اندلس) څخه!»

امام احمد وفرمایل: «هغه خو ډېره لرې ده، خو ته پوهېږې چې خلیفه زه د حدیثو له بیانولو منع کړی یم.»

بقي بن مخلد ورته وویل: «نو مور به یوه چاره (حیله) وکړو؛ زه به هره ورځ د سوالګرو په جامو کې درځم، ستاسو دروازه به ټکوم، تاشي به ما کور ته ننباسئ او حدیث به راته وایئ، زه به یې یادوم.»

امام احمد ورسره ومنله، خو دا شرط یې پرې کېښود چې د حدیثو په نورو مجلسونو کې به نه کیني، ترڅو څوک پرې شک ونه کړي. بقي بن مخلد دا شرط ومانه او هره ورځ به د شلېدلو جامو سره د سوالګر په څېر د امام احمد په دروازه کې ناړې وهلې: «مسکین یم، صدقه غواړم!» امام احمد به دروازه ورته خلاصه کړه او د کور په یو دهلیز کې به یې حدیث ورتـه وویل. ده په همدې طریقه د امام احمد ټول "مسند" (د حدیثو کتاب) ختم کړ، الله ډېره ګټه ورسـره وکـړه او کلـه چې اندلس ته ستون شو، هلته د عالمانو مشر شو.

په رښتیا هم چې د پخوانیو خلکو په کیسو کې د علم په لټون کې عجیبه جذبې وې؛ امام بخاري به د یو حدیث لپاره له یوه ښار څخه بل ته سفر کاوه. امام رازي د خپل سفر په اړه وایي: «په لومړي کال چې د حدیثو په لټون پسې ووتم، هغه لاره مې حساب کړه چې په پښو تللی وم، تر زرو فرسخو زیاته وه!» (یو فرسخ ۴ کیلومتره دی، یعنې ده ۴۰۰۰ کیلومتره په پښو مزل کړی و!)

ketabton.com - The Digital Library

خو نن سبا د علم په طلب کې زمور همتونه ډېر کمزوري شوي؛ که په ګاونډي ښار کې د بخاري شريف شرحه کېږي، مور ته لاره اوږده ښکاري. که په خپله کوڅه کې د قرآن کريم د حفظ مدرسه بنده شي، بلې کوڅې ته تلـل راتـه سـتونزمن ښکاري. مور د پېغمبرانو په ميراث کې داسې (بې رغبتي) اختيار کړې چې د شرم ځای دی!

۶۱ آدم پر موسی غالب شو!

د غيبو خبرې څومره خوندورې وې کله چې يې رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوې؛ هغه غيب چې مور پرې نه شو خبرېدلی که چېرې د نبوت هغه ناسته نه وای چې صحابه کرام ترې چاپېر وو او له رښا څخه يې ګټه اخيستله. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

آدم او موسی (عليهما السلام) خپل رب ته احتجاج وکړ، نو آدم پر موسی غالب شو!

موسی وويل: «ته هغه آدم يې چې الله په خپل لاس پيدا کړې، خپل روح يې درکې پو کړ، ملائکې يې درته په سـجدې کړې، په خپل جنت کې يې مېشت کړې، خو بيا دې د خپلې خطا له امله خلک ځمکې ته راښکته کړل؟»

آدم ورته وويل: «ته هغه موسی يې چې الله په خپل رسالت او خبرو غوره کړې، داسې تختې (الواح) يې درکړه چې د هر څه بيان پکې و، او ته يې د راز د خبرو لپاره ځان ته نږدې کړې؛ نو دا راته ووايه چې الله تعالى زما له پيدا کېدو څومره وړاندې تورات ليکلی و؟»

موسی وويل: «څلوېښت کاله وړاندې.»

آدم وويل: «ايا هلته دې دا ليکنه موندلې وه چې: (وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى - او آدم د خپل رب نافرماني وکړه او لاره ترې خطا شوه)؟»

هغه وويل: «هو.»

آدم وويل: «نو ايا ته ما پر هغه کار ملامتوې چې الله زما له پيدا کېدو څلوېښت کاله مخکې ما ته ليکلی و؟»

نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «آدم پر موسی په دليل کې غالب شو!»

له دې کيسې څه زده کړو؟

- **د نبيانو د بحث بېلګه:**

وګورئ چې د شريفانو بحث څنګه وي! آدم او موسی (عليهما السلام) د کائيناتو پر تر ټولو مهمه موضوع (د جنت قضيې) بحث کوي، خو دواړه د يو بل مقام او فضيلت پېژني. نه د موسی ملامتي د آدم فضيلت هېر کړ، او نه د آدم دفاع د موسی مقام ورته کم کړ. نو تاسو هم د خلکو مقام وساتئ که څه هم ورسره اختلاف لرئ. د يو چا روښانه تاريخ د يوې پېښې له امله مه پاکوئ؛ سخی که يو ځل څه ورنه کړي، تېر سخاوت يې مه هېروئ، او حليم (نرم مِزاج) که يو ځل غوسه شي، پخوانۍ نرمي يې مه هېروئ. لکه عرب چې وايي: «هر تکړه اس کله نا کله ټکر خوري.»

ketabton.com - The Digital Library

د تقدیر او اختیار موضوع:

الله سبحانه وتعالی هر څه په "لوح محفوظ" کې لیکلي دي، خو د انسانانو افعال چې الله په خپل مطلق علم سره لیکلي، د هغوی مسئولیت نه ختموي. مور نه شو کولی دا پښه پر هر عمل قیاس کړو، ګڼې بیا د ثواب او عذاب مفهوم له منځه ځي. الله تعالی هیڅکله پر چا ظلم نه کوي؛ هغه څنګه یو څوک پر هغه کار حسابوي چې مجبور کړی یې وي؟

- **د علمِ الهي مثال:**

د الله علم مطلق دی. د بېلګې په توګه: که تاسو خپل اولاد د کلونو لپاره تر خپل نظر لاندې وروزئ، د هغه په طبعیت او اخلاقو پوه شئ، او بیا ورڅخه وکړئ چې دا به غلا وکړي؛ که هغه غلا وکړه، ایا تاسو هغه مجبور کړی و؟ نه، بلکې تاسو د خپلې پېژندنې له مخې اټکل کړی و. د الله علم داسې دی خو په مطلق ډول (بې له خطا)، په داسې حال کې چې انسان د خپل عمل په کولو یا نه کولو کې آزاد دی. مور تر هغه وخته په تقدیر نه پوهېږو ترڅو چې پېښ شوی نه وي؛ نو څوک چې غلا یا قتل کوي، هغه د الله په تقدیر کې و خو مجبور پرې نه و. الله د جنت او دوزخ خاوندان له پیدا کېدو مخکې پېژني، خو پیغمبران یې ورته راوستلي ترڅو هغوی په خپله خوښه د خپل تقدیر پر لارو روان شي.

۶۲ د هغو سترګو بخت ته سلام!

جُبیر بن نُفیر روایت کوي: یوه ورځ مور له مقداد بن اسود رضي الله عنه سره ناست وو، یو سړی تېر شو او مقداد ته یې وویل: «د هغو سترګو بخت ته سلام چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې لیدلی دی! په خدای قسم مور دا هیله لرو چې کاشکې هغه څه مو لیدلي وای چې تا لیدلي، او هلته حاضر وای چې ته حاضر وې!»

مقداد رضي الله عنه په دې خبره ډېر سخت غوسه شو او ویې ویل: «یو څوک ولې د داسې حالت هیله کوي چې الله تعالی ترې غایب کړی دی؟ هغه نه پوهېږي که هلته وای نو حال به یې څنګه و! په خدای قسم، د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته داسې خلک هم ورغلي وو چې الله تعالی په دوزخ کې نسکور کړل؛ ځکه هغوی د هغه بلنه ونه منله او تصدیق یې ونه کړ. ایا تاسو د الله شکر نه ادا کوئ چې تاسو یې داسې (مسلمان) پیدا کړئ چې خپل رب پېژنئ، د خپل نبي پر راوړي دین باور لرئ او ستاسو پر ځای نور خلک په بلاګانو (امتحانونو) کې واچول شول (ترڅو دین تاسو ته په اسانه ورسیږي)؟»

مقداد زیاته کړه: «په خدای قسم، نبي صلی الله علیه وسلم په داسې سختو حالاتو کې مبعوث شو چې تر هغه وراندې هیڅ نبي په داسې حال کې نه و مبعوث شوی؛ دا د جاهلیت زمانه وه، هغوی د بتانو له عبادت پرته بل هیڅ دین غوره نه ګانه،

نو هغه (نبي صلی الله علیه وسلم) د حق او باطل ترمنځ ببلوونکی (فرقان) راوړ؛ د پلار او زوی ترمنځ یې ببلتون راوست، تر دې چې یو سړی به خپل زوی، پلار یا ورور په کفر کې لیده او دی چې د ایمان خاوند شوی و، پوهیده چې که هغه په دې حال کې مړ شي نو دوزخ ته به ځي!»

ketabton.com - The Digital Library

تأمل او درسونه:

د لیدلو هیله او واقعیت:

مور ټول دا هیله لرو چې کاشکې مو نبي صلی الله علیه وسلم لیدلی وای؛ د قریشو د اذیتونو پر وړاندې مو ترې دفاع کړې وای، په طائف کې مو د کاڼو مخه نیولې وای، په هجرت کې مو ملګرتیا کړې وای او په احد کې مو د هغه د مبارکې وینې د بهیدو مخه نیولې وای. دا هیله له ایمان او مینې څخه پیدا کیږي او ډېره ښه ده، خو انسان باید پوه شي چې الله تعالی هغه په داسې زمانه کې پیدا کړی چې د هغه لپاره تر ټولو ګټوره ده. دا یو لوی نعمت دی چې مور مسلمانان پیدا شوي یو؛ سترګې مو داسې نړۍ ته غړولې چې کورنۍ مو توحید راښيي، فاتحه را زده کوي او پر لمانځه او روژې مو روږدي کوي، تر دې چې اسلام زمور له غوښې او هډوکو سره ګډ شولو.

د ازمېښت سختي:

مور څه پوهیږو که یو له مور څخه په قریشو کې پیدا شوی وای او پلار او مور یې د هبل او لات په عبادت روزلی وای؟ په داسې حال کې چې شراب یې څښل، سود یې خوړ او لوږګانې یې ژوندۍ ښخولې؛ بیا چې یې اوریدلی وای چې یو سړی راغلی او د دوی بتانو ته بد وایي، شاید دی هم یو له هغو کفارو وای چې د خپل باطل دین لپاره یې سر ورکاوه!

د شکر ځای:

د الله شکر ادا کړئ چې اسلام مور ته په ډېره اسانۍ، په یو زرین قاب کې راورسېد؛ بې له دې چې له مور او پلار سره جګړه وکړو (لکه سعد بن ابي وقاص)، او بې له دې چې خپل مالونه پرېږدو (لکه صهیب رومي). دا ډېر سخت امتحانونه وو چې ډېر خلک پکې پاتې راغلل.

د هغه اعرابي (کوچیاني) خبره څومره پر ځای ده چې چا ورته وویل: «ایا دعا کولای شې؟»

ویې ویل: «هو.»

ورته وویل شول: «دعا راته وکړه.»

هغه وویل: **«ای الله! تا مور ته اسلام بې غوښتنې راکړې (په اسانۍ) راکړه، نو جنت رانه مه سپموه په داسې حال کې چې مور یې درڅخه غواړو!»**

۶۳ ما له خپلو ترونو سره په یو ټرون کې ګډون کړی و

رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې د خپلې ځوانۍ د دورې په اړه فرمایي:

ketabton.com - The Digital Library

> «ما د عبدالله بن جدعان په کور کې له خپلو تره ګانو سره په داسې یو تړون (حلف) کې ګډون کړی و، چې که د هغه په بدل کې ماته د زرو اوښان (د هغه وخت تر ټولو قیمتي مال) هم راکړل شوي وای، نو زه به پرې خوښ نه وم!»
>
> هغه تړون چې نبي صلی الله علیه وسلم یې یادونه کوي، **"حلف الفضول"** نومېږي او کیسه یې داسې وه:

د یمن د "زبید" قبیلې یو سړی مکې ته د سوداګرۍ لپاره راغی، "عاص بن وائل" ترې مال واخیست خو پیسې یې ورنه کړې. هغه سړي د قریشو مشرانو ته شکایت وکړ، خو د عاص بن وائل د لوړ مقام له امله چا ورسره مرسته ونه کړه. هغه سړی د "ابو قبیس" غره ته ووت او په لوړ غږ یې داسې شعرونه وویل چې د مکې خلک یې مرستې ته راوبلل او خپله مظلومي یې بیان کړه.

لومړنی کس چې دا فریاد یې واورېد، د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره "زبیر بن عبـدالمطلب" و (چې تـر بعثت وړاندې مړ شوی و). هغه وویل: «دا سړی داسې نه شي پرېښودل کېدای!» بیا یې خلک د عبدالله بن جدعان په کور کې راټول کړل او هلته یې د "حلف الفضول" تړون وکړ. دوی ژمنه وکړه چې په مکه کې به هیڅ مظلوم نه پرېږدي مګر دا چې حق به یې ورګرځوي. بیا ټول ولاړل او عاص بن وائل یې مجبور کړ چې د هغه سړي پیسې ورکړي.

له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته وفرمایل:

> «که زه په اسلام کې هم د داسې تړون لپاره راوبلل شم، نو خامخا به یې ومنم!»
>
> یعنې که د غیرمسلمانانو یوه ډله هم له ده څخه د کوم مظلوم د مرستې او یا د کوم اړمن د لاسنیوي غوښتنه وکړي، نو دی به په منلو کې هیڅ ځنډ ونه کړي.

له دې کیسې څه زده کړو؟

د جاهلیت ښه اخلاق:

دا کیسه په ډاګه کوي چې عربو په جاهلیت کې هم لوړ اخلاق درلودل چې اسلام پرې آفرین ووایه. اسلام یوازې د شرک عقیده، سود، زنا، د لوړګانو ژوندي ښخول او هغه څه چې د فطرت خلاف وو، له منځه یووړل؛ خو کوم ښه اخلاق چې په خلکو کې وو، هغه یې تائید کړل. رسول الله صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل: **«زه یوازې د اخلاقو د بشپړولو لپـاره مبعوث شوی یم!»** یعنې په هغو خلکو کې لا پخوا هم حمیده اخلاق شتون درلود.

د نبوت عدالت:

دا د نبوت له عدل څخه ده چې د مخالفینو په نېکو خصلتونو هم اعتراف وکړي. دا د یو مؤمن په ایمان کې هیڅ کمی نه راولي چې د بل دین د پیروکار په ښو اخلاقو اعتراف وکړي؛ برعکس، دا هغه عدل دی چې مور ته یې امر شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

فطري اخلاق:

مېرانه او لوړ اخلاق که څه هم اسماني اديانو ډېر ثابت کړي دي، خو دا ممکنه ده چې په يو غيرمسلم کې هم مېرانه او ننګ ومونډل شي؛ ځکه دا د هغه سالم فطرت برخه ده چې الله تعالى انسان پرې پيدا کړى دى. رښتينى تعجب د هغه مسلمان په حال چې اخلاق او مېرانه ونه لري!

۶۴ الله ستا دا خبره نه ده هېره کړې!

رسول الله صلى الله عليه وسلم کعب بن مالک رضي الله عنه ته وفرمايل:

«ايا ته هغه څوک يې چې ويلې دي:

> زَعَمَتْ سَخِينَةُ أَنْ سَتَغْلِبُ رَبَّهَا
>
> وَلَيُغْلَبَنَّ مُغَالِبُ الْغَلَّابِ»
>
> (ژباړه: قريشو ګومان کاوه چې پر خپل رب به غالب شي، خو هر هغه څوک چې له غالب (الله) سره مقابله کوي، خامخا به مغلوب کېږي.)
>
> کعب بن مالک وويل: «هو، يا رسول الله!»

نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «پوه شه چې الله ستا دا خبره نه ده هېره کړې!»

په بل روايت کې راغلي: «الله ستا د دې خبرې منه (شکر) کړې ده.»

د دې کيسې پس منظر دا دى چې د خندق په غزا کې "ابن الزبعرى" د مسلمانانو هجوه (بدګويي) وکړه او د احزابو لښکر يې وستايه؛ نو حسان بن ثابت او کعب بن مالک يې ځواب ورکړ. د دغه بيت مانا دا ده چې قريشو د کفر او عناد له لارې له خپل رب سره مقابله وکړه، خو څوک چې له الله سره جنګ کوي، هغه خامخا ماتې خوري.

له دې کيسې څه زده کړو؟

خپل مسوولیت وپېژنئ:

دا دين بېلابېلې جبهې لري؛ هر يو مو بايد وګورئ چې الله په کومه جبهه کې مېشت کړي يئ. خپله جبهه په پوره ايمانداري وساتئ، ځکه همدا ستاسو د جنت لاره ده. کعب بن مالک د شعر استعداد درلود، نو په خپلو قافيو يې د دين دفاع وکړه؛ ځکه هغه وخت د رسنيو جګړه په شعر کې وه. هغه يو بيت ووايه چې د ځمکې او اسمانونو د مالک رضا يې پرې ترلاسه کړه!

ketabton.com - The Digital Library

نېکي سپکه مه ګڼئ:

کار کوئ او هیڅ عمل کوچنی مه ګڼئ. خپله جبهه وساته ترڅو اسلام ستا له لورې زیانمن نه شي.

کور مېرمنې:

مه وایه چې زه به د اسلام لپاره څه وکړم؟ د اسلام اتلان خو د همداسې مخلصو او هوښیارو میندو په غېږ کې روزل کېږي.

ښوونکي:

مه وایه چې جګړه سخته ده او زه څه کولی شم؟ د سبا ورځې د اسلام سرتېرې خو همدا کوچنیان دي چې نن ستا پــه مخکې ناست دي.

د الله رضا نړدې ده:

ته نه یې خبر چې د دین په کوم خدمت به جنت ته ځې؛ ښایې د شعر په یوه بیت په ټولنیزو رسنیو کې په یوې خپرونې (پوسټ)، یو اریان ته په نصیحت، او یا یو ارمن ته په صدقې سره الله درنه راضي شي. الله تعالی ډېر ژر راضي کېږي او په داسې څه ښښه کوي چې د انسان په خیال کې هم نه وي.

تاریخپوهانو لیکلي چې د نحوې (ګرامر) امام **"سیبویه"** تر مړینې وروسته چا په خوب کې ولید او ترې ویې پوښـتل: «الله درسره څه وکړل؟»

هغه وویل: «الله زه په دې خبره وښښلم چې ویلي مې وو: **"الله"** داسې پېژندګلوی (عَلَم) ده چې پېژندلو (تعریف) ته اړتیا نه لري.»

همدا راز **"خلیل بن احمد فراهیدي"** هم په خوب کې ولیدل شو، پوښتنه ترې وشوه: «الله درسره څه وکړل؟»

هغه وویل: «الله زه د هغې زړې ښځې په برکت وښښلم چې ما ورته "سورت الفاتحه" ښودلی و!»

۶۵ ډېر وخت راسره وه!

په بني اسرائیلو کې یو فقیه، عالم او عابد سړی و چې له خپلې مېرمنې سره یې ډېره مینه لرله او وربانديې مئین و. کله چې دغه مېرمن مړه شوه، هغه دومره سخت غمجن شو چې د کور دروازه یې پر ځان وټړله، له خلکو یې ځان ګوښه کړ او هیچا ته یې اجازه نه ورکوله چې ورشي.

د بني اسرائیلو یوې هوښیارې ښځې چې دا حال ولید، د هغه کور ته ورغله او پیره دار ته یې وویل: «زه یوه پوښتنه (فتوا) لرم، په کاغذ کې یې نه شم لیکلی، خامخا باید له هغه سره مخامخ خبرې وکړم.»

ketabton.com - The Digital Library

هغه سړی چې خبر شو دغه ښځه له دروازې نه ځي، اجازه يې ورکړه. ښځه ورغله او ويې ويل: «زه يوې پوښتنې ته راغلې يم.»

هغه وپوښتل: «څه پوښتنه ده؟»

ښځې وويل: «ما له خپلې ګاونډۍ څخه ځينې ګاڼې (زيورات) په پور اخيستې وې، ډېر وخت مې وکارولې او نورو ته مې هم په پور ورکولې، اوس هغې څوک رالېږلي او خپلې ګاڼې بېرته غواړي، ايا زه يې ورته ورکړم؟»

عالم وويل: «هو، خامخا يې ورکړه.»

ښځې وويل: «خو هغه له ما سره ډېر وخت پاتې شوې دي (زړه مې ورسره لګيدلی).»

عالم وويل: «دا خو لا د دې سبب ګرځي چې ته يې په خوښۍ بېرته ورکړې؛ ځکه هغې تر ډېره وخته په وړيا ډول تاته در پرېښې وې.»

ښځې وويل: «الله دې درباندې رحم وکړي! نو ته بيا پر هغه څه ولې خفه يې چې الله تاته په پور درکړي وو او بيا يې بېرته واخيستل، په داسې حال کې چې هغه (الله) تر تا وربانډې ډېر حق لري؟!»

عالم سمدستي پوه شو، خپل يوازيتوب يې مات کړ او بېرته د خلکو ښوونې او لارښوونې ته راووت.

تأمل او درسونه:

- **د نړۍ کسانو له لاسه ورکول:** لکه څنګه چې عرب وايي، د عزيزانو مړينه "غربه" (بې وطنۍ) ده. خلک د داسې غم په وخت کې تسليت او ډاډګېرنې ته اړتيا لري. مړينه دردونکې ده او کله ناکله ان حليم او هوښيار انسانان هم خپله توازن له لاسه ورکوي؛ نو يوازې ښه ډاډګېرنه کولی شي هغوی بېرته عادي حالت ته راولي.
- **د عمر رضي الله عنه کيسه:** عمر بن الخطاب له خپل ورور "زيد" سره ډېره مينه لرله، کله به چې د يمامې په جنګ کې د هغه شهادت خبر ياد شو، نو ژړل به يې. کله چې متمم بن نويره د خپل ورور په ويـر کې ډېـر اغېزناک شعرونه وويل، عمر رضي الله عنه ورته وويل: «کاش ما هم داسې شعر ويلی شوای.» متمم ورته وويل: «ای عمره! که زما ورور ستا د ورور په څېر شهيد شوی وای، ما به هيڅکله وربانډې نه وای ژړلي.» عمر رضي الله عنه وويل: «هيڅا ما ته داسې تسليت نه و راکړی لکه تا چې راکړ!» (ځکه د شهيد مړينه ويار دی).

د ډاډګېرنې هنر:

د يو صالح سړی زوی مړ شو او هغه له خلکو ځان ګوښه کړ، يو ملګری يې ورغی او ويې پوښتلو: «آيا ته وربانـدې ډېـر مهربانه يې که الله؟»

هغه وويل: «الله.»

ملګرې يې وويل: «نو پر هغه ماشوم ولې ژاړې چې داسې ذات ته ورغلی چې تر تا وربانډې ډېر مهربانه دی؟»

مور بايد د خپلو غمجنو وروڼو د زړونو د تسل لپاره د کلمو په انتخاب کې دقت وکړو؛ ځکه کله ناکله يوه سمه خبره د يو مات زړه درمان ګرځي او انسان ته د صبر توان ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library

۶۶ ادب د الله له لوري دی!

د امام مالک رحمه الله یوه لور وه چې **فاطمه** نومېده؛ هغې د خپل پلار مشهور کتاب "موطأ" په بشپړ ډول حفظ کړی و. کله به چې امام مالک ناست و او شاګردانو به ورته د موطأ احادیث لوستل، لور به یې د دروازې تر شا کېناسته. که به کوم شاګرد په لوستلو کې غلطي وکړه، هغې به په لاس دروازه وډبوله، امام مالک به سمدستي پوه شو چې شاګرد تېروتنه کړې ده!

بل خوا د هغه یو زوی و چې **محمد** نومېده؛ هغه له کوترو ساتلو سره ډېره مینه لرله. سره له دې چې امام مالک د هغه د علمي روزنې لپاره هره ممکنه هڅه وکړه، خو بریالی نه شو. یو ځل یې هغه ولید چې کوتره یې په لاس کې ده او منډې وهي؛ امام مالک خپلې لور ته اشاره وکړه او ویې ویل: **«ادب (هدایت او روزنه) د الله په لاس کې دی؛ دا زما زوی دی او دا مې لور ده!»**

کله به چې امام مالک له تنګسې سره مخ شو، لور به یې په بازار کې ورسره د سبزیو په پلورلو کې مرسته کوله. هغه وخت به یې سبزي د ډوډۍ په بدل کې پلورله. یو ځل امام مالک د کوم کار لپاره لاړ او لور یې په دکان کې یوازې وه؛ یو سړی راغی او ورته ویې ویل: «دا سبزي راکړه، سبا چې ډوډۍ پخه شي، بیه به یې درته راوړم.»

فاطمې ورته وویل: «دا جایزه نده.»

سړي وپوښتل: «ولې؟»

هغې ورته وویل: **«ځکه چې دا د خوراک په بدل کې د خوراک معامله ده او دا باید لاس په لاس (نقد) وي.»**

سړي چې د هغې پوهه ولیده، پوښتنه یې وکړه چې دا څوک ده؟ ورته وویل شول: «دا د امام مالک لور ده!»

د صالحانو ازمېښت:

کله ناکله نېکان خلک د خپلو کورنیو له لارې ازمایل کیږي او په دې کې زمور لپاره د پیغمبرانو ژوند غوره بېلګه ده:

- د لوط (ع) ښځه کافره وه.
- د نوح (ع) ښځه هم کافره وه.
- د ابراهیم (ع) پلار "آزر" کافر و.
- او زمور خور پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته داسې قرآن نازل شو چې د هغه د تره "ابولهب" غندنه پکې شوې وه.

انسان باید د خپلو اولادونو د ښې روزنې لپاره خپله پوره هڅه وکړي؛

اصل او قاعده هم همدا ده چې ښه روزنه ښه پایله ورکوي، خو هره قاعده استثنا هم لري. دا ناممکنه ده چې نوح (ع) دې د خپل زوی په روزنه او دعوت کې ناغبړي کړې وي، خو هدایت د الله په لاس کې دی. هغه بدبخته زوی پریکړه وکړه

ketabton.com - The Digital Library

چې پر ځای د دې چې له خپل پلار سره په کښتۍ کې سپور شي، غره ته یې پناه یوړه؛ سره له دې چې پلار یې په ډېر شفقت ورته ناړې کړې: **«ای زما خوږه زویه! له موږ سره سپور شه!»**

زموږ مسؤلیت:

موږ یوازې د **هڅې او کوښښ** مسؤل یو، نه د پایلو. الله سبحانه وتعالی به له موږ څخه د هغه طریقې پوښتنه وکړي چې اولاد مو پرې روزلی، خو دا پوښتنه رانه نه کوي چې ولې دې روزنې پایله ورنه کړه (که موږ خپله دنده سمه ترسره کړې وي).

د صالحانو په کیسو کې زموږ لپاره تسلي ده:

- که مېرمنې دې په تکلیف کړې، نو ستا مېرمن خو به د نوح (ع) او لوط (ع) له مېرمنو بدتره نه وې!
- که پلار دې هغسې صالح نه وې لکه ته یې چې غواړې، نو هغه یقیناً تر "آزر" غوره دی؛ ځکه تر کفر پورته بله ګناه نشته!
- او که زوی دې په تکلیف کړې، نو دا تکلیف به ستا لپاره تر هغه کم وي چې زوی دې ستا د سترګو وړاندې په کفر کې غرق شي!

۶۷ هغه روژه وموندله!

له یمن څخه دوه کسان نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلل او دواړو په یو وخت کې اسلام قبول کړ. په هغوی کې یو یې په عبادت کې تر بل ډېر زیارکښ و؛ هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په غزا کې ګډون وکړ او شهید شو!

دویم کس تر هغه یو کال وروسته ژوندی و او بیا مړ شو.

حضرت طلحه بن عبیدالله (رض) په خوب کې ولیدل چې دی د جنت د دروازې مخې ته ولاړ دی او هغه دواړه کسان هم هلته دي. یو فرښته راغله او هغه کس ته یې چې وروسته وفات شوی و، امر وکړ چې جنت ته ننوځي.

بیا فرښته بیا راغله او هغه چا ته یې د ننوتلو امر وکړ چې لومړی شهید شوی و.

بیا فرښته راووته او طلحه ته یې وویل: «ته اوس وګرځه، ځکه ستا د ژوند وخت لا پاتې دی!»

کله چې طلحه (رض) سهار شو، خلکو ته یې خپل خوب بیان کړ او هغوی ډېر حیران شول!

کله چې دا خبره نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسېده، ویې فرمایل: «تاسو په څه شي حیران یاست؟»

هغوی عرض وکړ: «ای د الله رسوله! هغه لومړی کس په عبادت کې ډېر کوښښی و او بیا شهید هم شو، خو دا بل کس تر هغه مخکې جنت ته ننووت؟»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«آیا دغه (دویم) کس تر هغه وروسته یو کال ژوند ونه کړ؟»**

ketabton.com - The Digital Library

هغوی وویل: «هو، همداسې ده.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«او هغه روژه ومونډله، روژه یې ونیوله او لمونځونه یې وکړل؟»**

هغوی وویل: «هو.»

بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«نو د دغو دواړو ترمنځ (په درجه کې) دومره فاصله ده لکه د اسمان او ځمکې ترمنځ چې ده!»**

اوس دا دی روژه ستاسو په لاس کې ده او تاسو هغه څه ومومئ چې د هغه صحابي په برخه شوي وو؛ هغه د روژې نیولو او د شپې د قیام (لمانځه) له امله له خپل هغه ملګري مخکې شو چې تر ده مخکې شهید شوی و. نو مسابقه وکړئ، ځکه د مؤمن عمر یوازې د هغه په نېکۍ کې زیاتوالی راولي!

ښه راغلاست د الله په لاره کې لوړې او تندې ته!

ځکه دا یوازې څو محدود ساعتونه دي چې تېرېږي، بیا به معدې ډکې شي، ستوني به اوبه شي، خو د الله په خوښه اجر به یې ثابت پاتې شي.

ښه راغلاست د قرآن کریم تلاوت ته!

چې د تېرې زړونو پټې ده، د غم ځپلو نفسونو تسلي ده او د نېکیو غږونه دي. زه نه وایم چې "الم" یو حرف دی، بلکې الف یو حرف، لام یو حرف او میم یو حرف دی!

ښه راغلاست قیام او تراویح ته! د هغو پښو ښه راغلاست چې د الله لپاره درېږي او د هغو زړونو چې د هغه په دربار کې سر ټیټوي. د خوندورې سترې دا څو شېبې تېرېږي، خو ستر اجر یې تلپاتې دی.

ښه راغلاست صدقې او د مسکینانو خوراک ته! همدا هغه څه دي چې پاتې کیږي؛ ځکه کفن جیبونه نه لري او صدقه یوازینۍ لاره ده چې مور خپل مالونه پرې تر مرګ وروسته ژوند (آخرت) ته لېږلی شو.

۶۸ ملګریه، روژه راغله!

ای زما ملګریه، پر تا دې سلام وي:

دا دی روژه راغله، په داسې حال کې چې ته له ګناهونو او د زړه له ټپونو سترې یې؛ نو د خپل زړه سورې ورغوه، د خپل روح ماته بنده کړه او د خپل رب پر دربار سر کېږده. ورته ووایه: «ای الله! ستا ګناهکار بنده تاته راګرځېدلی، له تا لرېوالي بدبخته کړی و او د لارو واټنونو یې ملا ماته کړې وه. ای الله! ته له ما پرته نور بې شمېره بندګان لري، خو زه له تا پرته بل رب نه لرم؛ ته زما عزت، زما لوری او زما د روح قبله یې، نو پر ما د عارفانو په څېر دروازې پرانیزه، ما په توبه ګارانو کې قبول کړه، په نېکانو کې مې حساب کړه او له روژه لرونکو سره مې حشر کړه!»

ketabton.com - The Digital Library

ای زما ملګریه، روژه راغله:

هغه میاشت چې ستونې پکې وچېږي خو زړونه پکې خړوبېږي؛ معدې پکې خالي کېږي خو روحونه پکې ډکېږي؛ بدن پکې کمزوری کېږي خو ایمان پکې پیاوړی کېږي؛ حرکت پکې ورو کېږي خو عقیده پکې کلکېږي!

نو ای ملګریه، خپل ایمان تازه کړه؛ ځکه الله ستا د خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتیا نه لري، بلکې هغهجل جلاله روژه موږ ته د دې لپاره رالېږي چې موږ پاک کړي او له سره مو ومینځي ترڅو د هغه د دربار لایق شو. نو پام کوه چې له روژې څخه دې یوازې لوږه او تنده نصیب نه شي!

روژه کوم خوراکي رژیم (ډایټ) نه دی؛ بلکې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر پله ستا د روح ارامتیا ده. ته چې د لارې له سترياوو زړه خوږینی شوی یې، خپل بار د الله په دربار کې کېږده؛ ځکه ته د الله له لوري یې، له الله سره یې او ببرته د هغه لوري ته روان یې!

ای زما ملګریه، روژه راغله:

که لوږې او تندې بې وسه کړې، نو هغه کسان رایاد کړه چې تر لوږې او تندې ورهاخوا یې تورې په لاس کې وې، خپل سرونه یې پر لاسونو کې نیولي وو او خپله وینه یې له الله سره سودا کړې وه، ترڅو نن موږ ته روژه پاتې شي:

- **روژه د بدر غزا ده؛** چېرته چې اسلام د لومړي ځل لپاره د قرآن د دفاع لپاره توره له تېکې وباسله او دا توره به تر هغه سره وې چې د دې امت وروستۍ ډله له دجال سره وجنګېږي!
- **روژه د مکې فتح ده؛** هغه ښار چې په پای کې یې خپل هویت ببرته وموند او د توحید پلازمېنه شو! "لاړ شئ تاسو ازاد یاست" او حضرت بلال (رض) د کعبې پر سر په لوړ غږ ټول کائنات خبر کړل چې "الله اکبر"!
- **روژه د قادسیې جګړه ده؛** سعد بن ابي وقاص او ابو محجن... او عمر بن الخطاب (رض) چې کله د بریا زېری ورغی، ویې پوښتل: «جګړې څومره وخت ونیو؟» ورته وویل شول: «له فجر څخه تر عصر پورې.» ویې فرمایل: «سبحان الله! باطل د حق په وړاندې دومره ډېر نه شي دربدلی، ښایي زما یا ستاسو د کومې ګناه له امله جګړه اوږده شوې وې!»

روژه د بلاط الشهداء معرکه ده؛ او عبدالرحمن الغافقي چې له پاریس څخه په اویا کیلومټرۍ کې یې ویل: «ای الله! زما له وینې دومره واخله چې ته راضي شې!»

روژه د عموریې فتح ده؛ معتصم بالله او هغه لښکر چې د یوې ښځې د عزت لپاره په غوسه راووت، نو ای الله زموږ عزت ببرته راګرځوه!

روژه د عین جالوت جګړه ده؛ مظفر قطز او مغول... چېرته چې مجاهدینو پر ځمکه روژه ونیوله لیکن افطار یې په جنت کې وکړ!

روژه د شقحب جګړه ده؛ ابن تیمیه او ابن القیم د جګړې په لومړي صف کې وو؛ ځکه هلته نه رنګ د وینې ځای نیولی شوی او نه فقې د جهاد!

ketabton.com - The Digital Library

ای زما ملګریه، روژه راغله:

دا د زړونو د چاڼ کولو (فلټر کولو) میاشت ده، نو خپل زړه پاک کړه. پام کوه چې له روژې په هغه ډول زړه را ونه وځې په کوم چې ورننوتلی وې!

ستا د پاک زړه په هیله د سولې او ارامۍ په دعا.

۶۹ هغه چا ته یې ورکړه چې تر ما غریب وي!

حضرت عمر بن الخطاب (رض) فرمایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم به ماته مال (عطیه) راکوله، نو ما به ورته ویل: «دا هغه چا ته ورکړه چې تر ما ډېر ورته اړمن او غریب وي!»

رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل: **«کله چې له دې ماله تاته څه در ورسیږي، په داسې حال کې چې نه دې ورته سترګې نیولې وي او نه دې غوښتی وي، نو وایې خله؛ او کوم چې داسې نه وي، نو خپل نفس پسې مه ستړی کوه!»**

سبحان الله، د عمر (رض) د نفس عزت ته وګورئ! مال یې تر دروازې راځي پرته له دې چې غوښتنه یې وکړي، خو دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وایي چې تر ما مسکینانو ته یې ورکړه. هغه نه یوازې دا چې له فقیرانو او مسکینانو سره په صدقو او عطیو کې مقابله نه کوي، بلکې هغوی تر خپل ځان مخکې کوي؛ د ټولنیز پیوستون او د نورو د احساسولو یو غوره مثال وړاندې کوي.

خو نن سبا مور له داسې خلکو سره مخ یو چې غواړي ټوله نړۍ وخوري، سره له دې چې اړتیا ورته نه لري. د دې لامل دا دی چې اصلي لوړه په نفس کې ده، نه په معده کې!

تاسو به یو ډېر غریب او ناهیلی سړی وګورئ چې کله کومه اداره پر فقیرانو څه ویشي او هغه ترې هېر شي، نو د خپل نفس د عزت له امله ورپسې نه ګرځي، سره له دې چې سخته اړتیا ورته لري. خو بل خوا به داسې څوک هم وګورئ چې اړتیا به هم ورته نه لري خو قیامت به یې جوړ کړی وي؛ د دې پر ځای چې دی له نورو سره مرسته وکړي، دی غواړي چې له نورو یې واخلي!

افسوس د هغه چا پر حال چې که په کوڅه کې یې کوم خیر غوښتونکی د یو مسکین کور ته څه یوشي او د ده دروازه ونه ټکوي، نو نړۍ پر سر اخلي؛ پر ورکوونکي د غلا او تبعیض تورونه لګوي، یوازې د یوې وړې نېکۍ لپاره چې نه څوک پرې مړیږي او نه یې له لوړې ژغورې!

په دې ورځو کې پر خلکو حالات سخت شوي دي، او الله پر شتمنو دا فضل کړی چې د غریبانو د لاسنیوې هڅه کوي؛ یا په شخصي ډول او یا د خیریه بنسټونو له لارې. نو دا حرص او بخل د څه لپاره؟ ولې پرې تورونه لګوئ او غواړئ خلک له نېکۍ بدبینه کړئ او د نېکۍ لاره بنده کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

د خپل نفس عزت وساتئ؛ که درته څه درکړل شول پرته له دې چې غوښتنه يې وکړئ، ويې اخلئ. که ارتيا مو ورته لرله نو الله دې درته برکت پکې واچوي، او که ارتيا مو نه لرله نو هغه څوک ورته وښايئ چې تر تاسو ډېر غريب وي، يا يې پخپله ترې واخلئ او هغه ته يې ورکړئ.

پوه شئ چې هر هغه څه چې انسان ته رسيږي، هغه يې رزق دی. رزق په بې ادبۍ او شور ماشور نه زياتيږي، بلکې په غوره هڅه زياتيږي. هر هغه څه چې تاته دررسېدونکي وي، هغه به په ډېر عزت ستا تر دروازې در ورسيږي، ځکه ستا رزق دی؛ او کوم چې الله ستا په نصيب کې نه وي ليکلي، هغه که ټول انس او جن درسره ملګري شي، نشي يې ترلاسه کولی!

د رزق په مسئله کې مور بايد له خلکو وراندې له الله سره ادب وساتو.

حضرت عمر بن الخطاب (رض) څومره ستره خبره کړې چې ويل يې: **«زه له الله څخه د رزق پوښتنه نه کوم، ځکه هغه خو لا دمخه ويشل شوی دی؛ بلکې زه له هغه څخه په رزق کې د برکت غوښتنه کوم!»**

۷۰ ترڅو چې شيطان ذليل او مات شي!

عبدالله بن حريب نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: «ای د الله رسوله! زه داسې سړی يم چې ډېرې ګناهونه رانه کيږي.»

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

«الله ته توبه وباسه او استغفار ترې وغواړه.»

هغه وويل: «زه بيا ګناه ته ورګرځم.»

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: **«توبه وباسه او استغفار وغواړه.»**

هغه بيا وويل: «زه بيا هم ګناه کوم.»

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته بيا هم وفرمايل: **«توبه وباسه او استغفار وغواړه.»**

سړی وپوښتل: «ای د الله رسوله، تر کومه وخته؟»

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: **«تر هغه وخته چې شيطان ذليل او مغلوب شي!»**

د ابليس د انسان د بې لارې کولو يو چل دا ده چې د بندګانو ګناهونه د هغوی په سترګو کې لوی کړي او د الله رحمت ورته په عقلونو کې کوچنی کړي. کله چې بنده ګناه وکړي، ابليس ورته راځي او ورته وايي: «ستا ځای نور په نېکانو کې نشته، دا دين يوازې د پرهېزګارانو لپاره دی، تا د الله پردې څيرې کړې او بايد حيا وکړې چې ببرته ورګرځې.» هغه خبيث غواړي مور هم د ځان په څېر کړي؛ ځکه کله چې ده ګناه وکړه، تکبر او ضد يې وکړ. خو مور د ادم (ع) اولاده يو؛

ketabton.com - The Digital Library

زمور پلار چې کله تبروتنه وکړه، استغفار يې وکړ او پر خپله ګناه يې وژړل، ترڅو الله يې توبه قبوله کړه او حتى د خپلو پيغمبرانو په صف کې يې راوست!

پام کوه چې شيطان ستا او د الله ترمنځ خنډ نه شي!

په هر حال کې چې ياست د الله لورې ته روان اوسه؛ که ګناه دې وکړه استغفار وکړه، که لړې شوې په راګرځېدو کې بيړه وکړه. هغه دروازه مه تړه چې الله ستا د توبې لپاره پرانيستې ده! د يوې ګناه له امله چې کله نا کله درنه کيږي، د جومات جماعت مه پرېږده؛ برعکس، پر هغه ډېر ټينګ شه، ځکه نجات په همدې کې دی. له کومې ګناه که نشوې خلاصيدلی، خپله هغه صدقه مه بندوه چې يو غريب ته يې ورکوې.

ته ووايه، که د يوې ګناه په خاطر لمونځ پرېږدې او د بلې په خاطر صدقه، نو له کومې دروازې به ننوځې؟ معادله ساده ده:

که د يوې ګناه د پرېښودلو وس دې نه وي، نو په نېکيو او طاعتونو وربانديې فشار راوړه!

صحابي ابومحجن ثقفي (رض) د شرابو په څښلو اخته و، خو د الله په لاره کې له جهاده نه کښېناست؛ هغه پوهېده چې الله ورته دا دروازه خلاصه کړې ده، نو ساتنه يې ترې کوله. د قادسيې په جګړه کې ابومحجن د شرابو څښلو په تور سعد بن ابي وقاص (رض) ته راوستل شو او هغه يې په زولنو کې بند کړ. جګړه څو ورځې روانه وه، ابومحجن د سعد مېرمنې ته زاری وکړې چې دی خلاص کړي ترڅو جګړه وکړي او بيا به راشي چې بېرته يې په زولنو کې بند کړي. پر ده ډېره سخته وه چې د الله لښکر په جګړه بوخت وي او دی په زولنو کې وي!

د سعد مېرمنې هغه خوشې کړ، هغه په پټ مخ جګړې ته لاړ او ډېره مېړانه يې وښودله. سعد به ويل: «آس د ابومحجن دی او د نېزې ګوزار هم د هغه دی، خو ابومحجن خو په زولنو کې دی!»

کله چې جګړه ختمه شوه، هغه په منډه راغی او بېرته يې خپلې پښې په زولنو کې بندې کړې. کله چې سعد خبر شو، ويې ويل: «نه، په الله قسم! نن نه وروسته به داسې سړی ونه وهم چې الله يې په لاس دومره لويه بريا راکړه.» او هغه يې ازاد کړ. ابومحجن وويل: «ما به هغه وخت شراب څښل چې حد راباندې جاري کيدو او پاکېدم به، خو له نن وروسته په الله قسم چې هيڅکله به يې ونه څښم!»

هغه دروازه مه تړه چې الله درته خلاصه کړې ده، که هر څومره ګناهکار يې، ښايي د الله لورې ته ستا د بېرته ګرځېدو لاره همدا وي.

۷۱ د مظلوم له ښېرا ځان وساته!

نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې کله معاذ بن جبل (رض) يمن ته واستاوه، نو ځينې توصيې يې ورته وکړې، چې په هغو کې يوه دا وه:

ketabton.com - The Digital Library

«د مظلوم له بښرا څخه ځان وساته، ځکه چې د هغه او الله ترمنځ هیڅ پرده نشته!»

یحیی برمکي د هارون الرشید وزیر و، رشید هغه ته په حکومت کې پوره واک ورکړی و؛ هغه په عباشي خلافت کې د هرې کوچنۍ او غټې معاملې واکدار و. خو وروسته برمکي له خپل حده تجاوز وکړ. لکه څرنګه چې عرب وایي: "پاچاهي عقیمه ده" (یعني د واک په خاطر څوک خپل نږدې کسان هم نه پرېږدي) او د سلاطینو غوسه تر قیامت وړاندې یو قیامت وي؛ نو رشید هغوی سخت وځپل، ځینې یې ووژل او ځینې یې زندان ته واچول.

یحیی برمکي او د هغه زوی "فضل" له هغو کسانو څخه وو چې په پیل کې زنداني شول، او وروسته بیا هارون الرشید فضل وواژه.

په زندان کې فضل خپل پلار ته وویل: «پلار جانه! تر امر او نهې او دومره نعمتونو وروسته نن دې حال ته راورسېدو؟!»

پلار یې ورته وویل: **«ای زما زویه! دا د کوم مظلوم هغه بښرا ده چې په توره شپه کې یې کړې وه؛ مور تري غافل شوو، خو الله تري غافل نه و!»**

ابن ابي الدنیا په خپل کتاب "مجابو الدعوة" (د هغو کسانو کیسې چې دعاګانې یې قبلیږي) کې روایت کوي: بُسر بن سعید، چې زمور د مور میمونې بنت الحارث (رض) په کور کې لوی شوی و او یو عابد، زاهد او پرهېزګاره سړی و؛ یو کس د ولید بن عبدالملک په وړاندې د هغه په اړه چغلخوري وکړه او ورته ویې ویل چې بُسر بن سعید خلک ستا د حکومت پر ضد راپاڅوي!

ولید بُسر بن سعید راوغوښت او هغه چغلخور سړی هم ورسره ناست و. کله چې بُسر راغی، د ولید له هېبته یې اندامونه رپېدل. کله چې ولید ورته د هغه سړي خبره وکړه، بُسر بن سعید قسم وکړ چې ما داسې څه نه دي ویلي.

ولید هغه چغلخور ته وویل چې خبره وکړې، هغه ودرېد او پر الله یې قسم وکړ چې ما پخپله له ده دا خبرې اورېدلې دي!

بُسر بن سعید خپل سر ښکته کړ، لږه شېبه چوپ و، بیا یې خپل سر پورته کړ، هغه سړي ته یې وکتل او لاسونه یې لپه کړل: **«ای الله! دغه سړي داسې شاهدي ورکړه چې ته پوهېږې ما نه دي ویلي؛ نو ای الله! که زه ریښتونی یم، نو د دغه تهمت په بدله کې ماته د ده انجام وښایه!»**

لا دعا یې نه وه خلاصه کړې چې هغه سړی پر ځمکه راولوېد او دومره یې لاس او پښې ووهلو چې سا یې ورکړه!

د مظلوم له بښرا څخه ځان وساتئ، ځکه دا هغه غشی دی چې هیڅکله خطا نه ځي. د هغه چا کمزورۍ ته مه ګورئ چې ظلم وربانديې کوئ، بلکې د هغه چا قوت ته وګورئ چې مظلوم ورته پناه ور وړي!

شیخ ابن عثیمین (رح) په دې اړه څومره ښکلې خبره کړې:

«الله تعالی د ظالم مسلمان په وړاندې د مظلوم کافر دعا هم قبلوي؛ دا له کافر سره د مینې یا له مسلمان سره د بغض له امله نه، بلکې له عدل سره د مینې او له ظلم سره د نفرت له امله!»

ketabton.com - The Digital Library

۷۲ جابر ته وخت ورکړه!

د احد په غزا کې حضرت عبدالله بن حرام (رض) شهید شو او پر هغه باندې د "ابو الشحم" په نوم د یو یهودي سړي د دېرشو وسقو خرماوو پور پاتې و. زوی یې جابر بن عبدالله وغوښتل چې د خپل پلار پور ادا کړي، خو کله چې یې خپل باغ ته وکتل، یقین یې شو چې خرماوې دېرې لږې دي او د پور د ادا کولو لپاره بسنه نه کوي. جابر یهودي ته ورغی او هیله یې ترې وکړه چې د پور د ورکړې لپاره لږ نور وخت ورکړي، خو یهودي انکار وکړ!

جابر (رض) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورغی او عرض یې وکړ چې د ده سپارښتنه یهودي ته وکړي ترڅو هغه ورته وخت ورکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودي ته وفرمایل: **«جابر ته وخت ورکړه!»** خو یهودي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپارښتنه هم ونه منله!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم پاڅېد، د جابر باغ ته ورننووت او د خرماوو د ونو ترمنځ وګرځېد، بیا یې جابر ته غږ وکړ او ویې فرمایل:

«خرماوې راوشکوه او د هغه حق ور ادا کړه!»

جابر چې کله د خرماوو په شکولو پیل وکړ، ډېر حیران شو؛ په محصول کې داسې برکت پیدا شوی و چې یهودي ته یې خپلې دېرش وسقه خرماوې هم ورکړې او لا هم تر نیمایي ډېره برخه ورسره پاتې شوه! کله چې جابر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دا زېرى یوړ، هغه مبارک په لمانځه بوخت و. له لمانځه وروسته یې چې کیسه واورېده، جابر ته یې وفرمایل:

«دا خبره عمر بن الخطاب ته هم وکړه!» جابر چې کله حضرت عمر (رض) خبر کړ، هغه ورته وویل: «کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا په باغ کې وګرځېد، زه هماغه وخت پوه شوم چې په دې ونو کې به ضرور برکت پیدا کیږي!»

له دې کیسې اخیستل شوې درسونه:

۱. د خلکو حق (پور):

که چېرته د بندګانو حق په څه شي سره ساقطېدای، نو د هغه شهید په حق کې به ساقط شوی وای چې د الله په لاره کې یې سر ورکړی؛ خو الله تعالی د شهید هر څه بسې پرته له "پور" (قرض) څخه. نو د مړي وارثانو ته پکار ده چې د هغه د پور په ادا کولو کې تر خپلې وسې هڅه وکړي. د عبدالله بن حرام پور چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر بیرغ لاندې شهید شوی و، ونه ښېل شو، نو د بل هر چا پور به څنګه وښېل شي؟ که څه هم د پور خاوند یهودي و، خو حق حق وي.

۲. نېکه سپارښتنه (شفاعت):

نېک شفاعت د لوړې مرتبې خلکو کار دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له دې چې د یو دولت مشر او د امت پیغمبر و، خو هیڅ شرم یې ونه کړ چې د جابر لپاره یو یهودي ته سپارښتنه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د نېکانو په څېر جوړ شئ که د هغوی په شان نه یاست هم، ځکه د نېکانو تقلید کول بریا ده.

په نېکو کارونو کې له شفاعت څخه مخ مه اړوئ؛ د خلکو حاجتونه پوره کوئ، د غریبانو ستونزې حل کوئ او د بې وسو لپاره منځګړیتوب کوئ. خو پام کوئ چې داسې واسطه ونه کړئ چې حق باطل او باطل حق کړئ، یا د یو چا حق بل ته ورکړئ.

۳. په ناکامۍ کې حوصله:

که ستاسو سپارښتنه ونه منل شوه، دا خبره شخصي مه اخلئ او دا قسم مه خورئ چې بیا به د چا لپاره کار نه کوم. وګورئ! د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپارښتنه ونه منل شوه، خو هغه مبارک تر پایه د خلکو په کارونو پسې ګرځېده. اجازه مه ورکوئ چې شیطان د "نفس د عزت" له لارې ستاسو د نېکۍ مخه ونیسي.

۷۳ د سړي لپاره همدغه ګناه بس ده!

یو وخت عمر بن الخطاب رضي الله عنه له خپلو ملګرو سره روان و، چې په بازار کې یې یوه ورځ نجلۍ ولیده؛ نجلۍ دومره کمزورې وه چې باد وهله او غورځوله یې!

عمر رضي الله عنه وویل: «افسوس په دې حال! څوک دا نجلۍ پېژني؟»

زوی یې، عبدالله ورته وویل: «آیا نه یې پېژنې؟ دا ستا له لونو (لمسیو) څخه ده!»

عمر وویل: «زما کومه لور؟»

عبدالله ورته وویل: «دا د عبدالله بن عمر لور ده (یعنې زما لور ده).»

عمر رضي الله عنه وویل: «دا په دې حال ولې ده چې زه یې وینم؟»

عبدالله ورته وویل: «ستا له لورې د مال بندښت (بخل) دا حال ته ورسوله!»

عمر وویل: «آیا زما له لورې د مال بندښت تا منع کوې چې خپلو لونو ته هغسې رزق وغواړې (او کار وکړې) لکه نور خلک چې یې غواړې؟ په الله قسم، ته زما په وړاندې د نورو مسلمانانو په څېر یوازې خپله برخه لرې، که یې بسنه کوله او که نه؛ زما او ستا ترمنځ د الله کتاب (قضاوت) دی!»

عمر بن الخطاب رضي الله عنه د دې وړې نجلۍ پر حال ډېر خپه شو، چې له ډېرې کمزورۍ ان تیز باد ته نه شوه دریدلی. کله چې پوه شو دا یې خپله لمسۍ ده، له خپل زوی څخه یې پوښتنه وکړه. زوی یې د ببوزلۍ عذر وړاندې کړ، ځکه پلار یې (عمر) ورته زیات مال نه ورکاوه. عمر رضي الله عنه هغه ملامت کړ او ورته ویې ویل چې دا کوم عذر نه دی چې ته له کار او غریبۍ لاس واخلې او د نورو خلکو په څېر د خپلو اولادونو د رزق لپاره هڅه ونه کړې. بیا یې ورته وویل چې ته هم د نورو مسلمانانو په څېر یوازې یوه برخه لرې او زه تاته تر نورو زیات څه نشم در کولی!

ketabton.com - The Digital Library

سبحان الله! د اسلام دین او د عمر بن الخطاب رضي الله عنه عدل ته وګورئ؛ د خلیفه لمسۍ له لورې په پښو نه شي دربدلی، خو هغه خپل زوی ته وایي: «زه تاته تر هغې برخې زیات نه درکوم چې نورو مسلمانانو ته یې ورکوم!»

عمر رضي الله عنه خپل زوی د خپلې کورنۍ په رزق کې د ناغبړۍ له امله ملامت کړ، او دا یې د نبوي هدایت څخه اخیستې و؛ ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«د سړي د ګناهګارۍ لپاره همدغه بس ده، چې د خپلې نفقې لاندې کسان (عیال) ضایع کړي.»

نن سبا د عیال ضایع کول په کورونو کې په ببلابېلو بڼو ډېر شوي دي:

- ځینې سړي پلمې کوي چې کار نشته او په کور کې بېکاره ناست وي، تر دې چې اولادونه یې یوې مړۍ ډوډۍ ته محتاج شي! دا سمه ده چې کله نا کله حالات سخت شي او کارونه کم وي، خو دا هم رښتیا ده چې څوک د رزق پیدا کولو هوډ وکړي، الله تعالی ورته دروازې پرانیزي. خو ستونزه دا ده چې خلک په خپله خوښه «لوکس» کارونه غواړي، که نه وي نو بیا په کور کې ناست وي او له بېکارۍ شکایت کوي!
- ځینې بیا مال لري، خو د بخل له امله پر خپل عیال نفقه نه کوي؛ له جبب څخه یې پیسه داسې په سختۍ وځي لکه روح چې له بدنه وځي. دا تر ټولو بد خلک دي، ځکه په دنیا کې د فقیرانو ژوند تېروي خو په اخرت کې به د شتمنو حساب ورسره کېږي!
- او ځینې بیا داسې دي چې که مېرمن یې دنده ولري، غواړي د هغې ټول معاش واخلي؛ که یې ورنه کړي، نو دی بیا د هغې د نږدې کولو لپاره پر کور نفقه بندوي!

دا سمه ده چې کورونه په «احسان او ښېګڼې» اداره کېږي نه یوازې په قانون، او مېرمن که له خپل مېړه سره په نفقه کې مرسته وکړي نو اجر لري، ځکه د هغې له کوره وتل د اولادونو او مېړه په حق کې کمښت راولي او دا ښه ده چې دا غیاب په نفقه جبران کړي. خو دا حقیقت باید هېر نه شي چې د کورنۍ نفقه په مېړه «واجب» دی، او د مېرمنې معاش د هغې خپل حق دی، مېړه ته روا نه ده چې د هغې له خوښې پرته یې واخلي.

۷۴ نه، ای عایشې!

پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو ځل وفرمایل: «څوک چې له الله سره لیدنه خوښوي، الله یې هم لیدنه خوښوي؛ او څوک چې له الله سره لیدنه بده ګڼي، الله یې هم لیدنه بده ګڼي.»

زمور مور عایشې رضي الله عنها ورته وویل: «ای د الله رسوله! ایا مطلب مو مرګ دی؟ ځکه مور ټول مرګ بد ګڼو!»

هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «نه، ای عایشې! بلکې کله چې د مومن د مړینې وخت راشي، ملایکې ورته د الله د رحمت او خوشنودۍ زیری ورکوي؛ نو هغه له الله سره لیدنه خوښوي او الله یې هم لیدنه خوښوي. خو کله چې د کافر د مړینې وخت راشي، هغه ته د الله د غضب او عذاب خبر ورکول کېږي؛ نو هغه له الله سره لیدنه بده ګڼي او الله یې هم لیدنه بده ګڼي!»

ketabton.com - The Digital Library

د مړینې شېبه په اصل کې په دنیا کې د امتحان د پایلې اعلان دی!

مومن خپل هغه نعمتونه ویني چې ورته تیار شوي، نو غواړي خپل رب ته لاړ شي او الله تعالی هم د هغه راتګ خوښوي. خو کافر خپل عذاب ویني، نو نه غواړي چې هغه لوري ته لاړ شي، ځکه خو الله هم د هغه راتګ بد ګڼي. د دغې برخلیک ټاکونکې شېبې په اړه یو له تر ټولو ښکلو خبرو دا ده:

«مومن چې کله خپل رب ته ورګرځي، د هغه مسافر په څېر وي چې خپلې کورنۍ ته ورستنېږي؛ خو کافر چې کله خپل رب ته ورګرځي، د هغه تښتېدلي مریې په څېر وي چې خپل بادار ته (په زور) راوړل کېږي!»

د سا ایستلو دا حساسه شېبه هغه ده چې صالحانو تري وېره لرله؛ دوی وېرېدل چې هسې نه عملونه یې ورسره یاري ونه کړي او ژبه یې پر کلمه ونه چورلي. د صالحانو د ژوند د وروستیو شېبو په اړه عجیبه کیسې روایت شوي دي!

زاهد «عبدالصمد» د مرګ په وخت کې وویل:

«زما باداره! همدې ساعت ته مې (خپله غاړه) ساتلی وې، او د همدې ورځې لپاره مې ستا (محبت) ګټلی و؛ نو زما هغه ښه ګومان چې دربانديې مې لره، رښتیا کړه!»

«آدم بن أبي ایاس» په داسې حال کې قران کریم ختم کړ چې د مرګ بستره کې پروت و، بیا یې وویل: «ستا سره مې د خپلې مینې په خاطر درنه غوارم چې په دې لوبدلي حال راسره نرمي وکړې؛ ما د همدې شېبې لپاره ځان ستا کړی و، ما همدا هیله لرله، لا إله إلا الله...» او ساه یې ورکړه!

مور باید د دغې برخلیک ټاکونکې شېبې لپاره — چې یا ابدي نعمت دی او یا ابدي عذاب — د وېرې او هیلې (خوف او رجا) ترمنځ واوسو. وېره له دې چې د عملونو کمښت مو ونه غولوي، نو اوس باید لا زیاته هڅه وکړو ځکه لا وخت شته. او هیله په دې چې دغه مهربان رب، چې مور ورته د ژمې په یخني کې اودسونه کړي، د اوړې په ګرمۍ کې مو ورته روژې نیولې او په سختۍ او اسانۍ کې مو د هغه د رضا لپاره صدقې کړې، تر دې ډېر مهربان دی چې مور له دې دنیا په داسې حال کې وباشي چې د هغه له جنت او رحمت څخه دې!

«حسن بصري» د یوه قبر په غاړه ودرېد او شاوخوا خلکو ته یې وویل: «ستاسو په نظر دا کس چې اوس په قبر کې دی، څه ارمان به لري؟»

هغوی وویل: «ارمان به یې دا وي چې ښېرته دنیا ته وګرځي ترڅو نېک عملونه وکړي.»

حسن بصري ورته وویل: «تاسو اوس په هماغه ارمان (دنیا) کې یاست، نو نېک عملونه وکړئ!»

یا الله! زمور پایله په خیر کړې.

۷۵ یوازې هغه څه چې د هغه (الله) لپاره خالص وي!

یو سړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې پوښتل: «ای د الله رسوله! د هغه سړي په اړه څه وایې چې جهاد ته ځي، خو هدف یې هم د الله ثواب وي او هم دا چې نوم یې (په مېرانه) واخیستل شي؛ د ده لپاره څه دي؟»

ketabton.com - The Digital Library

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د ده لپاره هېڅ نشته!»

سړي خپله پوښتنه درې ځله تکرار کړه، خو هر ځل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته همدغه ځواب ورکاوه: «د ده لپاره هېڅ نشته!»

بیا یې وفرمایل: «الله تعالی له عملونو څخه یوازې هغه قبلوي چې خالص د هغه لپاره وي او یوازې د هغـه رضـا پکې غوښتل شوې وي.»

د ابن القیم رحمه الله دا خبره ډېره وېرووونکې ده چې وایي: «که اخلاص نه لرې، نو ځان مه ستړی کوه!»

الله سبحانه وتعالی یوازې هغه عمل قبلوي چې د هغه لپاره وي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم مور ته خبر راکړی چې د قیامت په ورځ به تر ټولو لومړی د دوزخ اور په درې ډلو بل شي: شهید، د قران قاري او سخي (انفاق کوونکی)!

الله تعالی به شهید ته ووایي: «تا په دنیا کې څه وکړل؟»

هغه به ووایي: «ستا په لاره کې مې جګړه وکړه تر دې چې شهید شوم.»

رب به ورته ووایي: «دروغ وایې! تا ځکه جګړه وکړه چې خلک درته "مېړنی او زړور" ووایي، نو هغه درته وویل شول (خپل اجر دې په دنیا کې واخیست).»

بیا به امر وشي چې دوزخ ته یې وغورځوي!

د قران قاري ته به ووایي: «تا څه وکړل؟»

هغه به ووایي: «علم مې حاصل کړ، عمل مې پرې وکړ او ستا لپاره مې قران ولوست.»

رب به ورته ووایي: «دروغ وایې! تا علم ځکه زده کړ چې درته "عالم" وویل شي او قران دې ځکه ولوست چې درتـه "قاري" وویل شي، نو هغه درته وویل شول!»

بیا به امر وشي چې دوزخ ته یې وغورځوي!

سخي ته به ووایي: «تا څه وکړل؟»

هغه به ووایي: «ما په هره هغه لاره کې مال خرڅ کړ چې ستا خوښېده.»

رب به ورته ووایي: «دروغ وایې! تا دا کار ځکه وکړ چې خلک درته "سخي او جواد" ووایي، نو هغه درته وویل شول!»

بیا به امر وشي چې دا هم دوزخ ته وغورځوي!

څوک چې نېک کار کوي او هدف یې دا وي چې خلک یې ووینې، هغه د هغه چا په څېر دی چې د شګو (رېګ) یو ښکلی قصر جوړ کړي؛ خو کله چې کار خلاص کړي، یوه لویه څپه راشي او هر څه ونړوي، نو ده ته یوازې د جوړولو ستړیا ورپاتې شي.

یا د هغه چا په څېر دی چې په ډېر زیار د ایرو ډبرې جوړ کړي، خو کله چې لوی شي، باد پرې راشي او هر خوا یې خپور کړي؛ ده ته له خپل کار څخه یوازې د هغې د راټولولو ستومانۍ ورپاتې شي!

ketabton.com - The Digital Library

خو په دې هم باید پوه شو چې ابلیس کله نا کله د «ریا» له لارې انسان ته راننوځي او ورته وایي: «ته خیرات کوې او خلک دې ویني، دا نو څه عمل شو(څه ګټه)؟ ته جومات ته ځې او خلک دې ویني، آیا غواړې درته وویل شي چې پلانی ډېر لمونځ ګزاره دی؟»

دغه خبیث (شیطان) غواړي په دې وسوسو سره مومن له نېکو کارونو څخه راوګرځوي!

د الله تعالی له کرم څخه دا ده چې هغه د خپل بنده نېکي خلکو ته ښکاره کوي او د هغوی په زړونو کې ورته مینه پیدا کوي؛ نو پام کوه چې د شیطان د وسوسې له امله نېک کار پرېښږدې. خو تل له خپل نفس سره مبارزه کوه چې نیت دې سم کړې. که مور د دې وېرې له امله کار پرېږدو چې هسې نه خلک مو وپېژني، نو نه به د خلکو دین پاتې شي او نه دنیا.

او ستا د نوم او شهرت په اړه چې څه په نصیب وي، له هغې مه وېرېږه؛ امام احمد به دعا کوله چې الله مې دې داسې مړ کړي چې هېڅوک مې ونه پېژني، خو په داسې حال کې وفات شو چې نن یې په نړۍ کې هېڅوک له پېژندلو بې برخې نه دي!

۷۶ زمور لپاره اخرت دی!

انس بن مالک رضي الله عنه وایي: زه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ورغلم، هغه پر یوې بوریا (پیزې) پروت و او تر سر لاندې یې یو بالښت و چې د نښتر په سپنسیو (لیف) ډک شوی و. بیا یو څو نور صحابه هم راغلل چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه هم پکې و. پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بستر کې واوښت، عمر رضي الله عنه چې وکتل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په اړخ کې د پیزې نخښې پاتې شوې وې، نو په ژړا شو!

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «څه شي وژړولې؟»

هغه وویل: «کسرا او قیصر (د پارس او روم پاچاهان) په عیش او عشرت کې ژوند کوي او ته پر دې پیزې پروت یې؟»

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «آیا په دې نه یې خوښ چې د هغوی لپاره دنیا وي او زمور لپاره اخرت؟»

عمر رضي الله عنه وویل: «ولې نه (خوښ یم).»

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نو په الله قسم چې همداسې ده!»

دا دنیا د عمل ځای دی، د جزا ځای نه دی؛ د امتحان کور دی، د پایلې ځای نه دی!

ابو هریره رضي الله عنه وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر کورنیو به میاشت او بیا بله میاشت تېره شوه خو په کورونو کې به یې اور نه بلېده؛ نه د ډوډۍ لپاره او نه د پخلي لپاره!

خلکو ورته وویل: «ای ابو هریره! نو هغوی به په څه ژوندي وو؟»

هغه وویل: «په دوو تورو شیانو؛ خرما او اوبو. البته ځینې انصاري ګاونډیان یې لرل، الله دې ورته خیر ورکړي، هغوی پسونه لرل او کله نا کله به یې لږ شیدې ورته را لېږلې.»

ketabton.com - The Digital Library

که دنیا دربانديې تنګه شوه، نو خپل سردار (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) رایاد کړه، بلکې د ټول انسانیت سردار رایاد کړه؛ چې ناسته یې پر داسې خشن پیزې وه چې په بدن یې نخښې پرښودې، تر دې چې عمر د دې منظر په لیدو وژړل! میاشتې میاشتې به تېرېدې خو په کور کې به یې د پخلي څه نه وو، خوراک یې یوازې خرما، اوبه او هغه شیدې وې چې انصارو به ورته ډالۍ کولې.

که دنیا دربانديې تنګه شوه، نو یاد کړه چې یوسف علیه السلام د یوې ښځې د (ناروا) مینې له امله څو کاله د زندان تورو تمبو شا ته وغورځول شو، او له هغه وړاندې د خپلو وروڼو د کینې له امله د کوهي تل ته وغورځول شو. اې ملګریه! دا د تکلیف او ازمېښت کور دی.

که دنیا دربانديې تنګه شوه، نو یاد کړه چې د عزتمنو زوی، یحیی بن زکریا علیهما السلام، سر د یوې بدکارې ښځې په مهر کې وړاندې شو؛ هغې غوښتل له خپل ورور (پاچا) سره واده وکړي خو یحیی علیه السلام فتوا ورکړه چې دا حرام دې. نو پر خپلو اصولو ثابت قدم اوسه، ستا سر خو د پیغمبرانو له سرونو زیات عزتمن نه دی!

که دنیا تنګه شوه، نو یاد کړه چې ابو هریره رضي الله عنه — چې د امت تر ټولو لوی د حدیثو حافظ دی — له کوره یوازې لوړې ایستلی و؛ له صحابه وو به یې د هغې مسئلې پوښتنه کوله چې ده ته پخپله هم معلومه وه، خو هدف یې یوازې دا و چې یو څوک یې ډوډۍ ته وروبولي.

او که دنیا تنګه شوه، نو حذیفه بن الیمان رضي الله عنه رایاد کړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رازونو ساتونکی او د «صفې» له یارانو و. شاید پوښتنه وکړې: د صفې یاران څوک وو؟

اې ملګریه! هغوی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ملګري وو چې د نبوې جومات په یوه څنډه کې به اوسېدل او دومره پیسې یې نه لرلې چې د ځان لپاره پرې خواړه واخلي!

اوس نو ما ته ځواب راکړه: ایا په دې نه یې خوښ چې د هغوی لپاره دنیا وې او زمور لپاره اخرت؟!

۷۷ زه اودس سم نه شم کولی!

حسن او حسین رضي الله عنهما جومات ته داخل شول، هلته یې یو سپین ږیری سړی ولید چې اودس یې سم نه کاوه. څرنګه چې دوی دواړه په نبوي مدرسه کې روزل شوي وو، له ادب او حکمت څخه ډک وو؛ نو د عمر د تفاوت له امله یې حیا راغله چې هغه ته مخامخ ووایي چې ته اودس نه شې کولی! هغوی له ځیرکتیا او هوښیارۍ کار واخیست او ورته ویې ویل: «اې تره! زمور ترمنځ شخړه ده چې کوم یو مو ښه اودس کوو، غواړو تا حاکم وټاکو چې وګورې زمور څخه د چا اودس تر بل غوره دی؟»

لومړی حسن رضي الله عنه وړاندې شو او یو بشپړ نبوي اودس یې وکړ؛ ټول اندامونه یې په پوره توګه ومینځل او د اودس هېڅ سنت یې پرېنښودل. بیا حسین رضي الله عنه وړاندې شو او کټ مټ داسې اودس یې وکړ لکه نیکه (رسول الله صلی الله علیه وسلم) چې ورښودلی و. بیا دواړه سړي ته متوجه شول او د هغه پربکړې ته په تمه شول.

سړي وویل: «په الله قسم چې تاسو دواړه زما څخه ښه اودس کوئ!»

ketabton.com - The Digital Library

دا د هغو دوو ماشومانو له لوري چې د نبي صلى الله عليه وسلم د وجود ټوټې وې، د لوړ اخلاقو يو لوی درس دی؛ مطلب يې دا دی چې ادب تر علم مقدم دی او اسلوب (طريقه) تر هر څه لومړی او مهمه ده. انسان که هر څومره په حقه وي، بيا هم د ښکلي اسلوب او بيان له اړتيا څخه بې غرضه کېدلی نه شي.

له همدغه نبوي ادب څخه عمر بن الخطاب رضي الله عنه هم ډېر څه اخيستي وو. يوه شپه هغه له خپل غلام «اسلم» سره د خلکو د حال خبرېدو لپاره ووت، له لرې يې يو اور وليد. عمر وويل: «اې اسلمه! زه هلته يوه قافله وينم چې شپې او يخنۍ درولې دي، راځه چې ورشو.» کله چې ورغلل، هلته يې يوه ښځه وليده چې کوچني ماشومان ورسره وو، يو ديګ يې پر اور ايښی و او وړې ماشومان ترې چاپېر وو.

عمر رضي الله عنه وويل: «السلام عليكم يا أهل الضوء (اى د رڼا خاوندانو!)»؛ هغه بد وګڼل چې ووايي «يا أهل النار» (اى د اور خاوندانو!).

ښځې وويل: «وعليک السلام.»

عمر وويل: «نږدې شم؟»

ښځې وويل: «که د خير لپاره راغلی يې، نږدې شه.»

عمر پوښتنه وکړه: «د دې ماشومانو حال څه دی (ولې ژاړي)؟»

ښځې وويل: «لوړه! په ديګ کې يوازې اوبه دي، دوی پرې تېر باسم ترڅو ويده شي؛ زمور او د عمر ترمنځ دې الله قضاوت وکړي!»

عمر وويل: «عمر ستاسو له حاله څه خبر دی؟»

ښځې وويل: «زمور واک په لاس کې اخلي او بيا رانه غافله کېږي؟!»

عمر رضي الله عنه سمدستي بيت المال ته ستون شو، اوړه او غوړي يې راواخيستل. غوښتل يې د اوړو کڅوړه پر خپله اوږه يوشي، اسلم ورته ووېل: «اې د مومنانو اميره! زه يې درته وړم.»

عمر ورته ووېل: «پر ما يې بار کړه؛ ايا د قيامت په ورځ به هم زما د ګناهونو پېټی ته يوسې؟!»

هغه کڅوړه يوړه، ښځې ته يې پخلی وکړ او ماشومان يې مارې کړل. بيا لږ لرې ودرېد او هغوی ته يې کتل، يخني پرې لګېده خو دی همداسې ولاړ و. اسلم ورته ووېل: «اې د مومنانو اميره، راځه چې ځو.» عمر رضي الله عنه ووېل: «تر هغه نه ځم، تر څو مې چې هغوی داسې خندني نه وي ليدلي لکه څنګه مې چې په ژړا ليدلي وو.»

کله چې ماشومان مارې شول، ښځې ورته ووېل: «په الله قسم چې ته تر عمر بن الخطاب د خلافت ډېر مستحق يې!»

عمر ترې وغوښتل چې سبا دار الامارې ته راشي ترڅو له عمر سره يې خبره وکړي. سبا چې کله راغله او پوه شوه چې دا پخپله عمر دی، ډېره وېرېده؛ خو عمر ډاډ ورکړ او ورته ويې ويل چې غواړي د هغې دا حق ترې واخلي (مظلمه يې جبران کړي)، نو درې زره درهم يې ورته وټاکل!

په دې ټوله کيسه کې زمور لپاره تر ټولو مهمه خبره دا ده:

«يا أهل الضوء!»

ketabton.com - The Digital Library

هغه بد وګڼل چې «د اور خاوندانو» غږ وکړي، نو تر ټولو ښکلې کلمه يې انتخاب کړه. تاسو هم خپلې کلمې پـه دقت انتخاب کړئ، ځکه له لوشيْ هماغه څه تويېږي چې پکې وي!

۷۸ آيا تاسو خپل ماشومان ښکلوئ؟!

يو ځل د باندو يو شمېر عربان (اعراب) نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلل، په داسې حال کې چې د هغه صلى الله عليه وسلم لمسى حسن بن علي ورسره و. نبي صلى الله عليه وسلم هغه ښکل کړ، اعرابو په ډېرې حيرانتيا ترې وپوښتل: «آيا تاسو خپل ماشومان ښکلوئ؟»

نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «هو.»

هغوى وويل: «په الله قسم، مور خو يې هېڅکله نه ښکلوو!»

نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «که الله ستاسو له زړونو څخه رحمت ايستلى وي، نو زه څه کولى شم؟!»

ځينې پلرونه دومره جفا او سختي لري چې سړې ته داسې احساس ورکوي لکه زړونه يې چې له ډبرې وي، نه د غوښې او وينې هغه زړه چې د نورو انسانانو په څېر درزيږي! ځينې بيا د دې برعکس دي، مهربانه او مينـه وال وي، خـو داسـې ګومان کوي چې د دې مينې او عاطفې څرګندول د مېرانې (رجوليت) خلاف کار دى او دا د شخصيت کمزورې ګڼي!

زه نه پوهېږم چې دوى دغه فکر له کومه کړى او دا مفهوم يې له کومه ځايه اخيستى دى؟

نبي صلى الله عليه وسلم د نړۍ تر ټولو مېرنى انسان و،

خو دې مېرانې هغه صلى الله عليه وسلم د خپلې مهربانۍ له ښکاره کولو منع نه کړ. انس بن مالک رضي الله عنه وايي: «ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه زيات پر اولادونو مهربانه بل څوک نه دى ليدلى؛ د هغه صلى الله عليه وسلم زوى ابراهيم د مدينې په يوې سيمه کې د شيدو ورکونکې (دايې) سره و، هغه صلى الله عليه وسلم به هلته ور تلو او مور به هم ورسره وو، هلته به داخل شو، هغه به يې ښکل کړ او ښېرته به راغى.»

ستا اولادونه به يوازې ستا احساسات په ياد ساتي او بس!

هغوى به نه ستا د کور قېمتي فرنيچر په ياد وساتي، نه هغه لوکس موټر چې دوى پکې ګرځېدل، نه هغه خوندور خواړه چې تا ورته برابرول او نه هغه نرم کټونه چې دوى پرې ويده کېدل!

زه به درته ووايم چې ستا اولادونه به تر ابده څه په ياد ساتي:

هغوى به ستا هغه اوږه په ياد ساتي چې کله ژوند مات کړل، پر هغې يې تکيه وکړه. هغوى به ستا هغه غږ په ياد ساتي چې کله زوى په کوم امتحان کې ناکام شو، هلته يې پناه يوړه؛ يا هغه غږ چې لور دې کله په خپله کوژده يا ژوند کې له ناکامۍ سره مخ شوه، ستا په غږ کې يې تسلي ومونده.

ketabton.com - The Digital Library

هغوی به ستا تودې خبرې او ستا موسکا په یاد ساتي؛ هغه مهربانه شببې به یې په یاد وې چې ستا لاس د هغوی پر زړونو د تسلۍ لپاره اښودل کښده.

هغوی به د خوب پر مهال ستا کیسې په یاد ساتي، او د شپې هغه ناوخته ډوډۍ به یې په یاد وې چې د هغوی د خوښۍ لپاره دې د کور ټول قوانین پکې مات کړل!

هغوی به ستا هغه خبرې په یاد ساتي چې د خلکو په وړاندې دې د هغوی په اړه کولې — که هغه ستاینه وه او که ملنډې وهل — دا شیان هېڅکله نه هېرېږي!

هغوی به د بریا ډالۍ، د خوشحالیو د مناسبتونو حیرانونکي (سرپرایزونه)، کورنۍ سفرونه او هغه موسکاګانې په یاد وساتي چې تا یې پر مخونو رسم کړې وې!

یوازې همدا شیان پاتې کېږي؛ که دې دا ضایع کړل، نو بیا چې هر څه ورته وکړې، ستا د دغې تېرې شوې ناغېږۍ جبران به ونه شي کړای!

۷۹ الله خپله وعده نه ماتوي!

جبرائیل علیه السلام له نبي صلی الله علیه وسلم سره وعده وکړه چې د ورځې په یو ساعت کې به ورته راځي، خو هغه ساعت تېر شو او جبرائیل رانغی. د نبي صلی الله علیه وسلم په لاس کې یوه لکړه وه، هغه یې له لاسه وغورځوله او ویې فرمایل: «الله او د هغه استازې (ملایکې) خپله وعده نه ماتوي.»

بیا یې شاوخوا وکتل، ویې لیدل چې د سپې یو وړوکی بچی(کونګری) تر کټ لاندې دی، ویې فرمایل: «ای عایشې! دا سپی کله دلته رانوتی دی؟»

عایشې رضي الله عنها وویل: «په الله قسم چې زه هم خبره نه یم.»

نبي صلی الله علیه وسلم امر وکړ او هغه یې وایستلو. کله چې جبرائیل علیه السلام راغی، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «تا راسره وعده کړې وه او زه درته ناست وم،

خو ته رانغلې.»

جبرائیل وویل: «هغه سپې چې ستا په کور کې و، زه له راتګه منع کړم؛ ځکه مور هغه کور ته نه ننوزو چې سپی یا تصویر پکې وي.»

سپی خو معلوم دی، او تصویر دلته د مجسمو او هغو شیانو په مانا دی چې روح ولري، نه د معاصرو فقهاوو په وینا فونوګرافیک (کمرې) انځورونه. خو دلته اصلي خبره دا نه ده، بلکې مور به خپل تم ځای د نبي صلی الله علیه وسلم د دې خبرې په وړاندې وټاکو چې ویې فرمایل: «الله خپله وعده نه ماتوي.»

ketabton.com - The Digital Library

کله چې د جبرائیل په راتګ کې ځنډ راغی، نبي صلی الله علیه وسلم لومړی په خپل کور کې دننه وکتل (چې څه خنډ خو به نه وي)، هلته یې سپی وموند او ویې ایستلو. مور هم ارتیا لرو چې له الله سره په همدې یقین معامله وکړو: چې هغه خپله وعده نه ماتوي!

- کله چې الله تعالی فرمایي: **«لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ»** (که شکر وباسئ، زه به درته [نعمتونه] زیات کړم)، نو باور ولره چې دا یوه مشروطه وعده ده؛ پیل یې ستا له لوري دی او پای یې د هغه الله په لاس کې دی چې وعده هیڅکله نه ماتوي. هرکله چې د یو نعمت شکر وباسې، الله هغه درته زیاتوي؛ دا داسې وعده ده چې نه ردېږي. شکر په ژبه او اندامونو دواړو کېږي؛ په ژبه د هغه سبحان ثنا ویل دي، او په اندامونو د هغه نعمت په ځای کارول دي. د مال لرونکي شکر په صدقه او انفاق کې دی، د عالم شکر د خلکو په ښوونه کې دی، د منصب شکر په عدل کې دی او د ځواک شکر د ضعیفانو په خدمت کې دی!
- کله چې الله تعالی فرمایي: **«فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ»** (ما یاد کړئ، زه به مو یاد کړم)، دا په یقین سره احساس کړه او خوند ترې واخله؛ ډاډه اوسه چې دا حتماً واقع کېږي. که ته هغه په خپل زړه کې یاد کړې، هغه به دې په خپل ځان کې یاد کړي، او که یې د خلکو په مخکې یاد کړې، هغه به دې د ملایکو په وړاندې یاد کړي. که څه هم ذکر ډېرى په ژبه وي، خو ذکر کله نا کله «موقف» هم وي؛ کله چې د ګناه موقع درته برابره شي او ته دریاد کړې چې الله مې ویني او هغه کار ونه کړې، نو دا هم په حقیقت کې یو لوی ذکر دی!
- کله چې الله تعالی فرمایي: **«ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ»** (ما وبولئ، چې ستاسو غوښتنه قبوله کړم)، نو په داسې حال کې دعا کوه چې پر قبلېدو یې یقین لرې. هیڅکله داسې دعا مه کوه لکه د الله امتحان چې اخلې (مثلاً: وګورم چې قبلوي یې که نه). له الله سره ادب د دعا برخه ده. باور ولره چې الله کله تاته هغه څه نه درکوي چې ته یې غواړې، نو هدف یې دا وي چې هغه څه درکړي چې ته ورته ارتیا لرې. ایا نه وینې کله چې یو ماشوم ژاړي او غواړي رنګینې ګولۍ تبرې کړي، پلار او مور یې ځکه منع کوي چې ورته زیان لري؟ او د الله مثال تر هر څه لوړ دی!
- کله چې الله تعالی فرمایي: **«وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ»** (او الله هغوی ته عذاب نه ورکوي ترڅو چې هغوی استغفار کوي)، نو باور ولره چې استغفار د الله هغه خوندي غار دی چې څوک ورننوت، د هغه له عذابه په امن شو. دا هم په یاد لره چې ناروغي، بېوزلي او وېره عذاب نه دی؛ پیغمبران ناروغه شوي (ایوب علیه السلام ترې ښه ښلګه ده)، رسولان فقیران شوي (ان تر دې چې د نبي صلی الله علیه وسلم په کور کې به کله یوه خرما هم نه وه!) او پیغمبران وېرېدلي هم دي، لکه څنګه چې له موسی علیه السلام سره وشول کله چې جادوګرانو خپلې رسۍ او لکړې وغورځولې: «فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ».

۸۰ د مرغانو د زړونو په څېر!

پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو ځل خپلو اصحابو ته د زړه د نرموالي اهمیت بیان کړ او ویې فرمایل: «جنت ته به داسې خلک داخل شي چې زړونه به یې د مرغانو د زړونو په څېر وي!»

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شارحانو د دې حدیث په اړه دوه قوله ذکر کړې دي:

لومړی: دا چې هغوی پر الله پوره توکل کوي، د رزق او ګټې وټې معامله هغهجل جلاله ته سپاري، او د هغوی دنده یوازې هڅه او د اسبابو نیول وي؛ کټ مټ د مرغانو په څېر چې سهار له خپلو ځالو وړې وځي او ماښام ببرته په مړه خټه راستنیږي. هغوی پوهیږي چې نه د بل چا رزق خوړلی شي او نه یې څوک رزق تښتولی شي.

دویم:

دا د زړه د نرموالي، لطافت، پر خلکو د شفقت، د هغوی د درد احساسولو، د نورو په غم خپه کېدلو او د هغوی په خوښۍ کې د خوشحاله کېدلو کنایه ده.

خو دا هم شونې ده چې دواړه ماناوې پکې راټولې شي؛ یعنې د مرغانو زړه د هغه توکل نښه وي چې له نرمۍ او خوږوالي سره مل وي.

طلحه بن عبدالرحمن بن عوف د خپل وخت یو له خورا سخي او کریمو خلکو څخه و، هغه به بې حسابه خیراتونه کول. یوه ورځ یې مېرمنې ورته وویل: «ما ستا له ملګرو او وروڼو څخه زیات لویدلي او بې وفا خلک نه دي لیدلي!»

طلحه ورته وویل: «هغه څنګه؟»

مېرمنې یې وویل: «کله چې ته شتمن وې، دوی درڅخه چاپېر وو؛ خو کله چې غریب شوې، ټولو خوشې کړې!»

طلحه ورته وویل: «په الله قسم چې دا د هغوی د اخلاقو لوړوالی دی! هغوی هغه وخت مور ته راځي چې مور د هغوی د اکرام او خدمت توان لرو، او هغه وخت مو پریږدي چې مور د هغوی د حق ادا کولو څخه عاجز یو (ترڅو مور په تکلیف نه شو)!»

امام ماوردي پر دې کیسه تبصره کړې او وایي: «وګورئ چې هغه د خپل زړه د کرم له امله دا ډول تعبیر وکړ؛ د هغوی ناوړه عمل یې نېک وګاڼه او د هغوی ښکاره بې وفایي یې وفا وبلله!»

چا ته چې الله تعالی نرم زړه ورکړی وي، نو په حقیقت کې یې ډېر لوی عطاء ورته کړې ده.

- مبارک دې وي هغه چا ته چې خپلې خبرې په ډېر احتیاط انتخابوي ترڅو د چا زړه مات نه کړي؛ او کـه پـه ناڅاپي ډول تري داسې کلمه ووځي چې څوک وځوروي، نو په دننه کې یې سکون له منځه ځي او تر هغې نه ارامیږي تر څو چې هغه خرابي سمه نه کړي او هغه مات شوی زړه ته ببرته پیوند ورنه کړي!
- مبارک دې وي هغه چا ته چې له خلکو سره نږدې وي، مینه ورسره کوي او خلـک هم مینـه ورسـره لـري؛ دا اشخاص د باران په څېر وي چې هر چېرته ورسیږي له ځان سره خیر راوړي، او د عطر په څېر وي چې کله لاړ هم شي، خوشبویي یې پاتې وي.
- مبارک دې وي هغه چا ته چې د خلکو دردونه احساسوي او د هغوی ارتیاوې لټوي؛ مخکې له دې چې څوک د سوال لپاره لاس وغځولی، دی مرسته ورسره کوي او مخکې له دې چې څوک مړۍ وغواړي، دی یې مړوي.
- مبارک دې وي هغه چا ته چې د خلکو د زړونو د پیوندولو (خاطر جمعۍ) لپاره ګرځي؛ له خپل حقه تېرېږي، په بدۍ سترګې پټوي او په روغه جوړه کې مخکې کیږي. که کومه سترګه په ژړا وویني او توان یې وي، نو د هغې

ketabton.com - The Digital Library

اوښکې پاکوي؛ او که په کوم ملګري یا خپلوان غم راشي، نو د هغه د لرې کولو لپاره مټې رانغاړي. په رښتیا چې د الله لوري ته ځینې لارې د قدمونو په ایښودلو نه، بلکې د زړونو په ذریعه وهل کیږي!

۸۱ مور د هغوی عهد پوره کوو!

حذیفه بن الیمان رضي الله عنه وایي: زه یوازې دې خبرې د بدر په غزا کې له ګډون منع کړم کله چې زه او زما ملګری «ابي حسیل» راووتلو، نو د قریشو کافرانو ونیولو او ویې ویل: «تاسو حتماً محمد (صلی الله علیه وسلم) ته ورځئ.»

مور ورته وویل: «مور هغه ته نه ور ځو، بلکې مدینې ته ځو.»

هغوی له مور څخه د الله عهد او کلکه وعده واخیسته چې مور به مدینې ته ځو او له هغه (نبي صلی الله علیه وسلم) سره به په جګړه کې ګډون نه کوو.

کله چې نبي صلی الله علیه وسلم ته راغلو او کیسه مو ورته وکړه، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تاسو (مدینې ته) لاړ شئ، مور د هغوی عهد پوره کوو او د هغوی په مقابل کې له الله څخه مرسته غواړو!»

دا د هغه ستر انسان (نبي صلی الله علیه وسلم) له لورې د وفاداریِ یو عظیم درس دی چې د اخلاقو ټول کمالات ورته ورکړل شوي وو. که څه هم له دښمن سره په جګړه کې (د مصلحت لپاره) خبره اړول جواز لري، او حذیفه او ملګري یې نه شوای کولی قریشو ته رښتیا ووایي چې نبي صلی الله علیه وسلم ته ځي، خو له دې امله چې مشرکانو له هغوی څخه عهد اخیستی و چې د دوی په ضد به جګړه نه کوي؛ نو دغه مبړنې، کریم او وفادار نبي صلی الله علیه وسلم اجازه ورنه کړه چې په جګړه کې برخه واخلي او ویې فرمایل: «تاسو لاړ شئ، مور د هغوی عهد پوره کوو!»

همدارنګه د حدیبیې د سولې د تړون له لیکلو وروسته — چې یو بند یې دا و:

که له قریشو څخه څوک مسلمان شو او تاسو ته راغی، بېرته به یې هغوی ته سپاړئ — «ابو جندل» په داسې حال کې راغی چې زولنې یې په پښو کې وې. پلار یې «سهیل بن عمرو» چې لا هم د مسلمانانو له ټولې څخه نه وه، وویل: «ای محمده! دا لومړی کس دی چې ستا سره یې په اړه فیصله کوم، دا ماته بېرته وسپاره!»

نبي صلی الله علیه وسلم هغه بېرته خپل پلار ته وسپاره.

ابو جندل په چیغو ویل: «ای مسلمانانو! ایا ما بېرته مشرکانو ته سپاړئ چې زما په دین کې مې و ازمویي (فتنو کې مې واچوي)؟»

نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «مور له دې قوم سره عهد کړی دی او مور غدر (بې وفایي) نه کوو! ای ابو جندله، صبر وکړه او د ثواب هیله ولره؛ الله تعالی به تاته او ستا ملګرو ته د خلاصون یوه لار او مخرج پیدا کړي!»

دا د خپلو دښمنانو سره د هغه صلی الله علیه وسلم وفاداري وه، نو تصور وکړئ چې له خپلو ملګرو سره به یې وفاداري څنګه وه؟!

بیا زمور وفاداري څنګه ده؟

ketabton.com - The Digital Library

اصیل او مېرنی انسان په خپله خبره ولاړ وي؛ که وعده وکړه، نو هغه يې پر غاړه پور (قرض) وګرځئ. د هغه په وړاندې شفاهي خبره او لاسلیک شوی سند یو برابر ارزښت لري.

د وعدې د خلاف ورزۍ د ګناه او بدوالي لپاره همدومره بس ده چې دا د نفاق دریمه برخه ده؛ ځکه زمور سردار صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «د منافق درې نښې دي: چې خبرې کوي دروغ وایي، چې وعده وکړي خلاف ورزي کوي، او چې امانت ورته کېښودل شي خیانت پکې کوي.»

۸۲ زه مجبور یم چې (داسې څه) ووایم!

حجاج بن علاط السهمي له خیبر څخه څو ورځې وړاندې اسلام راوړ او په هماغه غزه کې يې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یوځای جګړه وکړه. کله چې جګړه د مسلمانانو په پرېکنده بریا پای ته ورسېده، غنیمتونه وویشل شول او رسول الله صلی الله علیه وسلم زمور له مور بي بي **صفیه بنت حیي** (رضي الله عنها) سره له اسلام راوړلو وروسته نکاح وکړه، نو حجاج رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل:

«یا رسول الله! زما په مکه کې له سوداګرو سره مالونه (پیسې) پاتې دي. زه وېرېږم که هغوی زما په اسلام خبر شي، زما مال به رانه کړي؛ نو ماته اجازه راکړئ چې هلته لاړ شم ترڅو خپل مال ترې ترلاسه کړم.»

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «اجازه ده،

لاړ شه.»

حجاج عرض وکړ: «یا رسول الله! زه به مجبور شم چې (ستاسو په اړه) څه ووایم.» (یعني د قریشو د غولولو لپاره مجبور یم ستا په هکله ځینې نامناسبې خبرې وکړم).

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **«ووایه، تاته اجازه ده!»**

حجاج روان شو ترڅو مکې ته ورسېد. قریش وار له مخه خیبر ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سفر په خبر وو او په تمه ناست وو. کله يې چې حجاج ولید، پوښتنه يې ترې وکړه: «د محمد (صلی الله علیه وسلم) په خیبر کې څه حال شو؟»

حجاج وویل: «هغوی سخته ماتې وخوړه، ملګرې يې ووژل شول او هغه پخپله اسیر شو. یهودو وویل چې مور يې نه وژنو، بلکې قریشو ته يې سپارو چې هغوی يې د خپلو وژل شویو په بدل کې ووژني! زه ځکه راغلی یم چې خپلې پیسې ټولې کړم او بېرته خیبر ته لاړ شم، ترڅو هلته د خلکو له غنیمتونو (او مالونو) څخه تر پلورل کېدو وړاندې یو څه وپیرم.»

قریش په دې خبره بې حده خوشحاله شول او په یوه ورځ کې يې د حجاج ټول مالونه ورته راټول کړل!

په دې وخت کې **عباس بن عبدالمطلب** (چې لا يې اسلام نه و ښکاره کړی) راغی. هغه د خپل وراره (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) په اړه په دې خبرو ډېر غمجن او پریشانه و. حجاج ته يې وویل: «ای حجاجه! دا څه خبر دی چې ته يې زما د وراره په اړه لرې؟!»

ketabton.com - The Digital Library

حجاج ورته وویل: «پر الله قسم ای عباسه! داسې خبر لرم چې ته به پرې خوشحاله شې؛ الله ستا وراره ته په خیبر کې فتحه ورکړه، مالونه یې غنیمت کړل او د هغوی د پاچا د لور (صفیې بنت حیي) سره یې نکاح وکړه. ما اسلام راوړی دی، خو خپل اسلام مې پټ ساتلی و ترڅو له قریشو خپل مال ترلاسه کړم. ته تر درېیو ورځو دا خبر پټ وساته چې هغوی زما پسې رانشي، کله چې درې ورځې پوره شوې، بیا یې ورته ووایه!»

له درېیو ورځو وروسته عباس (رض) په داسې حال کې چې ډېر خوشحاله و، بهر راووت او قریش یې خبر کړل. قریش پوه شول چې حجاج غولولي دي.

مهم درسونه:

- هغه څه چې په نېغه لاره نه ترلاسه کېږي، په هوښیارۍ او تدبیر ترلاسه کېدای شي. مؤمن زیرک او پوه وي؛ په جګړه کې چل او هنر (خدعه) شته.
- د دښمن په وړاندې (د جګړې په حالت کې) درواغ ویل روا دي، که هغه د عامو مسلمانانو په ګټه وي او که د فردي ګټې لپاره (د حق د ترلاسه کولو په موخه).
- **خو پام مو وي:** دا یوازې د دښمنانو په مقابل کې د حق د ترلاسه کولو لپاره دي. که یو مسلمان په امن سره کوم کافر هیواد ته داخل شي، هلته غلا او لوټمار ورته جواز نه لري؛ ځکه په داسې حالت کې د کافر مال هم د مسلمان په څېر محترم دی.
- د پیغمبر صلی الله علیه وسلم رحمت ته وګورئ؛ حجاج ته یې اجازه ورکړه چې د نبوت د ستر مقام په اړه داسې خبرې وکړي چې د هغه له شان سره مناسبه نه وي، ترڅو یوازې خپل حق (مال) ترلاسه کړي.
- دا کیسه یو لوی درس لري:

مسلمانان باید د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره یو له بل سره همکاري وکړي.

- د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سیرت یوازې مړ تاریخ یا وچې پېښې نه دي چې د ساتېرۍ لپاره بیان شوي وي، بلکې دا د ژوند او عقیدې درسونه دي چې مسلمانان په هر عصر کې ترې د خپل ژوند تګلاره جوړولي شي.

۸۳ نو غمونه به دي ختم شي!

أبي بن کعب (رضي الله عنه) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او عرض یې وکړ: «یا رسول الله! زه پر تاسو ډېر درود وایم، نو د خپلې دعا (ذکر) څومره برخه تاسو ته ځانګړې کړم؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «هر څومره دې چې خوښه وي.»

أبي وویل: «څلورمه برخه؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر څومره چې دې خوښه وي، خو که زیات یې کړې ستا لپاره غوره ده.»

ketabton.com - The Digital Library

ده وویل: «نیمه برخه؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر څومره دې چې خوښه وي، خو که زیات یې کړې ستا لپاره غوره ده.»

ده وویل: «دوه پر درېیمه برخه؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر څومره دې چې خوښه وي، خو که زیات یې کړې ستا لپاره غوره ده.»

أبي بن کعب وویل: «نو خپله ټوله دعا (ذکر) به تاسو ته ځانګړې کړم او یوازې به پر تاسو درود شریف وایم.»

هغه و چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **«نو په دې صورت کې به ستا ټول غمونه ختم شي او ګناهونه به دې وبښل شي!»**

مسلمان په خپل ژوند کې د دوو سترو هدفونو په لټه کې وي؛ یو د دنیا هدف او بل د اخرت:

۱. د دنیا هدف دا دی چې خوشحاله ژوند ولري او له غمونو او دردونو لرې وي.

۲. د اخرت هدف دا دی چې الله تعالی یې ګناهونه وبښي.

دا دواړه ستر هدفونه په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې د ډېر درود ویلو له لارې ترلاسه کېدای شي.

ابن عطاء السکندري څه ښکلې خبره کړې، هغه وایي:

«که د چا څخه روژه او د شپې عبادت (قیام) پاتې شوی وي، نو هغه باید ځان په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په درود ویلو بوخت کړي. ځکه که ته په خپل ټول عمر کې ټول ممکن عبادتونه وکړې او بیا الله تعالی پر تا یوازې یو ځل درود ووایې (رحمت در باندې وکړي)، نو د الله تعالی دغه یو درود ستا پر ټولو هغو عبادتونو درونه دی چې په ټول عمر کې دې کړې وي؛ ځکه ته د خپلې وسې په اندازه عبادت کوې، خو الله سبحانه وتعالی ستا پر حال د خپل ربوبیت (شان) په اندازه درود وایي!»

پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې د درود ویلو له ګټو څخه ځینې دا دي: د غمونو ختمېدل، د ګناهونو بښنه، په زړه کې نرمي، د صدر (سینې) ډاډ، د دعا قبلېدل، له ناروغیو شفا، د شفاعت مستحق کېدل، د فقر او غریبۍ ختمېدل، د روح پاکوالی، د ساه وتلو پر مهال ثبات، په قبر کې رڼا، له پل صراط څخه په اسانۍ تېرېدل او له دې هر څه وروسته د الله په اذن د داسې جنت ګټل چې پراخوالی یې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی.

په دې اړه مې یوه په زړه پورې خبره ولوسته، **علامه ولد الدو** وایي: «پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود ویل د مور او پلار سره د نېکۍ (احسان) یوه برخه ده؛ له دې څخه بله کومه لویه نېکي کېدای شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووایي: "فلاني د فلاني زوی پر تاسو درود ووایه"، نو په دې دول ستاسو د مور او پلار نوم د هغه صلی الله علیه وسلم په وړاندې یادېږي!»

ketabton.com - The Digital Library

۸۴ او د هغوی له غوره مالونو ځان وساته!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل (رضي الله عنه) یمن ته واستاوه او ورته ویې فرمایل: «ته داسې قوم ته ځې چې اهلِ کتاب دي، نو تر هر څه وړاندې هغوی د الله عبادت ته وبولە. کله چې هغوی الله وپېژانده، نو خبر یې کړه چې الله پر دوی په شواروز کې پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی. کله چې یې دا ومنله، نو خبر یې کړه چې الله پر دوی زکات فرض کړی چې د هغوی له شتمنو اخیستل کېږي او پر فقیرانو یې ویشل کېږي. کله چې هغوی د دې خبرې اطاعت هم وکړ، نو له هغوی څخه (زکات) واخله، **خو د خلکو له غوره مالونو څخه ځان وساته.**»

«د خلکو له غوره مالونو ځان وساته»

پدې معنی چې کله ته زکات ټولوې او یو څوک د اسونو خاوند وي، او د زکات نصاب داسې وي چې باید یو اس ترې واخیستل شي، نو ته باید هغه اس ته لاس وانچوې چې هغه یې ډېر خوښوي او د خپل ځان لپاره یې ځانګړې کړی وي. بلکې له نورو اسونو څخه یو انتخاب کړه ترڅو هغه سړی غمجن نشي؛ ځکه د زکات هدف د خلکو د خوښې وړ شیانو غصبول نه دي، بلکې د هغوی د مالونو پاکول دي. دا یو له هغو سترو ټولنیزو نظامونو څخه دی چې په تاریخ کې د خلکو ترمنځ د یو بل د لاسنیوي لپاره ایجاد شوي دي.

دا حدیث زمونږ مخې ته یوه بله ټولنیزه موضوع هم پرديې: دا چې هره ټولنه خپل عادتونه، دودونه او داسې شیان لري چې د هغوی زړونو ته نږدې وي. دا شیان د سلګونو کلونو د ژوند او میراث پایله وي؛ نو ته باید د یوې ټولنې پر عادتونو ملنډې ونه وهې، یوازې له دې امله چې ته په هغه عادت نه یې لوی شوی او یا ستا ټولنه ترې ناخبره ده.

ځینې ټولنې د اوښانو ځغلول (مسابقې) خوښوي؛ ته مجبور نه یې چې دا لوبه خوښه کړې، نه دا دربانديې لازمه ده چې دا مسابقه وګورې او نه پکې ګډون وکړې، خو دا دربانديې واجب ده چې پر دې عادت پورې ونه خاندې. دا چې ته په نورو جغرافیایي او ټولنیزو شرایطو کې لوی شوی یې، دا مانا نه لري چې د نورو ذوق غلط دی. که ته هم د هغوی ترمنځ پیدا شوی وای، ښایي نن به دې په دغو مسابقو کې ګډون کاوه او په تعصب سره به دې ترې دفاع کوله؛ ځکه انسان په پای کې د خپل چاپیریال زوی وي.

داسې خلک شته چې د دښتې د کربوړې د ښکار لپاره تر لیرې لیرې دښتو پورې سفر کوي. ښایي دا تاته یو عجیب کار ښکاره شي او دا خواړه درته بد ښکاره شي، دا ستا حق دی. یو ځل د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر دسترخوان هم دغه غوښه (ضب) کېښودل شوه، خو هغه صلی الله علیه وسلم له خوړلو انکار وکړ او ویې فرمایل: «دا زما د قوم په ځمکه کې نه و (عادت مو پرې نشته)، نو ځکه مې طبعیت ورته نه کېږي.» خو په هماغه دسترخوان خالد بن الولید (رض) هغه غوښه وخوړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته هیڅ ونه ویل. د نورو د خوراک د عادتونو احترام کول، تر هغه چې حلال وي، پر تا یو واجب کار دی، نه دا چې ته پر هغوی کوم احسان کوې.

که ستا فوټبال نه وي خوښ، مانا یې دا نه ده چې مینه وال یې بې کاره خلک دي.

که ستا د کبانو ښکار نه وي خوښ، مانا یې دا نه ده چې دا د وخت ضایع کول دي. د خلکو طبعیتونه او ذوقونه مختلف وي. ژوند پر تنوع (رنګارنګۍ) ولاړ دی، لکه څنګه چې ابن خلدون وایي: «که د خلکو ذوقونه مختلف نه وای، نو د بازار مالونه به بې ارزښته پاتې شوي وای.»

ketabton.com - The Digital Library

مور باید دې تنوع ته احترام وکړو او ځان د نورو لپاره معیار ونه ګرځوو چې هر څه زمور خوښ وي هغه سم او نور ټول غلط دي. دې شیان په «سم او غلط» نه تلل کېږي، بلکې هغه په «مباحاتو» کې راځي؛ څوک یې چې غواړي ودیې کړي او څوک یې چې نه غواړي پرې دې ږدي. د انسان لپاره تر دې بل غوره کار نشته چې د نورو په ژوند کې د مداخلې پر ځای په خپل ځان بوخت شي.

۸۵ هغه (کمبله) دا ده لپاره اور شوله!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر خیبر غزا وکړه او هغه یې فتحه کړ، هلته دې غنیمتونه ترلاسه شول چې پر خپلو اصحابو یې وویشل. کله چې بېرته مدینې ته روان و، د "وادي القُرى" په سیمه کې یې لښکر تم کړ. له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یو مریی و چې **"مِدْعَم"** نومېده. کله چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بارونه راښکته کول، ناڅاپه یو ورک (غشی)

چې معلومه نه وه چې دا غشی چا وویشتلو، پر ده ولګېد او مړ شو.

خلکو وویل: «مبارک دې وي، شهادت یې نصیب شو.»

خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«نه، په هغه ذات مې دي قسم وي چې زما روح یې په لاس کې دی! هغه (کمبله/چپنه) چې ده د خیبر په ورځ له غنیمتونو څخه (په پټه) اخیستې وه او لا ویشل شوي نه وه، اوس پر ده باندې په اور بدله شوې او سوځوي یې!»**

دا یو داسې سړی و چې د جهاد لپاره وتلی و، خو کله چې بریا ترلاسه شوه او مسلمانانو غنیمتونه ټولول ترڅو یې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویشي، ده یوه چپنه (کمبله) غلا کړه؛ نو له مړینې وروسته ورته فتنه شوله.

ځکه دا د ټولو مجاهدینو عام مال و چې ده یوازې د ځان لپاره غصب کړی و.

عام مال چې د ټولو خلکو حق وي، هیڅوک حق نه لري چې پرې خپټه واچوي یا یې د شخصي ګټې لپاره وکاروي. که نه، نو برخلیک به یې کټ مټ د مدعم په څېر وي؛ هغه څه چې ده غلا کړي، د اور په لمبو به ورته بدل شي او دی به پکې سوزي.

لاره عام مال دی:

هغه څوک چې له عامې لارې څخه یو متر ځای نیسي ترڅو خپل کور یا باغ پرې پراخ کړي، هغه په اصل کې یو متر د جهنم اور اخیستی چې عذاب به پرې ورکول کېږي.

عامه پارکونه:

په عامه پارکونو کې چوکۍ او میزونه عام مال دی. که څوک یې غلا کړي او خپل کور ته یې یوشي ترڅو یوازې دی ترې ګټه واخلي، هغه په حقیقت کې د اور چوکۍ وړې ده چې له مړینې وروسته به پرې کښېني.

ketabton.com - The Digital Library

دولتي اداري:

په عامه کتابتونونو کې کتابونه، په وزارتونو او حکومتي ادارو کې فرنیچر، کمپیوټرونه، کاغذونه او ان قلمونه هم د چا شخصي ملکیت نه دی. که یې څوک کور ته یوسي، هغه د خپل عذاب اسباب برابر کړي دي.

دا خو د ورو شیانو حال و، نو د سترو غلاګانو حال به څه وي؟!

د هغو کسانو حال به څه وي چې د سړکونو، پلونو او حکومتي ودانیو په جوړولو کې پیسې وهي او کار د معیار مطابق نه کوي؟ هغوی یوازې له حکومت څخه غلا نه ده کړې، بلکې له هر هغه هیوادوال څخه یې غلا کړې چې پر هغه سړک تېرېږي،او له هغه پله اوړي او یا هغې ودانۍ ته ننوځي.

الله تعالی ډېر رحیم او غفور دی کله چې خبره د بنده او د هغه ترمنځ وي؛

خو کله چې خبره د خلکو د حقونو او عامه مال پورې تړلې وي، نو الله ډېر عادل دی. د هغه له عدل څخه دا ده چې د حق خاوندانو ته خپل حقونه اخلي. نو د خلکو د خاصو او عامو حقونو په اړه ډېر پام کوئ. هیڅوک باید داسې فکر ونه کړي چې د یو چا له کوره د چوکۍ غلا کول حرام دي خو له عامه پارک څخه یې غلا کول روا دي ځکه چې "صاحب نه لري"؛ برعکس، د عامه ځایونو د شیانو صاحبان ټول ولس دی او له هغو غلا کول له ټول ولس څخه غلا کول دي.

۸۶ هیله لرم چې ته به له هغو څخه یې!

صحابه کرام د خپل سردار صلی الله علیه وسلم چاپېره داسې راګرځېدلي وو لکه د مړوند بنګړي؛ هغوی په ډېره تلوسه د هغه صلی الله علیه وسلم هرې خبرې ته په تمه وو ترڅو ترې زده کړه وکړي. یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

«چا چې د الله په لاره کې جوړه (دوه دانې له هر څه څخه) مصرف کړه، د جنت له دروازو به ورته غږ وشي چې: اې د الله بنده! دا (دروازه) غوره ده. نو څوک چې د لمانځه اهل وي، د لمانځه له دروازې به وروبلل شي؛ څوک چې د جهاد اهل وي، د جهاد له دروازې به وروبلل شي؛ څوک چې د روژې اهل وي، د ریان له دروازې به وروبلل شي او څوک چې د صدقې اهل وي، د صدقې له دروازې به وروبلل شي.»

حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) عرض وکړ: «زما مور او پلار درنه ځار شه یا رسول الله! له دغو دروازو څخه په یوه بلل کېدل خو کومه ستونزه نه ده (یعنې یوې.دروازې نه خو صحیح ده)، خو ایا داسې څوک به هم وي چې له دغو ټولو دروازو څخه ورته غږ وشي؟»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **«هو، او زه هیله لرم چې ته به هم یو له هغو کسانو څخه یې!»**

ددې حدیث تر ټولو اسانه تشریح هغه کیسه ده چې د امام مالک او عابد عبدالله العُمري ترمنځ شوې وه. عبدالله العُمري له خلکو ګوښه شوی و او ځان یې یوازې روژې، لمانځه او تلاوت ته وقف کړی و. هغه امام مالک ته خط ولیکه او هڅونه یې ورته وکړه چې ته هم له خلکو لرې شه، عبادت ته مخه کړه او د نورو په ځای په خپل ځان بوخت شه.

ketabton.com - The Digital Library

امام مالک ورته په ځواب کې ولیکل:

«الله تعالی عملونه داسې ویشلي لکه څنګه یې چې روزي ویشلې ده. ښایي یو سړی ته د لمانځه لاره خلاصه شوې وي خو د جهاد لاره ورته نه وي خلاصه شوې! بل ته ښایي د صدقې لاره خلاصه وي خو د روژې طاقت ورته نه وي ورکړل شوی. د علم خپرول د نېکۍ له غوره کارونو څخه دی او زه په هغه څه خوښ یم چې الله ماته پکې لاره خلاصه کړې ده. زه داسې نه ګڼم چې زما کار ستا تر کار کم دی او هیله لرم چې مور دواړه پر خیر یو!»

که زمور څخه هر یو په خپل ځان کې فکر وکړي، وبه ګوري چې الله تعالی ورته په یو ځانګړي عبادت کې داسې قدرت ورکړی چې په بل کې یې نه لري؛ نو په هماغه کار کې دې خواږي وکړي ځکه همدا یې جنت ته د ننوتلو دروازه ده. خو مانا یې دا نه ده چې نورې دروازې دې بیخي پربږدي. ځینې خلک د روژې نیولو ښه توان لري خو د صدقې ورکولو زړه نه لري، بل ته بیا تلاوت ډېر خوند ورکوي خو د حدیثو په باب کې ورته ډېره پوهه نه وي ورکړل شوې. خو پوره نعمت د هغه چا په برخه دی چې په ډېرو برخو کې مخکې وي!

تاته همدومره کفایت کوي چې په هغه عبادت کې ډېر کوښښ وکړي چې الله درته اسانه کړی دی، په داسې حال کې چې نور واجب عبادتونه هم بېخي پرېنږدي. که زمور څخه هر یو هماغه عبادت ته ودریږي چې پر ده اسانه دی، دا امت به په خیر وي.

حسان بن ثابت (رض) نه په جاهلیت کې او نه په اسلام کې توره پورته کړې وه او په هیڅ غزا کې یې (د جنګیالي په توګه) ګډون نه و کړی، خو الله تعالی ورته د شعر داسې استعداد ورکړی و چې د خپلو قصیدو په واسطه یې له اسلام څخه دفاع کوله؛ د هغه د شعرونو اغېز د خالد بن الولید تر تورې کم نه و. دواړو له اسلام سره مرسته وکړه، خو په هغو لارو چې الله ورته اسانه کړې وې!

خپل استعداد ته وګوره چې الله درکړی دی، وبه ګورې چې د اسلام له سنګرونو څخه یو سنګر ستا ساتنې ته په تمه دی. نو په هماغه سنګر کې اوسه، ځکه ستا مقام هلته دی چیرته چې الله تعالی تاته انتخاب کړی دی!

۸۷ د غشو له څوکو سره پام کوه!

یو سړی په مسجد کې تېر شو چې غشي ورسره وو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **«د هغو سرونه (تېرې برخې) ونیسه!»**

او یو بل ځل یې خپلو اصحابو ته وفرمایل: «کله چې ستاسو څخه څوک زمور په مسجد یا بازار کې تېرېږي او غشي ورسره وي، نو باید د هغو سرونه په خپلو منګولو کې کلک ونیسي، ترڅو د هغو څخه کوم مسلمان ته زیان ونه رسیږي.»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې اړه ډېر حساس و چې یو مسلمان خپل بل مسلمان ورور ته، ان که په غیر قصدي ډول هم وي، هیڅ زیان ونه رسوي. له همدې امله یې هغه سړي ته چې په مسجد کې تېرېده، امر وکړ چې د خپلو غشو تېره سرونه پټ وساتي ترڅو څوک پرې ټپي نشي.

ketabton.com - The Digital Library

هر تبره اله چې(تبره څوکه) لري، لکه غشی، نېزه او چاړه؛ مور باید د هغو په کارولو او لبردولو کې ډېر پام وکړو ترڅو څوک پرې ونه ځوروي شي.

خو "نصل" یا تبره څوکه یوازې په وسلو او اوزارونو پورې منحصره نه ده؛ ژبه هم یوه تبره او زخمي کوونکې څوکه لري. کله ناکله د ژبې زخم د غشو او نېزو تر زخمونو ډېر سخت وي؛ ځکه هغه ټپونه خو اکثره جوړېږي، مګر د ژبې زخمونه ډېر وخت په هغه زړه کې چې ورته ویل شوي، د درد په بڼه پاتې کېږي. نو د خپلو ژبو تېرې څوکې کنټرول کړئ!

زمور د اوسنۍ وخت یو له سترو فتنو څخه هغه "حشري" یا بې ځایه مداخله کوونکي خلک دي چې د نورو په شخصي ژوند کې لاسوهنه کوي او د هغوی ژوند ور خرابوي.

یوه ښځه په خپل کور کې صابره او راضي ناسته وي، په لږ څه ګزاره کوي او د ستر غوښتونکې وي؛ تر هغه چې یو "انساني شیطان" د نصیحت په جامو کې راشي (لکه ابلیس چې د نصیحت په جامو کې ادم علیه السلام ته د ابدي ژوند د ونې درواغ وویل چې په اصل کې د ګناه ونه وه) او ورته ووایي: «ته دا حالت څنګه زغمې؟ د کور سامان دې زاړه دي، د مناسبتونو لپاره نوې جامې نه لرې، پلانی او پلانۍ ته وګوره...» بیا هغه لاړه شي خو خبرې یې د هغې ښځې په غوږونو کې انګازې کوي او د هغې ژوند ورباندې تریخ کړي.

یو ځوان د خپل مور او پلار خدمتګار او فرمانبردار وي، د کورنۍ اصول او قوانین مراعتوي، تر هغه چې یو څوک ورته راشي او ورته ووایي: «ولې تر ناوخته بهر نه پاتې کېږې؟ ولې د هر کار لپاره له مور او پلار اجازه اخلې؟ ایا ته وړوکی ماشوم یې؟!»

دا بې عقل سړی د "نیکۍ" او "بلوغ" ترمنځ توپیر نه شي کولی او فکر کوي چې دا دواړه یو د بل ضد دي!

ابن الجرزي وایي: «ما له خپل مور او پلار څخه مصر ته د ېږته ستنېدو اجازه وغوښته، هغوی زما ېبلتون ونه زغمل او اجازه یې رانکړه، نو زه د هغوی په خدمت کې پاتې شوم!»

امام ذهبي وایي: «ما له خپل شیخ "فاضلي" سره لیدو ته ډېره تلوسه وه،

خو پلار مې د سفر اجازه نه راکوله (نو لاړ نه شوم)!»

دا لوی لوی امامان وو چې د سفرونو څخه به ځکه تېرېدل چې مور او پلار به یې اجازه نه ورکوله. خو نن سبا ځینې خلک خپلو ملګرو ته وایي چې د مور او پلار اطاعت کول د شخصیت کمزورې ده!

د خدای لپاره د خپلو ژبو تېرې څوکې ونیسئ او نور مه زخمي کوئ.

۸۸ هغه سختي لا هم په مور کې پاتې ده!

د جلیل القدره تابعي سعید بن المسیب نېکه، **"حَزْن بن أبي وهب المخزومي"** نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی، هغه صلی الله علیه وسلم ترې وپوښتل: «نوم دې څه دی؟»

ده وویل: «حزن» (حزن په لغت کې سخت خویه او تند مزاجه ته ویل کېږي).

ketabton.com - The Digital Library

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «ته (له دې وروسته) **سَهل** (نرم) یې.»

خو ده وویل: «زه هغه نوم نه بدلوم چې پلار مې راباندې ایښی دی.»

سعید بن المسیب وایي: «زمور د نیکه له خوا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نوم نه منلو له امله، لا تر اوسه زمور په کورنۍ کې هغه سختي او توندوالی پاتې دی.»

له همدې امله، که څوک د سعید بن المسیب ژوندلیک ته ځیر شي، وبه ګوري چې هغه له خپل ټول علم او فضیلت سره سره، ډېر سخت خویه او تند مزاجه و!

یو ځل عبدالملک بن مروان مدینې منورې ته د لیدنې لپاره راغی؛ کله چې یې وغوښتل د غرمې لخوا لږ ارام وکړي، خوب ورنغی، نو خپل یو ساتونکي ته یې وویل: «نبوي جومات ته لاړ شه او یو څوک پیدا کړه چې له ما سره خبرې وکړي (کیسې راته وکړي).»

ساتونکی لاړ او جومات ته ننوت، ویې کتل چې سعید بن المسیب په یوه حلقه کې خلکو ته درس ورکوي، ورته ویې ویل: «د امیرالمؤمنین غوښتنه ومنه (ورشه).»

سعید ورته وویل: «ایا زما نوم یې درته اخیستی؟»

ساتونکي وویل: «نه، خو هغه راته وویل چې یو څوک پیدا کړه چې خبرې ورسره وکړم.»

سعید ورته وویل: «امیرالمؤمنین ته ووایه چې زه د امیرانو له ناستو پاستو څخه ډډه کوم!»

کله چې ساتونکی بېرته عبدالملک ته ورغی او کیسه یې ورته وکړه، نو زیاته یې کړه: «ما غوښتل چې د هغه غاړه پرې کړم چې ځکه ستا امر یی ونه منلو!»

عبدالملک ورته وویل: «پرېږده یې، دا سعید بن المسیب دی او له هغه وخته چې مور د ده په اړه اوربدلي، همداسې دی!»

دا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عادت و چې کله به ورته یو څوک په داسې نوم راغی چې ښه مانا به یې نه لرله، نو په بل ښه نوم به یې بدلاوه؛ ځکه هغه صلی الله علیه وسلم به په ښه نوم فال نیوه. له همدې امله کله چې د حدیبې په ورځ **سهیل بن عمرو** د خبرو اترو لپاره راغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا سهیل بن عمرو دی، ستاسو په کار کې اسانې (سهولت) راغله!»

همدا راز کله چې **کثیر بن الصلت** نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویې پوښت: «نوم دې څه دی؟»

ده وویل: «قلیل» (لږ).

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «بلکې ته کثیر (ډېر) یې!»

یوه ښځه له بني غفار څخه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته خپل زوی راوړ چې یو تعویذ (تمیمه) یې په غاړه کې وه؛ هغه صلی الله علیه وسلم تعویذ لرې کړ او ویې غورځاوه، بیا یې له هغې وپوښتل: «د زوی نوم دې څه دی؟» هغې وویل: «سائب».

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نه، بلکې دا عبدالله دی.»

ketabton.com - The Digital Library

له هغه وروسته به چې کله چا په "سائب" غږ ورته کاوه، ده به ځواب نه ورکاوه، خو کله به يې چې په "عبدالله" وباله، ځواب به يې ورکاوه.

ورته وويل شول: «ولې په خپل پخواني نوم ځواب نه ورکوې؟»

ده وويل: «زه يوازې هغه نوم ته ځواب ورکوم چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم راباندې ايښى دى.»

له همدې امله، د اولادونو يو حق پر خپلو والدينو دا دى چې پر هغوى ښه نومونه کېږدي ترڅو کله چې لوى شي، پرې شرمنده نشي. همدا راز د هر چا په شخصيت کې د هغه د نوم اغېز (برخه) وي، نو د خپلو اولادونو لپاره ښه نومونه غوره کړئ!

۸۹ نو الله تري مننه وکړه (عمل يې قبول کړ)!

نبي کريم صلى الله عليه وسلم يوه ورځ خپلو اصحابو ته يوه کيسه وکړه او ويې فرمايل: «يو سړى په لاره روان و چې سخت تږى شو، يو کوهى يې وموند، ورښکته شو، اوبه يې وڅښلې او راووتلو. کله چې راووت، ويې کتل چې يو سپى له سختې تندې ژبه راوباسلې او خاوره څټي!

هغه سړي (په خپل زړه کې) وويل: پر دې سپي هم هغومره تنده غالبه شوې لکه پر ما چې وه. نو ښېرته کوهي ته ورښکته شو، خپله موزه يې له اوبو ډکه کړه، په خوله کې يې ونيوله او راپورته شو، سپي ته يې اوبه ورکړې؛ نو الله تعالى د هغه دا عمل قبول کړ او ګناهونه يې وروبښل!»

اصحابو کرامو دا درس ډېر ښه زده کړى و، هغوى د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د رحمت ژوندۍ ښېلګې وې او د حيواناتو سره د نېکۍ په اړه داسې کيسې لرلې چې د سپينو زرو پر پانو په سرو زرو ليکلو ارزې!

- جليل القدره صحابي **عدي بن حاتم الطائي** به د خپل کور د دېوال ترڅنګ مېړيانو ته ډوډۍ ميده کوله او ويل به يې: «دا زمور ګاونډيان دي او پر مور د ګاونډيتوب حق لري!»
- کله چې **ابو الدرداء** (رض) د مرګ په حال کې و، په انګړ کې يې خپل اوښ ته وکتل چې په ژوند کې يې ترې کار اخيست، ورته ويې ويل: «اى اوښه! د خپل رب په وړاندې له ما څخه شکايت ونه کړې، ځکه ما هيڅکله ستا له وسې پورته بار درباندې نه دى ايښى!»
- يوه ورځ **عمر بن الخطاب** (رض) د ماهي غوښې ته زړه وشو او ويې ويل: «زړه مې د بحر تازه ماهي غواړي.»

خادم يې (يرفأ) د عمر (رض) پر يوه اوښه سپور شو ترڅو ماهي پيدا کړي؛ هغه دوه شپې تګ او دوه شپې راتګ وکړ او ماهي يې راوړ. کله چې عمر (رض) اوښې ته وکتل، ويې ليدل چې د غوږونو لاندې يې خوله کړې ده.

يرفأ ته يې وويل: «تا يو بې ژبې حيوان د عمر د خواهش (نفس) لپاره په عذاب کړى؟ په الله قسم چې دا به هيڅکله ونه خورم، دا ته پخپله وخوره!»

پر الله قسم چې دا يو داسې عظيم دين دى چې انسان يې په پيروۍ سر په فخر لوړوي!

ketabton.com - The Digital Library

که عدي بن حاتم مېړیانو ته ځکه ډوډۍ میده کوي چې د ګاونډ حق لري، نو تصور وکړئ چې له خپلو مسلمانو ګاونډیانو سره به یې چلند څنګه و؟

که ابو الدرداء له اوښ څخه ښنه غواړي چې له وسې پورته بار یې نه دی وربانديې ایښی، نو له خپلې کورنۍ او خادمانو سره به یې اخلاق څنګه وو؟

او که عمر (رض) د خپلې خوښې خوراک ځکه نه خوري چې یو حیوان یې په راوړلو ستړی شوی، نو پر انسانانو به یې شفقت څومره و؟!

"که د هغوی په څېر نه یاست، نو لږ تر لږه ورته ځانونه ورته کړئ؛ ځکه د نېکانو خلکو په څېر کېدل هم بریا ده."

۹۰ اې سواده، برابر شه!

کله چې د بدر غزا شوه، مسلمانان د دښمن مقابلې ته په صفونو کې ودرېدل. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لښکر صفونه کتل او په لاس کې یې یوه لکړه وه چې د صفونو کوږوالی یې پرې سماوه. هغه صلی الله علیه وسلم پر **سواد بن غزیة** تېر شو چې له صف څخه لږ مخکې وتلی و، نو په لکړه یې د هغه په ګېډه (په نغوتې سره) ووهلو او ویې وفرمایل: «اې سواده، په قطار کې سم شه!»

سواد عرض وکړ: «اې رسول الله! تا خو زه دردمن کړم، حال دا چې الله ته په حق او عدل رالېږلی یې؛ نو ماته قصاص راکړه (اجازه راکړه چې بدله درڅخه واخم)!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپله مبارکه ګېډه ورته ښکاره کړه او ویې وفرمایل: «قصاص واخله اې سواده!»

خو سواد (د قصاص پر ځای) رسول الله صلی الله علیه وسلم په غېږ کې ونیوه او د هغه مبارکه ګېډه یې ښکل کړه.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ترې وپوښتل: «اې سواده، ولې دې داسې وکړل؟»

ده وویل: «یا رسول الله! لکه څنګه چې وینئ (د جګړې وخت دی)، نو ما وغوښتل که چېرې زه شهید شم، نو په دنیا کې زما وروستۍ شېبه دا وي چې زما پوستکی ستاسو له مبارک پوستکي سره لګېدلی وي!»

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته د خیر دعا وکړه او ویې وفرمایل: «ځان برابر کړه اې سواده!»

صحابه کرامو له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره تر دې کچې مینه لرله، بلکې تر دې هم زیاته. دا د هغوی د مینې ځینې نورې بېلګې دي:

- جلیل القدره صحابي **ابو محذوره** به خپل ویښتان نه کلول، ځکه یو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه پر سر مبارک لاس راکښلی و؛ هغه دا نه خوښوله چې هغه ویښتان وخرېږي کوم چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لاس ورسره لګېدلی و!

ketabton.com - The Digital Library

- د بدر په ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې تر جګړې وړاندې د انصارو نظر واخلي؛ نو **سعد بن معاذ** ورته وویل: «یا رسول الله! زمور مالونه ستاسو په مخکې دي، هر څه چې غواړئ ترې واخلئ او هر څه چې غواړئ پرېږدئ. کوم څه چې تاسو اخلئ هغه مور ته تر پاتې شویو هغو ډېر ګران دي. که تاسو مور سمندر ته ورګډ کړئ، مور به درسره ګډ شو او یو تن به هم شاته پاتې نشي. مور په جګړه کې صابر او په مقابله کې رښتیني یو؛ نو چېرته مو چې الله امر کړی، مور روان کړئ!»
- د احد په ورځ صحابه کرامو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم چاپېره د خپلو جسدونو دېوال جوړ کړ. **ابو طلحه** د هغه صلی الله علیه وسلم په مخکې ودرېد ترڅو غشی پرې ونه لګېږي او ویې ویل: «زما غاړه ستا له غاړې ځار شه یا رسول الله!»
- کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم **ابوبکر صدیق** (رض) ته خبر ورکړ چې د هجرت اجازه ورته شوې، ابوبکر وویل: «ملګرتیا یا رسول الله؟» هغه صلی الله علیه وسلم وویل: «هو، ملګرتیا اې ابوبکره.» ابوبکر د خوشحالۍ له امله وژړل. عایشه (رضی الله عنها) وایي: «ما تر هغه ورځې نه وو لیدلي چې څوک دې د خوشحالۍ له امله وژړیږي، ترڅو مې چې په هغه ورځ ابوبکر ولید.» د هجرت په لاره کې به ابوبکر کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکې او کله یې شاته روان و؛ کله چې ترې وپوښتل شول، ویې ویل: «کله چې مې د دښمن د تعقیب فکر راشي، شاته دې روان شم او کله چې مې د احتمالي کمین فکر راشي، نو مخکې دې شم!»
- نبي کریم صلی الله علیه وسلم له **ثوبان** څخه وپوښتل: «رنګ دې ولې داسې بدل شوی؟» ده وویل: «یا رسول الله! نه ناروغ یم او نه درد لرم، خو چې کله مو نه وینم، نو تر هغه چې درسره ونه ګورم، ډېر مې زړه تنګېږي!»
- صحابیانې (ښځې) هم په مینه کې تر سړیو کمې نه وې؛ د **ام عمارة** په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د احد په ورځ وفرمایل: «هرې خواته به مې چې وکتل، هغه به مې لیده چې زما په دفاع کې جنګېږي!»
- د احد په ورځ د بني دینار یوې مېرمنې د خپلو عزیزانو پوښتنه کوله، ورته وویل شول چې پلار، ورور او میړه یې ټول شهیدان شوي! هغې وویل: «رسول الله څنګه دي؟» ویې ویل: «هغه روغ دی.» هغې وویل: «ماته یې وښایئ چې ویې وینم.» کله یې چې ولید، ویې ویل: «یا رسول الله! ستاسو له روغ پاتې کېدو وروسته هر مصیبت کوچنی دی!»

۹۱ ترڅو چې د بدلمنو ښځو مخونو ته ونه ګورې!

جریج یو عابد سړی و، ځان ته یې د عبادت ځای (صومعه) جوړه کړې وه او هلته یې د الله عبادت کاوه. یوه ورځ یې مور ورغله، دی په لمانځه ولاړ و، غږ یې کړ: اې جریجه!

جریج په زړه کې وویل: اې ربه! زما مور که زما لمونځ؟ (یعنې کوم یو غوره کړم؟). بیا یې خپل لمانځه ته دوام ورکړ او مور یې ناهیلې ببرته لاړه.

بله ورځ بیا راغله، دی بیا په لمانځه و، غږ یې کړ: اې جریجه!

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې په زړه کې وویل: اې ربه! زما مور که زما لمونځ؟ بیا یې لمانځه ته دوام ورکړ او مور یې لاړه.

په دریمه ورځ هم کټ مټ همدا پېښه تکرار شوه، دا ځل یې مور غصه شوه او ښېرا یې ورته وکړه: «اې الله! تر هغو یې مه مړ کوه چې د بدلمنو ښځو مخونو ته یې نه وې کتلي!»

بیا داسې وشول چې بني اسرائیلو د جریج او د هغه د عبادت کیسې کولې. په دوی کې یوې بدلمنې ښځې وویل چې زه به یې له لارې وباسم. هغه جریج ته ورغله، خو هغه ورته هیڅ پام ونه کړ!

ښځه په خجالت ښېرته روانه شوه، په لاره کې یې یو شپون وموند او له هغه سره یې زنا وکړه چې حامله شوه. کله یې چې ماشوم وزېږېد، خلکو ته یې وویل: «دا د جریج زوی دی!»

خلک ورغلل، دی یې وواهه او عبادت ځای یې ور ونړاوه. کله چې دی پوه شو چې دا پر ده تور دی، ویې ویل: اجازه راکړئ چې لمونځ وکړم!

کله یې چې لمونځ وکړ، هغه شیدې خوړونکی ماشوم یې راوغوښت او ورته ویې ویل: ستا پلار څوک دی؟

ماشوم (د الله په قدرت) په خبرو راغی او ویې ویل: «فلانی شپون!»

خلکو چې دا حال ولید، د جریج ښکولو یې پیل وکړ او ښښنه یې ترې غوښته. دوی ورته وویل چې ستا صومعه به د سرو زرو جوړه کړو، خو هغه ونه منله او ویې ویل: «نه، ښېرته یې د خټو جوړه کړئ لکه څنګه چې وه!»

دا یوه ډېره غني کیسه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته کړې ده. که وغواړو ترې لسګونه درسونه اخیستلی شو، خو زه غواړم دلته یوازې په یوه نقطه ړنا واچوم چې هغه: **د اولادونو په حق کې د مور او پلار ښېرا ده!**

تقدیر په خبرو پورې تړلی وي، مور او پلار باید د غصې پر مهال خپله ژبه کنټرول کړي له بد دعاء (ښېرا) ځان وساتي ځکه دا ښیرا که د قبلېدو له ساعت سره برابره شي، بیا پښېماني ګټه نه لري!

دا ښکاره خبره ده چې میندې د خپلې عاطفې، ژر غصه کېدلو او له اولاد سره د ډېر وخت تېرولو له امله ډېرې ښېراوې کوي. کله یوه زوی ته د بد نصیبۍ ښېراوې کوي، کله لور ته د زړه ماتېدو، کله پر بل د رسوایي... که څه هم هغه دا هر څه په ژبه وایي نه په زړه، خو ژبه د هغه وژونکې ټوپک په څېر ده چې که د قبلېدو ساعت ته برابره شوه، نښه ولي. نو خپلې ژبې وساتئ، اولادونو ته ښېراوې مه کوئ بلکې دعاء ورته وکړئ!

عمر بن الخطاب (رض) یو بوډا سړی ولید چې لاس یې شل و، علت یې ترې وپوښت.

هغه وویل: «دا په جاهلیت کې زما د پلار د ښېرا پایله ده.»

عمر (رض) وویل: «دا د جاهلیت د وخت د پلار ښېرا وه (چې داسې قبوله شوه)، نو په اسلام کې به څنګه وي!»

الزمخشري هم یوه پېښه نه لرله (پرې شوې وه)، کله یې چې ترې وپوښتل، ویې ویل:

«دا زما د مور د ښېرا له امله ده! په وړکتوب کې مې یو چورګورۍ ونیوه او پښه مې ورته په تار وتړله، هغه مې دومره کش کړ چې پښه یې ترې پرې شوه!

مور مې دردمنه شوه او ویې ویل: الله دې ستا پښه داسې پرې کړي لکه د ده پښه دې چې پرې کړه.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې لوی شوم او بخارا ته د علم په طلب پسې روان وم، له مرکب (سوارلۍ) څخه راولوېدم، پښه مې ماته شوه او ډاکټرانو وویل چې باید پرې شي!»

۹۲ نو د هغه د موندلو لپاره تم شو!

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عادت دا و، کله به یې چې د سفر اراده وکړه، نو د خپلو بیبیانو ترمنځ به یې پچه اچوله؛ د هرې یوې نوم به چې په پچه کې راووت، هغه به یې له ځان سره بیوله. یو ځل پچه د حضرت عایشې (رض) په نـوم راووتله. کله چې دوی په دښته کې وو، د هغې امیل (هار) ورک شو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه د لټون لپاره هلته پاتې شو او ورسره مل خلک هم د امیل په لټه کې تم شول. دوی په داسې ځای کې تم شوې وو چې اوبه نه وې او له ځان سره یې هم یوازې د څښاک په اندازه اوبه لرلې.

خلک د هغې پلار (ابوبکر صدیق رض) ته ورغلل او ویې ویل: «اې ابوبکره! نه ګورې چې عایشې څه وکړل؟ نبي صلی الله علیه وسلم او خلک یې په داسې ځای کې تم کړي چې اوبه نشته او د لمانځه وخت هم رانږدې دی!»

حضرت ابوبکر (رض) د حضرت عایشې (رض) خیمې ته ورغی، ویې لیدل چې نبي صلی الله علیه وسلم خپله مبارک سر د هغې پر زنګون ایښی او د غرمې په خوب (قیلوله) بې غمه ویده دی.

ابوبکر (رض) هغې ته وویل: «رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلک دې په داسې ځای کې بند کړل چې اوبه نشته.» او له غصې یې هغه په توشي کې په ګوته ووهله ، خو عایشې (رض) صبر وکړ او له خپل ځایه ونه ښورېدله ترڅو نبي صلی الله علیه وسلم له خوبه وښې نه شي.

بیا نبي صلی الله علیه وسلم راویښ شو، د لمانځه وخت شو او په همدې ځای کې الله تعالی د **«تیمم»** ایت نازل کړ. په دې وخت کې اسید بن حضیر (رض)، حضرت ابوبکر (رض) ته وویل: «اې د ابوبکر کورنۍ! دا ستاسو لومړی برکت نه دی (بلکې تل مو امت ته خیر رسولی).»

خلکو تیمم وکړ او لمونځ یې ادا کړ. کله چې د امیل له موندلو ناامیده شول او د تګ اراده یې وکړه، هغه اوښې یې پورته کړ چې حضرت عایشه (رض) پرې سپره وه، ویې کتل چې امیل د اوښې لاندې پروت دی! هغه یې واخیست او روان شول.

د کیسې پیغام:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ټول لښکر ودراوه او په دښته کې یې خیمې ووهلې ترڅو د خپلې مېرمنې ورک شوی امیل پیدا کړي؛ ځکه هغه پوهېده چې دا امیل د هغې د خوښې امیل ده. د لښکر مسؤلیت او ستونزمن حالات د دې خنډ نه شول چې هغه د خپلې مېرمنې د خاطر ساتنه او د هغې د خوشالۍ لپاره هڅه ونه کړي. هغه له دې ونه وېرېده چې څوک به ووایي: «د خپلې مېرمنې لپاره یې د ټول لښکر مزل وځنډاوه!»

هغه غوښتل مور ته وښیي چې:

- مهربان انسان حتی په سختو حالاتو کې هم مهربان پاتې کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

- د خلکو د زړونو ساتل (جبرانِ خاطر) په هر ډول شرایطو کې ځای لري.
- له مېرمنې سره احسان کول د شخصیت کمزوري نه، بلکې د میړانې نښه ده.
- د هغې د احساساتو مراعات کول د هغې تر اغېز لاندې راتلل نه دي.
- هغه د سړیو سردار و، او دا کار یې یوازې د اخلاقي کرامت او بشپړې میړانې له امله وکړ.

خو ته (اې لوستونکی!)؛ اړ نه یې چې د هغې لپاره لښکر ودروې یا د خلکو لار بنده کړې، خو دا ورته وښیه چې هره ورځ د هغې احساسات تاته ارزښت لري. هغه څه وکړه چې هغه خوشالوي، که وس دې کیږي د هغې له زړه غم لرې کړه. له کوچنیو فرصتونو ګټه پورته کړه ترڅو ورته خپله مینه ثابته کړې. سړی په ډېرو وړو کارونو کولی شي د خپلې مېرمنې زړه وګټي.

د پاملرنې څرګندول په حقیقت کې د مینې څرګندول دي. خپل احساسات وپالئ او له ښکاره کولو یې مه شرمېږئ، ځکه چې زموږ لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم غوره بېلګه ده.

۹۳ پر الله قسم، زه به درته ښښنه وغواړم!

کله چې ابوطالب د مړینې په حال کې و، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته راغی؛ هلته ورسره ابوجهل او عبدالله بن ابي امیه ناست وو. نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «اې تره! 'لا اله الا الله' ووایه، داسې یوه کلمه چې زه پرې د الله په وړاندې ستا لپاره شاهدي ورکړم.»

ابوجهل او عبدالله بن ابي امیه ورته وویل: «ایا ته د عبدالمطلب له دین څخه مخ اړوې؟»

نبي صلی الله علیه وسلم په پرله پسې ډول ورته د کلمې ویلو وړاندیز کاوه، خو هغو دواړو به ورته بیا بیا ویل چې ایا د عبدالمطلب دین پرېږدې؟

تردې چې ابوطالب وویل: «زه د عبدالمطلب پر دین یم»، د کلمې له ویلو یې انکار وکړ او په همدې حال کې مړ شو.

نبي صلی الله علیه وسلم وویل: «پر الله قسم، زه به تاته تر هغو ښښنه غواړم ترڅو چې ترې منع شوی نه یم!»

نو الله تعالی دا ایت نازل کړ: «نبي او مومنانو ته دا نه ښایي چې د مشرکانو لپاره ښښنه وغواړي، که څه هم هغوی یې نږدې خپلوان وي، وروسته له هغه چې ورته څرګنده شوه چې هغوی د دوزخ خاوندان دي.»

- د کیسې پیغام:

تقریباً کال نه تېریږي مګر دا چې په نړۍ کې یو داسې عالم مړی چې بشریت تـه یې پـه طب یـا انجنیرۍ کې لـوی خدمتونه کړي وي، خو هغه پر اسلام نه وي. په دې وخت کې ځینې داسې مسلمانان چې د انساني زړه سوی او بشپړې عقیدې ترمنځ توپیر نه شي کولی، په خبرو پیل کوي. دوی هغه سړی داسې جنت ته لېږي لکه د جنت کلي چې د دوی په لاس کې وي. یو یې وایي: «خنګه به الله هغه چاته عذاب ورکوي چې دوا یې جوړه کړې او د خلکو درد یې کم کړی؟

ketabton.com - The Digital Library

ایډیسن به څنګه اور ته اچوي چې نړۍ ته یې برنا ورکړه؟» داسې چې ګواکې د جنت کلي د یوې دوا یا ګروپ په اختراع پورې تړلې ده.

بل خوا ته داسې مسلمانان هم شته چې د دغه ډول عالم لپاره د اور پریکړه کـوي، لکـه دوی چې د دوزخ د کلي ګـانو مالکان وي. دواړه لوري پر غلطه دي، که څه هم د دویمې ډلې غلطي تر لومړۍ هغې کمه ده.

مور د علم او عالمانو درناوی کوو او د بشریت لپاره د هغوی د خدمتونو قدر کوو، خو دا یو جلا بحث دی او جنت او دوزخ جلا بحث دی! له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د ابوطالب دفاع د یوې دوا یا ګروپ له اختراع څخه ډېره مهمه وه، خو دغې دفاع هغه ته نجات ورنه کړ ځکه چې په شرک مړ شو. داسې مسایلو ته باید د **عقیدې** له زاویې وکتل شي نه لهعاطفې**زاویې**؛ او په دې کلک باور پکار دی چې له الله تعالی څخه بل هیڅوک ډېر عادل او مهربان نشته.

همدارنګه، دا د الله په وړاندې بې ادبي ده چې مور د یو ځانګړي کس لپاره د دوزخ پریکړه وکړو؛ بلکې مور په عمومي ډول وایو: «څوک چې د اسلام تر رسېدو وروسته بیا هم پر هغه ایمان رانه وړي او په کفر مړ شي، هغه دوزخي دی.» په دې باور چې په پای کې هر څه د الله په واک کې دي، که یې خوښه وي عذاب ورکوي او که یې خوښه وي ښښنه ورته کوي.

له خلکو به په قبر کې د بربښنا، درملو او پلونو په اړه پوښتنه نه کیږي، بلکې هلته به یوازې د عقیدې پوښتنه وي. مور باید د خپل دین د ثابتو مسایلو او د انساني زړه سوي ترمنځ غلط نشو. راځئ له الله سره د ادب لاره غوره کړو او د ځانګړو اشخاصو په اړه قضاوت ونه کړو، بلکې د خپل دین هغه صریح حکم ته غاړه کېږدو چې فرمایي: «او هر څـوک چې لـه اسلام پرته بل دین لټوي، نو له هغه څخه به هیڅکله ونه منل شي او په اخرت کې به له زیانمنو څخه وي.»

۹۴ که چېرې دا ستا په کور کې وای!

یو سړی په جومات کې په لمانځه ولاړ و، کله چې سجدې ته لاړ، نو په ډېر تیز زګېروي او غږ یې وژړل. د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي **ابو امامه الباهلي (رض)** ورغی او ورته ویې ویل: «دا (ژړا) به څومره ښه وه، که چېرې ستا په خپل کور کې وای!» (یعني د خلکو له سترګو لرې او یوازې د الله لپاره).

مسلمانانو د رومیانو یو کلا محاصره کړې وه؛ محاصره اوږده شوه او د مسلمانانو انتظار ډېر شو. د دښمن غشو مسلمانان سخت ځپلي وو. په دې وخت کې یو مجاهد په پټه د کلا یوې څنډې ته لاړ، هلته یې یو تونل (سورنګ) ومندلو، پرته له دې چې څوک پرې خبر شي کلا ته ننوت. هغه په ساتونکو برید وکړ او تر هغو ورسره په جګړه بوخت و، ترڅو چې یې دروازه خلاصه کړه. لښکر ورننوت او الله تعالی مسلمانانو ته بریا ور په برخه کړه.

د لښکر قومندان **مسلمه بن عبدالملک** غږ وکړ: «د تونل خاوند (هغه مېرنی چې کلا ته ننوتلی و) ماته دې راشي!»

خو هیڅوک رانغلل.

بیا یې وویل: «زه د خپل امارت په حق تاسو ته قسم درکوم چې د تونل خاوند دې ماته راشي.»

خو بیا هم څوک ورنغلل.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې شپه شوه، یو ساتونکی د مسلمه بن عبدالملک خیمې ته ورغی او ویې ویل: «یو سړی په دروازه کې ولاړ دی او وایي چې زه د تونل د خاوند له لورې راغلی یم.»

مسلمه په بیړه اجازه ورکړه او ورته ویې ویل: «د تونل خاوند څوک دی؟»

سړي وویل: «هغه یو څو شرطونه لري، تر هغه چې هغه ونه منئ، ځان نه ښیي.»

مسلمه وویل: «شرطونه یې څه دي؟»

سړي وویل: «دا چې ته به د هغه په اړه بیا پوښتنه نه کوې، د هغه په لټه کې به نه کېږې او خپل مجلس ته بـه یې نـه راغواړي.»

مسلمه وویل: «دا شرطونه مې ومنل، اوس ووایه چې هغه څوک دی؟»

سړي وویل: «د تونل خاوند زه یم؛ نو نور زما په اړه پوښتنه مه کوه، مه مې لټوه او خپل مجلس ته مې مه راغواړه!»

سړی دا خبره وکړه، له خیمې ووت او د لښکرو په منځ کې ورک شو.

له هغې وروسته به مسلمه بن عبدالملک تل په دعا کې ویل: «اې الله! زما حشر د تونل له خاوند سره وکړه!»

د کیسې پیغام:

دا اړینه نه ده چې ته خپل هر نېک کار مستند کړې او خلکو ته یې وښایې؛ الله تعالی ملائکو ته دا دنده ورکړې ده، نو ډاډه اوسه، ستا عمل لیکل شوی او اجر دې خوندي دی!

دا ضروري نه ده چې خلک ستا هره صدقه وګوري، یا خبر شي چې تا د کوم وړې نس مور کړی، د کوم ارمن مرسته دې کړې، د چا ترمنځ دې سوله کړې، د چا اوښکې دې وچې کړې او یا دې د کوم مظلوم حق اخیستی دی. که الله په خپله ستا کوم نېک عمل ښکاره کړ، نو دا یې کرم دی، خو که ستا په وس کې وي چې عمل پټ وساتې، نو مه یې ښکاره کوه.

ځکه ډېر داسې نېک کارونه شته چې کله خلک پرې خبر شي، نو د هغه تر شا نیت فاسد شـي. کلـه ناکلـه انسـان (پـه ناخبرۍ کې) له خلکو د اجر تمه پیدا کړي او په دې سره یې عمل ضایع شي. په حدیث قدسي کې راغلي چې الله تعالی فرمایي: «زه له شرک څخه تر ټولو غني او بې نیازه یم؛ چا چې داسې عمل وکړ چې له ما سره یې پـه کې بـل څـوک شریک کړ (یعنې د خلکو لپاره یې وکړ)، نو زه هغه او د هغه شرک دواړه پربردم (عمل یې نه منم).»

۹۵ ستاسو لوري ته به اُویس بن عامر راشي!

د حضرت عمر بن الخطاب (رض) د خلافت په وخت کې به چې کله هم له یمن څخه کومه ډله (وفد) راغله، نو ده به تري پوښتنه کوله: «ایا په تاسو کې اُویس بن عامر شته؟»

هغوی به ویل: «نه».

ketabton.com - The Digital Library

تردې چې یو ځل بیا له یمن څخه یو وفد راغی، عمر (رض) خپله پخوانۍ پوښتنه تکرار کړه: «ایا په تاسو کې أُویس بن عامر شته؟»

ورته وویل شول: «هو، هغه دی أُویس بن عامر!»

عمر (رض) ورغی او ترې ویې پوښتل: «ته أُویس بن عامر یې؟»

هغه وویل: «هو».

عمر (رض) وویل: «د مُراد (قبیلې) او بیا د قرن (ښاخ) څخه یې؟»

هغه وویل: «هو».

عمر (رض) وویل: «تاته د برص (سپینې) ناروغي وه او بیا ترې روغ شوې، خو د یو درهم په اندازه ځای دې پاتې دی؟»

هغه وویل: «هو».

عمر (رض) وویل: «مور لرې چې ته ورسره ډېر نېک چلند (نیکي) کوې؟»

هغه وویل: «هو».

عمر (رض) وویل: «ما له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي وو چې فرمایل یې: ستاسو لوړې ته به د یمن له خلکو سره یو ځای أُویس بن عامر راشي، چې د مراد او بیا د قرن له ټبر څخه به وي، هغه ته به د برص ناروغي وي او ترې روغ به شي خو د یو درهم په اندازه ځای به یې پاتې وي، هغه یوه مور لرې چې دی ورسره ډېره نیکي کوي؛ که هغه پر الله قسم وخوړې، نو الله به یې قسم رښتونی کړې (اراده به یې پوره کړې). نو که دې وس کېده چې هغه درته بښنه وغواړي، نو دا کار وکړه! (اې اویسه) زما لپاره بښنه وغواړه.»

نو أُویس د حضرت عمر (رض) لپاره بښنه وغوښته. بیا عمر (رض) ترې وپوښتل: «چېرته تلل غواړې؟»

أُویس وویل: «کوفې ته».

عمر (رض) ورته وویل: «ایا د کوفې والي (حاکم) ته لیک درکړم چې ستا سپارښتنه ورته وکړم؟»

أُویس وویل: «نه، زه غواړم د عامو خلکو په منځ کې وم او څوک مې ونه پېژني!»

د کیسې پیغام:

کله چې ته له ساده او غریبو مسلمانانو سره چلند کوې، دا کیسه یاد ساته؛ ښایي په هغوی کې کوم داسې «أُویس» وي چې هیڅوک یې نه پېژني، خو که پر الله قسم وخوړې، الله یې نه خجالتوي!

ته څه خبر یې، شاید د ښارواليِ یو ساده کارګر د الله په وړاندې داسې مقام ولرې چې ستا له پېژندل شویو مشهورو کسانو څخه یې چا نه وي موندلی؟

ته څه خبر یې، هغه د سبزیو پلورونکی چې ته ترې په ډېره تېرېږې، شاید یوه ناروغه مور لرې چې دی یې خدمت کوي، شاید د شپې داسې تهجد کوي چې مقام یې اسمانونو ته رسولی وي، او داسې پټ عبادتونه لري چې ستا له سترګو پټ خو الله ته څرګند دي؟

ketabton.com - The Digital Library

ته څه خبر یې، شاید د یو ټکسي ډرایور د خپل مړه شوي ورور د یتیمانو د پالنې، د شپې او ورځې د قرآن کریم د تلاوت او د هغه پاک زړه له امله چې د ټولو خلکو خیر غواړي، په جنت کې خپل ځای لا دمخه بوک کړی وي؟

دا هیڅ خندې نه دی چې د الله دوستان (اولیاء) دې ډاکټران، انجنیران، وزیران یا مشهور خلک وي؛ خو اصل خبره دا ده چې هیڅوک باید سپک ونه ګڼي او ظاهر دې تېر نه باشي. عمر بن الخطاب (رض) هره ورځ د أُویس القرني په لټه کې و، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم د هغه په اړه خبر ورکړی و. نو څومره «أُویسان» به وي چې یوازې الله یې پېژني، مور ورځخه هره ورځ تېرېږو خو هیڅ پام ورته نه کوو... د خلکو د تللو معیارونه دې بدل کړه!

۹۶ لکه څنګه چې ونه خپلې پانې رژوي!

حضرت عبدالله بن مسعود (رض) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورغی، ویې لیدل چې هغه مبارک په تبه اخته دی او درد لري. ورته ویې ویل: «اې د الله رسوله! ته په ډېره سخته تبه اخته یې!»

نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «هو، زه په داسې تبه اخته یم لکه ستاسو دوه کسان چې اخته یې.»

ابن مسعود (رض) وویل: «دا له دې امله چې تاته دوه چنده اجر درکړل شي؟»

نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هو، همداسې ده. هیڅ داسې مسلمان نشته چې هغه ته کوم تکلیف ورسیږي، که هغه یو اغزی وي او یا تر هغه پورته؛ مګر دا چې الله تعالی د هغه په بدل کې د ده ګناهونه داسې رژوي لکه ونه چې خپلې پانې رژوي!»

د کیسې پیغام:

